<u>ایک معزز رکن:</u> پانچ سو اکتالیس۔

<u>جناب عبدالاکبر خان:</u> ہاں Sorry، 541 بلین PSDP ہے، اگر 14 پرسنٹ کے حساب سے آپ کا تقریباً ستر، بہتر ارب روپیہ PSDP میں بنتا ہے لیکن آپ کی Total allocation نو، دس بلین سے زیادہ نہیں ہے جناب سپیکر، دس بلین اور ستر، اسی بلین، تقریباً ساٹھ، ستر بلین کا فرق ہے۔ کیوں ہم سکیمیں نہیں بنا سکتے کہ ان کے پاس بھیج دیں؟ کیا ہم ان سے Claim نہیں کر سکتے کہ 14 پرسنٹ کے حساب سے ہمارا اتنا پیسہ بنتا ہے؟ ہر سال PSDP میں ہمیں پانچ، چھ بلین کی سکیمیں ملتی ہیں یا پیسہ ملتا ہے اور باقی جو چار سو، پانچ سو، ابھی تو پانچ سو اکتالیس، تقریباً ساڑھے پانچ سو بلین کا PSDP ہے، تو 14 پرسنٹ کے حساب سے تو ہمارا اتنا Claim بنتا ہے، بنائیں نا سکیم، لے جائیں وہاں پر سکیم کو، لے جائیں، ان کو بتا دیں کہ ہمارا شئیر آپ کے ساتھ ہے، اس پہ اگر آپ نہیں کرتے تو PSDP میں ہمارے لئے کریں۔ جناب سپیکر! لیکن اس چیز کو آپ نے حل کرنا ہے کیونکہ لاکھوں لوگوں کو روزگار مل جائے گا۔ آپ کی جو غذائی پرابلم ہے، وہ بھی حل ہو جائے گا اور آپ کے پاس پانی بھی ہے، زمین بھی ہے اور ایسی زمین ہے کہ صرف وہ پانی کے انتظار میں ہے۔ جناب سپیکر! اب میں ڈویلپمنٹ کی طرف آتا ہوں اور ڈویلپمنٹ بجٹ جب بھی بنایا جاتا ہے جناب سپیکر، تو گورنمنٹ کی Focus ہوتی ہے کہ وہ Focus ان کی کیا ہے۔ گورنمنٹ کی جو Directions ہوتی ہیں، ان Directions سے اندازہ ہوتا ہے کہ گورنمنٹ کس Direction پہ جا رہی ہے، کس کس Direction پہ ڈویلپمنٹ کر رہی ہے؟ اب جناب سپیکر، پچھلے سال کا ٹوٹل اے ڈی پی 39 بلین یعنی انتالیس ارب روپے تھا لیکن Actual جو ہوا، وہ بتیس بلین یعنی سات Seven billion shortfall آپ اس سال کہتے ہیں کہ ہم 41 بلین خرچ کر رہے ہیں جو پچھلے سال کا 4 Percent increase ہے لیکن جب ہم دیکھتے ہیں اس کو کہ 39 میں آپ 32 خرچ کر سکیں یا ملیں تو آپ 41 کیسے خرچ سکیں گے، آپ کو کیسے ملیں گے؟ جب ادھر آپ نے 7 بلین کا Short fall کیا، تو Naturally یہ Short fall بھی آپ کے پاس آئے گا تو اس کا مطلب ہے کہ یہ 41 بلین کی یہ اے ڈی

پی نہیں ہے یا سات، آٹھ ارب کم کی اے ڈی پی ہے یا تینتیس یا چونتیس ارب کی اے ڈی پی ہے جناب سپیکر۔ اب ٹوٹل بجٹ اور ایک چیز میں فوڈ منسٹر صاحب ہمیں بتائیں گے کہ ٹوٹل بجٹ Last year 114 billion تھا، آپ نے 170 بلین کیسے دیا؟ یہ تقریباً 60 ارب کی جو Extra resource ہے، یہ آپ کے پاس کہاں سے آئی؟ کیونکہ جب ہم Divisible pool میں دیکھتے ہیں تو وہاں پر بارہ، تیرہ ارب روپے کا Increase ہے لیکن جب آپ بجٹ میں دیکھتے ہیں تو آپ تو 114 بلین کے بجائے، آپ کہتے ہیں کہ 170 ارب روپے ہمارا بجٹ ہوگا تو خدا کیلئے کیا آپ Fictitious figure پیش کر کے کس کو دھوکا دینا چاہتے ہیں؟ آپ ایسی Figure پھر کیوں پیش کرتے ہیں کہ جب آپ ستر بلین، ساٹھ بلین کی Excess اپنے بجٹ میں خواہ مخواہ دکھا رہے ہیں جبکہ آپ کے پاس Resources نہیں ہیں اس کے۔ دوسری جناب سپیکر، اکاونٹ۔2 ہے میرے خیال میں فوڈ کا، اکاونٹ۔2 میں 6 billion last year تھے، This year 57 billion تو اکاونٹ۔2 میں 6 بلین سے فوڈ کا جو ہے، وہ 6 بلین سے 57 بلین، یہ Almost تقریباً پچاس، اکاون ارب آپ نے زیادہ اس میں Show کر دیئے ہیں کہ یہ زیادہ ہم Receipt بھی کریں گے اور Expansion بھی، یہ تو نہیں ہے کہ لوگوں کو گندم بیچ کر ان سے پیسے لے کر آپ اس کو Receipt میں دکھاتے ہیں اور پھر اس کو آپ ڈیبیٹ میں دکھاتے ہیں۔ جناب سپیکر! اب ہم ایجوکیشن پہ آتے ہیں۔ جناب سپیکر، میں وزیر اعلیٰ صاحب کی توجہ چاہتا ہوں کہ دیکھیں جی ہمارا جو Literacy rate ہے، وہ بہت تیزی سے گر رہا ہے بلکہ اگر گر نہیں رہا ہے تو بڑھ نہیں رہا ہے، تو چاہیے یہ کہ ہمارا فوکس پرائمری ایجوکیشن پر ہونا چاہیے تاکہ بچے سکولوں میں تعلیم حاصل کریں لیکن اس سال کی جب ہم اے ڈی پی دیکھتے ہیں تو اب جناب سپیکر، پرائمری کیلئے 60 کروڑ ٹوٹل آپ کے سکولز کا بجٹ ہے لیکن Allocation this year 15 corers اس کا مطلب ہے کہ ہر پرائمری سکول آپ کا چار سال میں بنے گا یعنی اگر ساٹھ کروڑ کا بجٹ ہے اور پندرہ کروڑ آپ Allocate کر رہے ہیں تو اس کا مطلب یہ ہے کہ یہ چار سال میں آپ کا ایک پرائمری سکول مکمل ہوگا۔ دوسری جناب سپیکر، اگر آپ پرائمری ٹو مڈل دیکھیں، تو چالیس کروڑ کا بجٹ جو اس کا کاسٹ لگایا ہے، اس میں دس کروڑ کا Allocation ہے تو یہ بھی چار سال، اب اگر ہائی سکول کا دیکھیں، تو یہ پچاس کروڑ کا انہوں نے ٹوٹل اس کا Estimate لگایا ہے اور Allocation 7.5 corers ہے، تو اب اگر ٹوٹل اس کا، پرائمری اینڈ سیکنڈری دونوں کی میں بات کر رہا ہوں، ایک سو پچاس کروڑ روپے کاسٹ ہے اور بتیس کروڑ روپے آپ کی Allocation ہے تو اس

حساب سے تقریباً پانچ سال یا ساڑھے چار سال بنتے ہیں، تو اب جناب سپیکر، جو سکول آج سٹارٹ ہو گا، وہ چار سال کے بعد مکمل ہو گا، تو ہم کیسے کہہ سکتے ہیں کہ ہم اپنے لیٹریسی ریٹ کو بڑھائیں گے؟ لیکن دوسری طرف آپ اگر سوچیں تو جو ہائیر ایجوکیشن کے منسٹر ہیں، شاید وہ تیز ہوں گے، تو ہائیر ایجوکیشن کیلئے 61 کروڑ رکھیں، اب جناب سپیکر، کیا ہمارا فوکس پرائمری ایجوکیشن پہ ہے کہ ہائی ایجوکیشن پہ ہے؟ کیا ہماری Requirement نیچے لیول پر لیٹریسی ریٹ کو بڑھانا ہے یا مطلب ہے کہ اوپر کرنا ہے؟ اب اگر آپ پرائمری اور سیکنڈری دونوں پر بتیس کروڑ روپے خرچ کرتے ہیں اور ہائیر ایجوکیشن، کالجز پر آپ 61 کروڑ یعنی More than double تقریباً ڈبل جو ہے، آپ اس پر خرچ کرتے ہیں تو اس کا مطلب ہے کہ آپ کی Attention، آپ کا فوکس ہائیر ایجوکیشن پر ہے، پرائمری ایجوکیشن پر نہیں ہے جبکہ Requirement آج آپ کی پرائمری ایجوکیشن کی لیٹریسی ریٹ کو آپ نے بڑھانا ہے۔ جناب سپیکر! پھر کہتے ہیں کہ جی اب کیا آپ کا فوکس اربن ڈیویلپمنٹ پہ ہے؟ کیا آپ کا فوکس رورل ڈیویلپمنٹ پہ ہے؟ یہی تو ہماری پرابلم ہوتی ہے کہ آج سارے روڈز پر ٹریفک کو دیکھیں تو حیات آباد سے آپ آتے ہیں تو 45 منٹ سے کم میں آپ نہیں پہنچ سکتے، اتنی زبردست ٹریفک اور رش ہے، اسلئے کہ سارے لوگ پشاور کو آرہے ہیں۔ کیوں آرہے ہیں؟ کہ آپ نے ساری چیزیں پشاور کے اندر ڈالنی شروع کر دیں۔ I am very sorry، وہ پشاور نہیں، اس سائڈ پشاور کی بات کرتا ہوں تو اب جناب سپیکر، صرف، پشاور کے اربن ڈیویلپمنٹ کی جو On going schemes ہیں، 157 کروڑ صرف، یہ ان سکیموں کے علاوہ ہے کہ جو ہمیں دو پرائمری سکول ملتے ہیں، تو بشیر خان کو بھی دو ملیں گے، ظاہر شاہ کو بھی ملیں گے، یہ اس کے علاوہ ہے، ہمیں دو کلو میٹر روڈ ملتے ہیں تو ان کو بھی دو کلو میٹر روڈ ملتے ہیں، وہ اس کے علاوہ ہے، 157 کروڑ روپے پراونشل بجٹ سے یہ جو Specific Peshawar کیلئے ہے، وہ آپ کی On going ہے اور 70 کروڑ روپے اس سال اس کیلئے رکھیں، تو یہ 227 کروڑ بنتے ہیں، پشاور میں ہم بھی رہتے ہیں، یہاں ہمارے دوست ہیں، ہمارے بھائی ہیں، ہم یہ نہیں کہتے لیکن اگر آپ Attention صرف اربن پر مرکوز کریں گے تو پھر رورل ایریا سے لوگ ادھر شفٹ ہوں گے، جب زیادہ ڈیویلپمنٹ ہو گی تو لوگ مزدوری کیلئے یہاں آئیں گے، سب کام کیلئے آئیں گے تو یہاں پر رش ہو گا جو آپ کیلئے پرابلم Create کرے گا۔ اس کے بجائے اگر آپ رورل ایریا کی ڈیویلپمنٹ پہ فوکس کر لیں تو وہاں پر لوگوں کو جب سہولیتں اور آسانیاں ملیں گی تو وہاں پر وہ بلاک ہو جائیں گے وہ پھر شہروں کا رخ نہیں کریں گے لیکن اگر اس طرح آپ کی فوکس اور

Attention ہے کہ ہم صرف اربن ڈیویلپمنٹ پہ یا پشاور کی ڈیویلپمنٹ پہ زیادہ خرچ کرتے ہیں تو پھر تو رورل ایریا ایک طرف Neglect ہو جائے گا، ان کو پورا شیئر نہیں ملے گا اور تیسری بات یہ ہے کہ یہاں پر جو لوگوں کی آمد ہے، وہ اور Increase ہو گی اور جو آپ کا Infrastructure ہے، سکول، ہسپتال، سڑکیں ہیں، وہ آپ کیلئے مصیبت بنا دیں گی۔ جناب سپیکر! جو آپ نے ایگریکلچر کیلئے 1.8 percent of the total ADP رکھا ہے، دیکھیں جی جب ہم کہتے ہیں کہ اس صوبے کے ستر، پچاسی فیصد لوگ ایگریکلچر سیکٹر سے وابستہ ہیں اور جب ہم ان کی ڈیویلپمنٹ کیلئے ٹوٹل اے ڈی پی کا 1.8 پرسنٹ یعنی دو پرسنٹ سے کم اب اگر ہم ایگریکلچر کے رکھیں، آپ جناب سپیکر، دیکھیں Termite اور Fruit fly کیلئے کتنا پیسہ ہر سال رکھ رہے ہیں، پتہ نہیں وہ خرچ بھی ہو رہا ہے کیونکہ نہ Fruit fly ختم ہوا اور نہ ہی Termites ختم ہوئے بلکہ آج آپ جو پھل کھا رہے ہیں، میں آپ کو گارنٹی دیتا ہوں کہ 90 پرسنٹ آپ کے جو پھل ہیں، وہ Infected ہیں فروٹ فلائی سے، ہاں جی۔ جناب سپیکر! میں آپ کا زیادہ وقت نہیں لوں گا لیکن پھر آپ سے درخواست کروں گا کہ اس بجٹ کو ریگولیٹ کرنے کیلئے یہ آپ پر ذمہ داری عائد ہوتی ہے کہ آپ ایک ایکٹ بنائیں اور اس ایکٹ کے ذریعے اس بجٹ کو ریگولیٹ کریں تاکہ آئندہ کیلئے آپ کے جو کروڑوں اربوں روپے جو اسطرح بجلی، پی او ایل اور سی این جی اور پتہ نہیں کس کس چیز پر ضائع ہو رہے ہیں، وہ اس صوبے کو واپس ملیں۔ میں آپ کا انتہائی مشکور ہوں۔ تھینک یو جناب سپیکر۔

(تالیاں)

<u>جناب سپیکر:</u> شکریہ، عبدالاکبر خان۔ اسی طرح تھوڑی محنت کیا کریں۔ زمین خان، پلیز۔

<u>Mr. Mohammad Zamin Khan</u>: Thank you, Mr. Speaker for providing me an opportunity to speak on the very important subject of the Budget of this Province. مسټر سپیکر! د دے نه مخکښ چه زۀ په دے بجټ باندے د خپل کم عقل مطابق خپل حکومت وقت ته، وزیر خزانه ته او وزیراعلیٰ صاحب ته خپل یو څو تجاویز ورکړمه، د دے ایوان توجه د یو ډیر اهم ایشو صرف ته را ګرځول غواړم چه هغه د دے ایوان پرون نه هغه بله ورځ اوچته کړے وه۔ یو څو دا چه هغه بله ورځ زۀ څه ټائم کښ لږ بهر وتے وومه نو دے اسمبلئ یو ریزولیوشن پاس کړے دے د کنکرنټ لسټ متعلق، نو زۀ د کنکرنټ لسټ باره کښے صرف دا ګزارش کول غواړمه چه واقعی چه د پختونخوا صوبے سره به د پخوا را سے ظلم، زیادتے کیدو او چه کوم ډیمانډز به د دے ځائے نه تلل، دے

اسمبلئ به څه ریزولیوشن پاس کول خو په مرکز کښې به پرے عمل نه کیدو، که هغه د دے صوبے نوم بدلول وو او که هغه د کنکرنټ لسټ ختمول وو او که هغه د کالاباغ ډیم ایشو وه خو نن د پاکستان پیپلز پارټئ مرکزی چیئرمین، زرداری صاحب او پاکستان پیپلز پارټئ، زما خو خپله دا خواهش وو او دا مے سوچ وو چه زۀ به د اسمبلئ په سیشن کښے په اوله ورځ پاسمه او د دے پختون غریب قوم د زړه چه کوم آواز دے چه د پختونخوا نوم جوړول او د کنکرنټ لسټ خاتمه، نو زۀ به دا یو ریزولیوشن پخپله پیش کومه خو هغه زمونږ چه کوم خواهش وو او کوم پیاس وو او د دے صوبے، د دے ټول معزز ایوان د دے ټولو ممبرانو او د دے ټول پختون قام چه کوم خواهش وو، نو د دے نه مخکښې چه مونږه هغه ټیبل کوو او مونږه ریزولیوشن پیش کوو، هغه زرداری صاحب په یو آئینی پیکج کښې شامل کړے دے او هغه آئینی چه کوم پیکج دے، د Constitution په Fourth Schedule کښې هغوی دغه کنکرنټ لسټ، زما سره راسره دے که څوک ممبران صاحبان ئے غواړی نو دا په آرټیکل 77 کښې دادغه دے۔ Amendment of the fourth schedule to the Constitution. In the Constitution in the Fourth Schedule, in the Concurrent list entries فلانه، فلانه shall be omitted نو هغه بله ورځ چه کوم ریزولیوشن پاس شوے دے نو دا هم ډیره ښه خبره ده چه زما دے نورو ممبرانو، دے ملګرو، دے ایوان هغه ریزولیوشن پاس کړے دے او لیږلے ئے دے خو دے نه مخکښې هغه Already په دے Constitutional package کښې شامل دے او دا داسے Constitution package راغلے دے چه زما په خیال که مونږه دا انډیکس اوګورو نو دا نه صرف د دے صوبے بلکه د هغه محرومو قومونو د هغه احساس محرومی د ختمولو د پاره او د دے ټول ملک د دے مسائلو ختمولو د پاره یو ډیر خائسته پیکج راوړلے شوے دے او اګرچه زما بعضے ملګری په دے باندے څه اعتراضات لری او څه سوچ پرے لری نو زۀ وایمه چه داخو بغیر د سوچ نه پاس کول پکار دی ځکه چه په دے ملک کښې که د ججانو د Restoration خبره ده او که دیکښې دغسے نور چه کوم مسائل دی نو د هغے حل ټول په دے آئینی پیکج کښې شامل دے۔ Thank you, Sir. یوه بله ډیر اهم خبره زۀ د وزیر اعلیٰ صاحب په نوټس کښې راوستل غواړمه چه پرون "آج"

اخبار کښې د جیلونو متعلق یو خبره راغلے ده چه "صوابی جیل میں قیدیوں کی ہنگامہ آرائی اور توڑ پھوڑ_کاشف شیرین"۔ "یہ دو ساتھیوں کے درمیان جھگڑا ہوا جس میں ایک نے خود کو بلیڈ سے زخمی کر دیا، سپرنٹنڈنٹ جیل نے مخالفین سے پیسے لیکر تشدد کا نشانہ بنایا"۔ زما عرض په دے کښې دا دے چه دے کښې وائی چه پابند سلاسل یو قیدی دے او هغه په صوابئ جیل کښې دے نو Under the law چه کله Life imprisonment یو سړی ته Convict شی نو Under the law he can not be kept in sub jail or District jail, دے به په سنټرل جیل کښې پاتے کیږی۔ یو طرف ته خو دا سړے په دغه ځائے کښې په غلطه طریقه باندے ناست دے، بل طرف ته هغه وائی چه زما نه سپرنټنډنټ جیل پیسے غوښتے او هغه په مخالیفینو باندے په ما تشدد اوکړو۔ زما مطلب د دے خبرے دا دے چه زمونږه د امن و امان چه کوم صورتحال خراب دے، په دے صوبه کښې چه کوم څه کیږی د لاء اینډ آرډر په حواله سره، که هغه د پولیس په دائره اختیار کښې راځی او که هغه د پریزن ډیپارټمنټ په دائره کار کښې راځی نو دلته چونکه چه کوم خلق ناست دی، د وزیر اعلیٰ صاحب په نوټس کښې دا خبرے راولم او بل زهٔ د دوئ په نوټس کښې راولمه چه کوم خلق حقدار دی، کوم خلق چه Senior most دی، کوم چه Honest خلق دی، کوم خلق چه د دے صوبے، د دے قام په ښه طریقه خدمت کولے شی نو هغوی sideline شوی دی نو پکار دا ده، زما درخواست دے چیف منسټر صاحب ته د دے ټول معزز ایوان په وساطت سره او ستاسو په وساطت سره چه They should be posted at the right place جی۔ یوه بله خبره، موجوده چه کوم آئی جی پریزن ناست دے سر، مخکښې به داسے کیدل چه دا کوم کنټریکټس به ورکیدل د قیدیانو د خوراک د پاره، د فوډ د پاره یا څه به چه وو، نو هغه به د هر جیل سپرنټنډنټ پخپله باندے کول۔ اوس چه کوم موجوده آئی جی راغلے دے ناست دے، اګرچه هغه مخکښې نه ناست دے خو د دوئ په نوټس کښې راولمه ځکه چه اوس خو مونږه دلته ناست یو، هغه داسے شے کړے دے چه د ټولو سپرنټنډانو نه ئے اختیار اغستے دے چه تاسو به Food items نه آخلئ، دا به زهٔ Purchase کومه ځکه هغه نظام ئے ټول Centralize کړے دے، Powers ئے د ټولو سپرنټنډانو نه اغستی دی، اوس د څه د پاره ئے کړی دی؟ په دے باندے مونږه او تاسو ټول ښه پوهه یو ځکه چه د هغه

پکښې خپل هم هغه دغه پورا کیږی۔ د دے وجه نه زما درخواست د دے ایوان په Through باندے وزیراعلیٰ صاحب ته دا دے چه پکار دا ده چه مونږه Honest او مستحق خلق راولو چه دا مسئلے د دے صوبے حل کړے شی۔ ډیره مننه۔
جناب سپیکر صاحب! زهٔ اوس شارټ غونتے تقریر کومه ځکه چه۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> لږ مختصر، مختصر کوه۔

<u>جناب محمد زمین خان:</u> ما چه کومے خبرے کول غوښتے نو هغه عبدالاکبر خان۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> زمین خان، لږ مختصر کړئ جی۔

<u>جناب محمد زمین خان:</u> بل زهٔ جی پخپله باندے هم روان یمه، دوه درے خبرے به صرف کول غواړمه۔ سر جی! هغه بله ورځ I was hit while listening the budget speech of my honourable Minister for Finance. هغوی وئیل چه دا سرپلس بجټ دے نو که In depth اوګورو نو دا Deficit budget دے خو زهٔ د دے ته سرپلس بجټ وایمه خو دا درخواست ورته کوم چه دا کوم Surplus money ده نو زما هغه داسے علاقه ده چه په دے تیرو شپیتو کالو کښے که هلته ممبر راغلے دے نو هغه همیشه په اپوزیشن کښے ناست دے، زما د بونیر نه معزز ورور یو ډیر ژړه فریاد اوکړو، وائی چه سابقه سپیکر صاحب هلته ډیر کارونه کړی دی او زما په دے دور کښې پکار دی، زهٔ وایمه زما هغے کښې د وی، زهٔ د نه کوم، زما نه د مخکښې شوے وے خو چه هغه علاقے ته د ترقی راغلے وے، هغے ته چه ډیویلپمنټ راغلے وے۔ زما د حلقے بد قسمتی دا ده چه تر اوسه پورے په دے شپیتو کالو کښې چه د دے ممبر چرته حکومت کښې نه دے راغلے او هغه حلقے ته تر اوسه پورے هیڅ هم نه دی ورکړے شوی۔ زما به دا خوش قسمتئ نه یا بد قسمتئ نه، زهٔ نن چه کوم دے د حکومتی بینچونو باندے ناست یمه، هلته د خلقو ډیر توقعات دی۔ جناب والا! نو زهٔ به دا یو عرض لرمه چه دلته چه کوم دے۔۔۔۔۔

<u>حاجی عنایت اللہ خان:</u> جناب سپیکر! زهٔ د دوئ د خبرے جواب۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> چه د دوئ تقریر ختم شی نو بیا جواب ورکړئ۔

جناب محمد زمین خان: زما حلقے ته د خصوصی توجه ورکړے شی۔ جناب سپیکر! د ټولو نه اوله خبره دا ده، چه یره زمونږه د Income resources څه دی او زمونږه Expenditures څه دی؟ زمونږه زیات انحصار په فیډرل ګورنمنټ باندے دے نو مونږ چه کوم بجټ جوړ کړے دے، که مونږ ته د فیډرل ګورنمنټ نه پیسے ملاؤ نه شی نو دا ما څکه اووئیل چه دا به بیا Deficit budget تصور کیږی او په هغے کښ به زهٔ صرف یو څیز د دے ایوان مخے ته ایږدمه، لکه یو که مونږه د ایګریکلچر سیکټر ترینه واخلو، Agriculture is considered to be the backbone of the country, Sir, خو ایګریکلچر ته دومره Major amount allocate شوے دے چه په هغے باندے ما ته پته ده چه د دے ملک د دے غریب اولس هغه مسائل نه حل کیږی۔ زراعت کښ جی لس، آته شعبے دی، پکار دا ده چه مونږه هغه صحیح طریقه باندے Develop کړو، د هغےیو مربوط پروګرام شروع کړو څکه چه په دے موجوده وخت کښے به ئے زهٔ واخلمه د دے وائټ پیپر مطابق زمونږه د صوبے چه کوم ضرورت دے د خوراک، د غنمو، نو هغه دے 3.421 metric tons جی خو زمونږه د صوبے چه کوم پیدا وار دے نو هغه One million metric ton دے، بقایا چه کوم 2.421 million metric tons دے نو دا به مونږ یا د پنجاب نه اخلو او یا به جناب سپیکر، د اوپن مارکیټ نه، د بهر ملکونو نه مونږه امپورټ کوؤ۔ جناب والا، په دے موجوده بجت کښ مونږه چونکه په Wheat باندے سبسډی ورکوؤ، په غنمو باندے نو هغه ده 17 billion جی، اوس په موجوده بجټ کښ چه کوم پروویژن دے نو هغه 2 بلین دے، بقایا15 بلین پاتے کیږی نو د دے وائټ پیپر مطابق دا به 3 بلین مونږ له د فاټا نه راځی او دا باقی12بلین به د فیډرل ګورنمنټ نه مونږه ډیمانډ کوؤ سر، نو څکه زهٔ Deficit budget دے ته وایمه چه که مونږ له فیډرل ګورنمنټ دغه رانکړی، فاټا خو ځان له یو دغه دے، د ګورنر په Through راځی او هر څه هلته کیږی، که هغه راله راکړی یا فیډرل ګورنمنټ ته سوال اوکړو، هغه زمونږ سوال او زاری واوری او راله راکړی خو ټهیک ده، خو که رانکړی نو بیا به دا بجټ Deficit ته ځی نو جناب والا، زما د دے څو خبرو مطلب دا وو چه زمونږه په زراعت باندے خصوصی توجه کول پکار دی۔ اګرچه زمونږه وسائل کم دی،

مونږه په دے باندے پوهه یو خو چه کوم دستیاب وسائل دی نو د هغے Effective Management پکار دے چه دا صوبه د دے لږ وسائلو باوجود چه د دے خپل دغه نه فائده واخلی۔ یو بل اهم څیز جناب سپیکر، د ایریګیشن سسټم دے۔ ایریګیشن جی دومره اهم څیز دے چه که تاسو زمیندار ته ښه Seeds هم ورکړئ، هغه ته جدید مشینری هم ورکړئ، هلته چه کوم د هغه سره ښه زمکه هم ډیر زیاته وی خو چه اوبه نه وی نو هغه هر څه فضول ځی۔ جناب والا، زهٔ د وزیر اعلیٰ صاحب په نوټس کښ او زمونږه وزیر موصوف هم ناست دے، د هغوی په نوټس کښ یوه ډیره اهمه خبره راولمه۔ بلامبټ ایریګیشن چینل اګرچه زما په حلقه کښ نه دے، د هغے شروع د ملک حیات ورور د حلقے نه کیږی But it has to pass through my Constituency. جی زما Submission دا دے چه هلته کښ دا ایریګیشن چینل بلامبټ جوړیږی نو دے نه د هغے علاقے خلقو ته هیڅ قسم څه فائده نه کیږی۔ دا ځی سیدها جندول ته اوړی، هلته په کلو باندے راځی، کلی ورانوی جی، هغه خلق Resist کوی۔ زما Submission دا دے چه دا بلامبټ ایریګیشن پراجیکټ چه کوم دے یا چینل دے، د دے هیڈ د لږ اوچت شی چه د دے اوبو لیول لږ اوچت شی او چه په کروړونو روپئ د دے قوم فضول ضائع کیږی نو چه د دے لیول لږ اوچت شی نو په زرګونو خلق بلکه په لکهونو خلق به د دے نه مستفید شی۔ نو یو طرف ته به د هغے خلقو هغه غربت ختم شی او بل طرف ته به د دے صوبے معاشی حالات هم ښه شی۔ نو زما یو دغه ډیر اهم خبره وه چه ما د دوئ په نوټس کښ راوسته۔ هلته خلق مزاحمت هم کوی۔ اوس هلته چینل روان دے، خلق راوځی، هغه نه پریږدی۔ دے وزیر صاحب سره هغه خلق هم ملاؤشوی دی، هغوی وائی چه مونږ په خپلو زمکو دا چینل نه پریږدو چه دا د پاس شی۔ زما د دوئ په خدمت کښ دا عرض دے چه هغه خلق خو هلته خدائے شته چه په کانړو مے ولی، نه مے پریږدی، وائی چه بهئ دا ستا مسئله ده، دا تهٔ هلته په ایوان کښ اوچته کړه چه دا بند شی ګنی مونږه دا نه پریږدو۔ هلته کښ خلق پرے سبا ځان وژنی۔ نو زما عرض دا دے د دوئ په خدمت کښ چه زمونږه په دے غربت باندے، زمونږ په دے بے وسئ باندے لږ رحم اوکړی او زمونږ دا خبره د واوری،

دا د اوچت کړے شي۔ یوه بله اهم خبره تعلیم دے جی۔ تعلیم دومره اهم څیز دے-----

جناب سپیکر: زمین خان! لږ مختصر کړئ، لسټ ډیر لوئے پروت دے، مختصر کړئ۔

جناب محمد زمین خان: بنه سر، مختصرکومه سر۔ زما په حلقه کښې سر، که تاسو راشئ، زما عرض دا دے وزیر تعلیم صاحب هم ناست دے، وزیر اعلیٰ صاحب ناست دے، زۀ به د خپلے حلقے دګرګون حالات په باره کښې هیڅ هم نه وایمه، زۀ صرف دومره وایمه چه د دے ایوان یو کمیټی جوړه شي او هغه د د هغه علاقے Visit اوکړی۔ هغه دومره Scattered علاقه ده، پهاړی علاقه ده، په دے ټوله صوبه کښې د هغے هومره ورانه علاقه هډو شته نه۔ مولانا صوفی محمد صاحب هم زما د حلقے سره تعلق ساتی، په هغه ځائے کښې تاسو به وینئ، په اخبارونو کښې راځی چه څنګه سوات کښې نن صورتحال دے، دغه صورتحال زما په دغه حلقه کښې هم دے۔ نن خلق وائی هلته کښې دهشت ګردی ده په دے صوبه کښې او په هغه علاقه کښې انتها پسندی ده نو انتهاپسندی او دهشت ګردی به نه وی چه خلقو ته د هغوی خپل بنیادی حقوق نه ملاویږی؟ د تعلیم سهولت نشته، د صحت سهولت نشته،Drinking Water Supply نشته، د ایریګیشن نظام نشته، زۀ صرف دومره وایمه چه هلته کښې د تعلیم هیڅ بندوبست نشته۔ یوه بله اهم خبره، زمونږ ه محترم سینیئر منسټر صاحب، رحیم داد خان هم ناست دے، وزیر تعلیم صاحب هم ناست دے، وزیر اعلیٰ صاحب هم ناست دے، یو جی مخکښې خو په دے تیر حکومت کښې خو Troika به وه ځکه څنګه چه زمونږه د بونیر ممبر صاحب اووئیل چه بهئ سپیکر صاحب به فنډ راوړل، سراج صاحب به اوړل جندول ته او درانی صاحب به اوړل بنوں ته، نو هغه څیز اوس په دے بجټ کښې هم Reflect کیږی سر۔ زۀ دا عرض لرمه چه که مونږ دا خپل اے۔ډی۔پی راواخلو نو په دے کښې په اے ډی پی نمبر65,39سر، جندول ته بیا هم، دغسے ډی آئی خان دے او دغسے بنوں دے، چه څومره پراجیکټس دی نو بیا هم هغه حلقو ته لاړل نو دا ټول چه کوم غریب خلق ناست دی، دا خلق به څه کوی؟ دلته کښې جی یو دوه سکیمونه Reflect شوی دی پکښې، یو پکښې د جندول پبلک سکول په نوم باندے

دے او یو پکښ ویمن ډګری کالج دے۔ د دے ایوان په وساطت سره او ستاسو په توسط سره وزیر تعلیم صاحب ته، وزیر اعلیٰ صاحب ته زما دا درخواست دے چه زما هغه حلقے ته راشی، د هغے حالات دومره دی جی، زما په حلقه کښ، په ثابت لال قلعه تحصیل کښ یو د جینکو هائی سکول دے او د هغے هم حالت داسے دے چه په هغے کښ سائنس ټیچر هم نشته جناب والا، نو دا مے عرض دے چه کم از کم که نور هیڅ هم نه وی نو دا کوم دلته کښ پبلک سکول دغه ورکړے شوے دے نو دا د زما هغه حلقے ته راکړے شی چه هغه خلق هم ځان د دے وطن، د دے صوبے باشندګان تصور کړی او هغوی دا اوګنړی چه دا مشران زمونږ هغه آواز او زمونږه چغه هم اوری او زمونږه هغه احساس محرومی ختموی جی۔ یوه بله اهم خبره جی، زمونږه یو ډګری کالج هلته منظور شوے وو، په هغے باندے تر اوسه پورے څه هیڅ قسم کارروائی اونشوه۔ تیر حکومت هغه منظور کړو، Immediately په هغے باندے د کارروائی اوکړے شی۔ بله جی Drinking water supply، هلته کښ د څښکلو د اوبو هیڅ قسم څه مربوط نظام نشته، اګرچه هغه دومره ښکلے علاقه ده چه که ټورازم د پاره مونږه هغه Develop کړو، هلته کښ کمیونیکیشن نظام Develop شی، هلته هسپتالونه جوړ شی، هلته سکولونه جوړ شی، دومره ښکلے علاقه ده، د ځنګلاتو نه مالا مال علاقه ده، د معدنیاتو نه مالا مال علاقه ده خو څوک ورله توجه نه ورکوی۔ زۀ وایمه چه دا کوم سرپلس بجټ دے نو دا د یو سپیشل پیکج په ذریعه باندے زما دے غریب اولس ته راکړے شی چه د هغوی هغه د Drinking water supply مسئله هم حل شی، دلته کښ د هیلتھ مسئله به هم حل شی او دلته کښ د سکولونه دا مسئلے به هم حل شی۔ جناب والا، بله اهم خبره -----

جناب سپیکر: زمین صاحب! لږ راغونډه ئے کړئ، خبره را غونډه کړئ جی۔

جناب محمد زمین خان: ښه جی۔ فارسټ، هلته کښ دومره ښکلی ځنګلات دی خو هلته فارسټ که یو طرف ته دے Soil erosion کښ مدد ورکوی نو بل طرف ته د ملک په معاشی نظام کښ هم اهم کردار لری۔ هلته کښ جی د بدقسمتئ نه زما حلقه په داسے ایریا کښ پرته ده چه یو طرف ته پرے د پنجکوړے سیند راځی او بل طرف ته پرے کنائی خوړ راځی، هلته هغه ځنګل هم اوړی او زمکے هم اوړی خو نه

Soil conservation هلته کښ ښکاری، نه هلته کښ د فارسټ ډیپارټمنټ څه ښکاری چه هغه هلته کښ بندونه اوتړی او دغه Erosion بند کړی او نه ایریګیشن هغے له توجه ورکوی۔ زما عرض دا دے چه دغلته کښ دغه پنجګوړه ریور او د کنائی خوړ چه کومه تباهی کوی نو د دے د سروے اوکړے شی او د دے دواړو طرف ته، د هغه غرونو نه راواخله تر د دے سیند پورے چه د هر څه یو داسے مربوط نظام اوکړے شی چه کومه پیسه فارسټ کښ ضائع کیږی یا په Soil conservation کښ ضائع کیږی یا د ایریګیشن ډیپارټمنټ چه کوم Flood Division دے ، نو چه هغه خصوصی توجه دلته ورکړی او د دغے سروے اوکړے شی او دغے ته بندونه اوتړلے شی چه دغه قیمتی زمکه د Erosion نه بچ شی۔ یو طرف ته به ایګریکلچر Develop شی، بل طرف ته به فارسټ Develop شی۔ زما عرض دا دے چه دا درے واړه ډیپارټمنټس د خپل مینځ کښ صحیح Coordination اوکړی او چه کومے پیسے دغه مد کښ مقرر دی چه د هغے صحیح استعمال اوشی۔ جناب والا، بله خبره، که مونږه دا خپله اے ډی پی اوګورو نو زمونږه Sewerage and sanitation, access of the people of all the Province to sewerage and sanitation is less than as compared to Balochistan, Sir. بلوچستان کښ چه خلق څومره دی، Sanitation او Sewerage ته ئے access دے نو زمونږه خلقوته هغه سهولیات نه دی حاصل۔ زمونږه که سړکونه دی، که لارے کوڅے دی، که کلی دی، که کورونه دی نو هلته د Sanitation او د سیوریج صحیح نظام نشته نو زمونږ چه کوم Garbage disposal دے سر، هغه په صحیح طریقه باندے نه کیږی۔ د هغے صحیح طریقه د نه کیدو په وجه باندے جناب والا ، هلته کښ هیپټائټس بی او سی بیمارئ دومره سیوا شوی دی چه هغه د دے ملک لیبر فورس ته ډیر زیات نقصان رسوی۔ جناب والا ، نن که تاسو اوګورئ زمونږ په دے ملک کښ که یو طرف ته بیروزګاری ده، زمونږه په هغه علاقه کښ روزګار نشته نو خلق د غربت د وجے نه سعودی عرب او دوبئ ته ځی خو نن د سعودی ګورنمنټ طریقه کار دا دے چه کله یو سړے ځی، ویزه هغه اخلی نو He will have to do his medical check up چه Medical check up کوی نو چه کوم سړے راځی نو هغه د هیپټائټس بی او سی بیمار خیژی او هغه صرف په دے وجه باندے کیږی چه هلته کښ د Garbage

صحیح disposal نه کیږی نوکه فرض کړه دغه صحیح Disposal اوشی او سیوریج او Sanitation ته صحیح Access اوشی نو دغه بیماریٔ به ختمے شی۔ دغے سره یو طرف ته به د هیلتھ دا پرابلم ختم شی، بل طرف ته دغه اوبه راځی او زمونږ نهری نظام کښ چه لږ ډیر هلته کښ دے په لختو په ولو کښ، نو دغه Garbage راځی او دغلته کښ چه کوم زمونږه Wheat production دے نو هغه هم متاثره کیږی، زمونږه سبزیانے هم خرابیږی۔ جناب والا، زمونږ Sanitation او سیوریج د پاره هم دغه علاقه ډیر په طمع ده او تاسو ته ئے سترگے دی جناب والا، دے موجوده حکومت ته ئے سترگے دی، زمونږه وزیر خزانه صاحب ته او وزیر اعلیٰ صاحب ته او سینیئر وزیر، جناب رحیم داد خان ته ئے سترگے دی چه کیدے شی چه دا ځل دا خلق، دا مشران زمونږه دے غریبے علاقے ته هم نظر اوکړی۔ جناب والا، کید ے شی چه زما ملگری، دا کوم ذکر چه ما۔۔۔ (شور)

جناب محمد زمین خان: جناب والا، زهٔ خپل تقریر ختمول غواړمه خو په دے یو اهم خبره به ئے، ځکه چه زما ملگرے وزیر موصوف صاحب پاځی، راپاځی هغه به خبره کوی د جندول پبلک سکول باره کښ۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: بس ختم کوئ جی، ختمه کوئ۔

جناب محمد زمین خان: زهٔ دا عرض لرمه چه ما هغه بله ورځ د همایون خان سره هم دا خبره اوکړه چه بهئ دا تاسو Reflect کړے دے نو هغه ما ته وائی چه دا On going دے، زهٔ د دے هاؤس په وساطت سره دا وایمه چه په دے کښ د انکوائری اوشی چه دغلته Land نه دے اغستے شوے، یو پیسه دغلته نه ده خرچ شوے او دوئ په On going کښ دا Reflect کوی چه کوم Responsible خلق دی، They should be punished چه دوئ ولے گورنمنټ ته غلط اعداد و شمار ورکوی، ولے ورته صحیح Picture نه ښائی؟

جناب سپیکر: ستاسو شکریه، زمین خان، .Thank you very much وزیر صاحب څه وئیل۔ د سوال جواب ورکوئ، هدایت الله خان صاحب؟

جناب هدایت الله خان(وزیر حیوانات): جناب سپیکر صاحب، ستاسو ډیره شکریه چه تاسو وخت راکړو۔ صرف د ریکارډ درستگیٔ د پاره زهٔ دا خبره د خپل معزز رکن

په نوټس کښې راولمه چه هغه دا وائی چه د دے نه مخکښې چه زهٔ د کوم حلقے نه اوس منتخب شوے یمه، د هغے نه په حکومت کښې څوک نه دی پاتے شوی، دا پینځه کاله چه هغوی تیر کړل نو دا د ایم ایم اے ممبر وو، سعید ګل نوم ئے وو، دا د دوئ نه په دے وخت کښې څنګه هیر شو؟ هغه خلق چه څوک یادوی چه دیر او بنو ں، نو که فرض کړه راغلے دے یو شے نو هغوی مستقل طور باندے صحیح تقسیم کړے دے او هغه خپلے خپلے حلقے ته ئے رسولے دے۔ دا اوس چه کله حکومت ختمیدو بو څه د بره درے کروړه روپئ سعید ګل صاحب ایستلے دی دے حلقے له، هغه لګیدلی دی یا نه دی لګیدلی خو بهرحال حکومتی رکن وو نو دا ریکارډ کښې لږ درستګی راولئ۔ دویمه خبره جی دوئ د بلامبټ ایریګیشن سکیم اوکړه، دا یو ډیر زبردست سکیم دے د علاقے د پاره او ټول خلق په دے باندے خوشحاله دی چه دا د اوشی او هم اوس په هغے باندے کار روان شوے دے نو په دے وجه باندے مونږ دا وایو چه هم دا کار د سر ته اورسولے شی، که هغه جندول ته فائده رسی، که میدان ته رسی او که لاندے کوم ایریاز دی، چه هغے ته اورسی۔ بله د پبلک سکول خبره چه دوئ اوکړه نو دا جی باقاعده منظور شوے سکیم دے۔ په دے کښې د جندول پبلک سکول په نوم باندے دا منظور دے۔ که فرض کړه یو سړے په دے باندے اعتراض کوی نو پینځه کاله مخکښې د هغے حلقے نه یو بل ممبر منتخب شوے وو، پکار دا وه چه دا اعتراض ئے په هغة وخت کښې کړے وے، نو زهٔ دا ستاسو د دے ریکارډ درست کولو د پاره د صاحب په نوټس کښې راوالمه چه دا مخکښې کوم ممبر صاحب تیر شوے دے، هغه د ایم ایم اے ممبر وو او په دے ملک کښې د ایم ایم اے حکومت وو۔ زوړ وزیر اعلیٰ صاحب هم یو څو خبرے اوکړے، هغوی وائی چه مونږه مساویانه تقسیم کړے دے د سروس باره کښې، د نوکریانو باره کښې خو زمونږه حلقه او علاقه چه کومه وه ملاکنډ ډویژن، باقاعده د هغوی په عملدارئ کښې ورکړے شوے وو، هلته د هیڅ چا څه وس نه رسیدو، نه ئے څه خبره کولے شوه، د دے پورے چه وزیر اعلیٰ صاحب هم په هغے کښې څه نه شو وئیلے۔ ډیرے داسے خبرے راغلے وے، هغه د بشیر بلور صاحب په نوټس کښې هم دی او ستاسو په نوټس کښې به هم وی خو هغوی په هغے کښې هیڅ نه شو کولے، هم هغه خلق ټول د سیاه و سفید مالکان وو

او هغه ئے کړی دی۔ نو زهٔ دا وایمه چه دا څه شوی دی نو په دے باندے د ممبر صاحب نه خفه کیږی او دا د مهربانی اوکړی، دوئ د د خپلے خبرے سره تعلق اوساتی، کوم چه دوئ ته ضرورت دے ، هغه د اوکړی۔

جناب سپیکر: تهیک شو جی۔ مهربانی، مهربانی۔ محترمه زرقا بی بی، نشته۔ عظمیٰ خان بی بی۔

محترمه عظمیٰ خان: بسم اللّٰه الرحمن الرحیم۔ شکریه، سپیکر صاحب۔ دے دوه معزز ارکانو چه خبرے اوکړے ، دوئ هم زما علاقے سره تعلق ساتی، زهٔ هم د ضلع لوئر دیر سره تعلق ساتمه، زهٔ به د دوئ یو خبره Oppose کړم چه دوئ زمونږ د علاقے پبلک سکول او گورنمنټ ډگری کالج باره کښ خبره اوکړه چه دا د د دوئ علاقے ته واړولے شی، د دوئ به سبا دا مطالبه وی چه د حیدر هوتی صاحب په علاقه کښ چه یونیورسټی تعمیریږی، هغه د هم د دوئ علاقے ته بیا اوړلے شی نو ضروری نه ده چه هغه منظوره شی۔ که دوئ خپلے علاقے له څه کالج یا سکول غواړی نو بیله د مطالبه اوکړی، زمونږ د علاقے سکولونه د خپلے علاقے ته نه اوړی۔ لال قلعه دیر زما پخپله آبائی کلے دے او زهٔ د دے په ترقئ باندے خفه کیږم نه، خوشحالیږمه لیکن زهٔ چه د کومے علاقے نه فی الحال ولاړه یمه، زهٔ د هغے د Favour خبره کوم چه زمونږ د ډگری کالج او پبلک سکول باره کښ د داسے خبرے نه شی کولے۔ سپیکر صاحب! زهٔ ستاسو ډیره شکر گزاره یمه چه دوه میاشتے پس تاسو ما له د خبرو موقع راکړه۔ زما پهلا خبره دا ده چه د وزیر خزانه، همایون صاحب په تقریر کښ یوه خبره وه چه ابتدائی تعلیم به ماشومانو ته د هغوی په مادری زبان کښ ورکولے کیږی، زهٔ د دے خبرے Favour کوم او دا ډیره ښه خبره ده لیکن زهٔ هغوی نه دا تپوس کول غواړمه چه پاکستان کښ Specially زمونږ په صوبه کښ خو ډیر شے ژبے دی، د هر چا خپله مادری ژبه ده، آیا دوئ هر یو له د هغوی په مادری زبان کښ تعلیم ورکول غواړی یا مادری زبان نه مراد صرف او صرف پشتو ده؟ آیا د دے نه مراد صرف او صرف پشتو ده؟ نو زه دا تپوس کول غواړم چه په دے ژبه کښ به دوئ ماشومانو ته هغه Standard books مهیا کړی کوم چه نن سبا د کمپوټرائز دور ضرورت دے ؟ آیا هغه اساتذه به دوئ ته Provide شی چه دوئ ته هم په دے

ژبه کښې دغه تعلیم ورکړے شی؟ بل سوال به دا کوم چه آیا د دے اطلاق به په ګورنمنټ او پرائیویټ، په ټولو سکولونو باندے کیږی او که نه؟ مونږ صرف د غریب ماشومانو د پاره په ګورنمنټ سکول باندے د دے ژبے اطلاق برداشت کولے نه شو او یو ځل بیا زما د یو رکن په شانتے مونږ به هم خپلو بچو له انصاف ورکولو د پاره په دے زمکه کښینو۔ زۀ وئیل غواړمه چه ما ته د دے ډیټیل راکړی هغوی۔ زما بله خبره چه د څه باره کښې وه سپیکر صاحب، اتفاقاً نن هغوی هم دی بهر، هړتال کوی دے باره کښې۔ درانی صاحب خو ډیره Clear cut خبره اوکړه خو زۀ به لږ خپل دے باندے تفصیل بیان کړمه۔ اساتذه زمونږ د معاشرے یو معزز طبقه ده او هم د هغوی په لاسونو کښې مونږ پروان چړهاؤ شو او دے ایوانونو ته راځو او نن هغوی زمونږ نه دا مطالبه کوی بهر۔ جناب سپیکر صاحب، یو استاد ته د عزت نظرسره کتلو د پاره مونږ ته دا نه وی پکار چه هغوی سحر نه راغلی دی او په سور نمر دلته ولاړ دی د خپلو حقوقو مطالبه کوی۔ پکار ده چه مونږ د هغوی مطالبات هم د هغوی په ځایونو کښې حل کړے وے نو نن به هغوی دومره مونږ ته نه سپکیدے چه بهر به ولاړ وو۔ سپیکر صاحب، زۀ به دا د اساتذه د شان یو سپکوالے اوګنړم چه مونږ هغوی ته د هغوی حقوق نه ورکوؤ۔ چه دا اساتذه نن نه وے نو په دےایوانونو کښې به مونږ نه وو ناست۔ جناب سپیکر، کوم چه په میرټ باندے د دوئ اپوائنټمنټ شوے وو، هغے کښې پانچ ارکان باندے مشتمل یو پینل وو، د دوئ انټرویو شوے وه، میډیکل، د پولیس کلیرنس هم شوے وو، د دوئ ریکارډ هم کتلے شوے وو، نو زۀ غواړم چه تاسو دا برسر روزګار نوجوان بے روزګاره کوئ او نورو له روزګار ورکوئ نو دا به ستاسو یو ښه پالیسی نه وی۔ زۀ غواړم چه هم دغه په روزګار نوجوانان چه کوم اوس Trained هم دی، هغوی سره Experience هم دے ، هغوی باصلاحیته هم دی نو زۀ وایم چه د هغوی د ختمولو د پاره تاسو سره هیڅ جواز نشته چه تاسو هغوی د دے ملازمت نه لرے کړئ۔ جناب سپیکر صاحب، زۀ غواړمه چه دوئ زر تر زره تاسو بحال کړئ چه دوئ پر سکون ذهن سره زمونږ د نوی نسل پرورش شروع کړی۔ آخر کښې جناب، زۀ یوه مطالبه کول غواړم۔ سپیکر صاحب، څنګه چه زمونږه یو فیمیل رکن دا خبره کړے وه چه بیس فیصد اضافه سرکاری

تنخواګانو کښی شوے ده نو زهٔ به دا خواست کوم چه زمونږ په تنخواګانو کښی د هم اوشی، Including traveling allowance ځکه چه مونږ ته Traveling allowance two rupees per kilometer ملاویږی جبکه د پیټرولو قیمت د آسمان سره خبرے کوی، په دے باندے تاسو غور اوکړئ۔ سپیکر صاحب! د مولانا فضل الرحمان صاحب په قافله باندے چه کومه حمله شوے وه، زهٔ د هغے بهرپور مذمت کوم او زهٔ وزیر اعلیٰ صاحب نه دا مطالبه کوم چه د ملزمانو ګرفتاریٔ سره سره چه د چا ګاډو ته هغوی نقصان رسولے دے، هغوی ته د هغے ازاله اوکړے شی او که دا او نه شوه نو مونږ جمعیت علمائے اسلام دیر به په 28 جون باندے د بهرپور قوت مظاهره کوؤ۔ تهینک یو جی۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریه، بی بی۔ شکیل بشیر خان عمرزئی صاحب۔

<u>جناب شکیل بشیر عمرزئی:</u> ډیره مهربانی سپیکرصاحب، چه تاسو ما له د خبرو موقع راکړه۔ بجټ د یو ملک یا د صوبے د معاشی حالاتو او د سیاسی حکومتونو د پالیسو عکاسی وی او د هغے ترجمانی کوی۔ په دے صوبه کښی تقریباً دوه میاشتے کیږی چه دا کوم حکومت جوړ شوے دے او دوئ په دے موجوده حالاتو کښی کوم بجټ پیش کړے دے نو دے بجټ ته مونږه یو مناسب او ښه بجټ وئیلے شو۔ عزتمند سپیکر صاحب، زهٔ د خپلے ضلعے متعلق یو دوه خبرے کول غواړم۔ سپیکرصاحب، زما تعلق د ضلع چارسده سره دے او ضلع چارسده په زرعی لحاظ باندے زمونږ د صوبے زرخیز ترین ضلع ده۔ ګنے او تماکو د دے اهم پیداوار دی خو تیر کال د چارسدے د زمیندارو ملا ماته شوے ده۔ د بدقسمتیٔ نه پروسکال ډیره زیاته چنیٔ پریوتے وه چه د هغے په وجه ګنی ګړه نه وه کړے او د ګړے هیڅ پیداوار نه وو۔ د چارسدے واحد شوګرمل بند پروت دے، د نورو ضلعو شوګر ملونو زمونږ د ضلعے د زمیندارو نه ګنے نه اغستو او دغه شان ګنے په پټو کښی سخا شو۔ زهٔ ستاسو په وساطت دا درخواست کوم چه د مل سرکاری طور باندے د چالو کیدو د پاره د فوری اقدامات اوشی۔ تمباکو زمونږ د ضلع دوئم اهم پیدا وار دے خو د زیات او د بے وخته باران د وجے نه د تماکو فصل بالکل تباه و برباد او خراب شوے دے۔ دے د پاره زهٔ وزیر زراعت صاحب او وزیر اعلیٰ صاحب ته خواست کوم چه د زمیندارو دا زرعی قرضے چه کومے

دی، دا د معاف کړی او د دے زمیندارو فصلونو ته چه کوم نقصانات رسیدلی دی، د دغے تلافئ د پاره چه د دوئ نه څومره کیدے شی، دے زمیندارو له د ریلیف ورکړے شی او د ټو بیکو سیس په آمدن کښ د چارسدے ته هم حصه ورکړے شی۔ عزتمند سپیکر صاحب، د چارسدے په مینځ کښ دوه سیندونه، خیالی او سردریاب تیریږی، هر کال د ډیر باران د وجے نه په دے سیندونو کښ د سیلاب د وجے د چارسدے په ایکړو زرعی زمکه خرابیږی او دغه شان د دے د سیلابونو د وجے نه کورونو ته هم نقصان کیږی، زهٔ ایریګیشن منسټر صاحب او وزیر اعلیٰ صاحب ته دا مطالبه کوم چه د دے سیلاب نه بچ کیدو د پاره Spurs او Protection walls د جوړیدو د پاره د فوری اقدامات اوکړی۔ عزتمند سپیکر صاحب، آخرینئ خبره، په دے بجټ کښ د هر ایم پی اے د پاره یو کروړ روپئ مقرر شوی دی، زما په خیال دا ډیر ے کمے دی ځکه چه د هر صوبائی اسمبلئ ممبر حلقه چه کوم ده، دا تقریباً په نهه او لس یونین کونسلز مشتمل ده، چه مونږه دا فنډ په هر یونین کونسل برابر هم تقسیموؤ نو تقریباً لس دولس لکهه روپئ فی یونین کونسل راځی، زما په خیال دا پیسے خو د یو یونین کونسل د ناظم نه هم کمے دی۔ د دے د پاره مونږ وزیر اعلیٰ صاحب نه طمع ساتو چه د چهترئ په دے دغه کښ به زیات نه زیات زمونږه برخه اوکړی۔ ډیر ه ډیره مهربانی، سپیکر صاحب۔

<u>جناب سپیکر:</u> *شکریہ جی۔ احمد خان بہادر صاحب۔*

<u>جناب احمد خان بہادر:</u> **نحمده و نصل علی رسوله الکریم، اما بعد اعوذبالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم۔** د ټولو نه مخکښ زهٔ د خپل رب ډیر زیات شکر گزار یم۔ زهٔ جناب سپیکر صاحب، شکریه ادا کوم چه ما له مو موقع راکړه۔ زما دا نوم غالباً تاسو به ړومبنی ځل واغستو، احمد خان بهادر دے جی او دا تاسو مهربانی اوکړئ، لږ ځان سره اولیکئ او ما له کله نه کله موقع راکوئ۔ چونکه مونږ نوی یو او ستاسو توجه چه مونږ ته ملاویږی نو هله به مونږ هاؤس کښ چلیږو گنی نو عبدالاکبر خان او داسے زاړه خلق چه ناست دی، زما په خیال مونږ پکښ خبرے هم بیا نه شو کولے۔ جناب سپیکر صاحب، ما ځان ته ډیر تفیصلاً خبرے لیکلے وے او ډیرے اوږدے وے۔ زما دے ملګرو ما ته اووئیل چه دا خو دومره

اوړدے خبرے دی، تۀ به دا کوے څنګه؟ خو ما عبدالاکبر خان واوریدو او زما دا نور ملګری مے واوریدل نو زما په خیال زۀ به دا خپلے خبرے ډیرے مختصر کړم۔ زۀ به د مردان په حواله سره یو څو خبرے کومه۔ هر یو ملګرے ما ته وائی چه تاسو مزے اوکړے۔ چه چا ته نزدے کیږم، ما ته وائی مردان والو، تاسو مزے اوکړے، هر څه ستاسو دی۔ زۀ حیران په دے یمه چه مونږ خو نه مزے اوکړے او نه مو څه اولیدل بلکه زۀ به تاسو ته دا اووایمه چه دا تیر شویOn going Projects تاسو اوګورئ او دا موجوده اوګورئ تاسو نو پکار دا دی چه د کوم شی د پاره تیر شوی ځل، تیر شوی اے ډی پی کښې 08-2007 کښې کومے پیسے ایښودے شوے وے، پکار دا وو چه هغه هومره پیسے په 09-2008 اے ډی پی کښې د مردان د پاره ایښودلے شوے وے نو بیا به تاسو وئیل چه مردان والا مزے اوکړے۔ نو ګزارش دا دے چه خپله تصحیح اوکړئ، مونږ مزے نه دی کړے، لا مونږه هغسے خوار یو۔ زۀ به راشمه ړومبئ خبرے ته، د لاء اینډ آرډر باره کښې۔ جناب والا، د لاء اینډ آرډر خو دا پوزیشن دے چه بیګا هم په مردان کښې دهماکه شوے ده خو زۀ به دا اووایمه چه د خوش قسمتئ نه په هغه وخت کښې سینما کښې څوک نه وو۔ که چرے دغه ټائم په سینما کښې څوک وے، ستاسو څه خیال دے د هغے به بیا څه پوزیشن وو، څومره په سوؤنو خلق به پکښې مړه شوی وو؟ دوئم د لاء اینډ آرډر دا پوزیشن دے جناب سپیکر، چه مردان کښې د ورځے په رڼړا کښې اغواګانے کیږی۔ په دوئمه، درئمه ورځ خامخا یو تن اغواء کیږی او تاسو به په اخبارکښې هغه ګورئ۔ د تاجرانو نه باقاعده بهته وصولیږی او زۀ حیران په دے یمه حالانکه زمونږ وزیر اعلیٰ صاحب په خپله ذاتی دلچسپی اخلی چه لاء اینډ آرډر په کنټرول کښې وی او د مردان دا مسئلے د حل شی خو زۀ نه پوهیږمه چه دا ولے نه حل کیږی تراوسه پورے؟ دوئمه مسئله زمونږ چه کومه بنیادی ده، هغه د Drinking water ده۔ جناب والا، زمونږ دا پوزیشن دے چه دلته زما ډیرو ملګرو اووئیل چه هیپاټائټس بی او سی زمونږ په حلقه کښې زیات دے خو زۀ تاسو ته دا وایم چه دا په ریکارډ باندے ده چه مردان په هیپاټائټس بی او سی کښې په پاکستان کښې په ټاپ باندے دے۔ ما ته پته وه چه بشیر خان به پاڅی، مردان

هیپټائټس بی او سی کښې په ټاپ باندے دے بلکه زهٔ به دا اووایم تاسو ته جناب والا، ـــــ

<u>جناب سپیکر:</u> بشیر خان، د دے ځوانانو به اورئ، اورئ به تاسو پاځئ به نه۔

<u>جناب احمد خان بهادر:</u> ښه۔ نه ما وئیل که جواب راکوی جی۔ (قهقهے) علماء جی باقاعده فتویٰ ورکړے ده چه زمونږ په هغه اوبو باندے کوم چه مونږ ته ټی ایم اے سپلائی کوی، اودس هم مه کوئ، په دے اوبو باندے جامے هم مه وینځئ،دا اوبه پلیتے دی، د هغے نه سخا بوئ ځی نو زما درخواست دا دے چه زمونږ د پاره په دے اے ډی پی کښې کومے پیسے ایښودلے شوی دی، هغه ډیرے کمے دی، مهربانی د اوکړے شی دا د سیوا کړے شی چه زمونږ خلقو ته کم از کم پاکے اوبه د څښکلو د پاره او دا اودسونو د پاره او د لمبلو د پاره ملاؤ شی۔ بله غټه مسئله زمونږ د سینی ټیشن ده جی۔ زمونږه د ایجوکیشن یوه ډیره لویه مسئله ده۔ د دوو، دوو کمروں پرائمری سکول وی، صرف دوه کمرے وی پکښې او شپږ کلاسونه پکښې سبق وائی، په یوه کمره کښې د یو کلاس مخ دیخوا وی دیوال ته، د بل مخ دیخوا وی او دبل دیخوا وی، د بل دیخوا وی، په دوو کمرو باندے جناب والا، ما ته صرف دا اووایئ چه تاسو پرائمری سکول څنګه چلوئ؟ حالانکه کم از کم شپږ کمرے خو پکار دی۔ د هغے سکولونو دا حال دے۔ بابک صاحب! د سکولونو دا حال دے چه په هغے کښې بجلی نشته، په هغے کښې فرشونه دی خو ټاټ پکښې نشته۔ د فرنیچر دا پوزیشن دے چه د سټوډنټانو فرنیچر څه کوئ چه د ټیچر د پاره یوه کرسئ پرته وی او هغه هم اکثر د چا د حجرے نه راوړی بلکه ما د Campaign په دوران کښې په یو دوه دریو حلقو کښې یو دوه درے سکولونو کښې داسے لیدلی وو چه دریمے یا څلورمے پښے ته هغوی خښتے ایښودے وے۔ چاک یو بنیادی شے دے خو په سکولونو کښې چاک نشته، د څښکلو اوبه نشته، لیټرین نشته۔ زمونږ سکول کښې چه کوم ماشوم عیاشی کوی او تاسو وایئ چه دا ئے عیاشی اوکړه نو هغه د ځان سره د کور نه خښته راوړی یا د کاټن یوه ټکړه راوړی او په هغے باندے ناست وی نو جناب والا، دا توجه غواړی، دا زمونږه Assetsدی، دا ماشومان به سبا رالویږی، دا ملک به دوئ چلوی، دوئ ته بنیادی تعلیم چه صحیح ورکړے شی۔ بل جناب والا، د واپډے یوه

مسئله ده زما په حلقه کښ بنیادی او هغه دا چه زمونږ چه کوم ګرډ دے ، هغه ډیر زیات زوړ شوے دے چه کوم عام لوډشیډنګ کیږی اووه اته ګنټهے یا شپږ ګنټهے نورو حلقو کښ کیږی ، هغه خو دی خو د هغے نه علاوه چه کله بجلی راشی نو هر پنځلس منټه بعد هغه ټرپ شی د دوه دریو منټو د پاره ځکه چه هغه ګرډ دومره ګرم شوے وی که چرے دوئ ئے نه ټرپ کوی نو هغه سوزی نو دا یو بنیادی مسئله ده، مهربانی د اوکړے شی زمونږ دا 220kv ګرډ سټیشن دے ، دا 500kv ته شی چه د دے خلقو دا مسئلے حل شی او که چرے دا 500kv ته شو نو د راروان پنځلس کالو د پاره به زمونږ د خلقو دا مسئله حل شی۔ جناب والا! د سړکونو دا پوزیشن دے چه زۀ دعوے سره وایمه او زۀ چیلنج کوم دا خپل ټول ممبران چه کوم ناست دی، دا چه څوک ما ته وائی چه تاسو مزے اوکړے ، تاسو راځئ په مردان کښ ما ته صرف یو روډ ټهیک اوښایئ، صرف یو روډ ، چه څوک ما ته دا اووائی چه دا روډ ټهیک دے ، یو روډ په مردان کښ ټهیک نشته، که هغه مین روډونه دی او که هغه واړه روډونه دی، که هغه هر یو روډ دے ، که هغه د نوشهره روډ دے ، د موټر وے نه اخوا ته پرے تاسو لاړ شئ، اخوا ته چه مردان ته کله انټر شی نو د دے حالت بدل دے۔ جناب والا! د سوئی ګیس زما دا پوزیشن دے چه په ژمی کښ په مردان کښ ګیس نه وی، جلوسونه وی او دا زۀ چه دلته لګیا یم او چغے وهم، زۀ ئے د ویرے نه وهم ځکه ئے زۀ د ویرے نه وهم چه زۀ په مردان ، بالکل په بینک روډ په مینځ کښ اوسم نو چه کوم جلوس راځی نو اول به په ما تیریږی نو اول به زما حجره او زما کور په ګټو باندے اولی، نومهربانی د اوکړے شی، د سوئی ګیس دا مسئله د زما حل کړے شی۔ زما یوه بله ډیره غټه مسئله د بغدادے مردان روډ دے چه د ډیرے مودے راسے دا بند دے۔ دا زما او د وزیر اعلیٰ په حلقه کښ دے ، د فوج په پی آر سی سنټر کښ دا په مینځ کښ تلے دے بالکل حالانکه په ریکارډ کښ، په کاغذات مال کښ دا روډ سرکاری نه دے ، د آرمی نه دے ، د فوج نه دے ، مهربانی د اوکړے شی په دے باندے د په هائی لیول باندے خبرے اوکړے شی یا که چرے فوجیان په دے ویریږی چه هغوی ته به د خود کش یا څه نور څه دهماکے یا څه نور څه خطره وی نو د هغے د څه متبادل غم اوکړے شی، هغوی ته د دیوالونه اووهلے شی، هغوی

د پاره د پولیس اودرولے شی، فوج د اودرولے شی خو چه کوم روډ دوئ Propose کړے دے، په هغے باندے به ډیر ټائم لګی نو تر هغه وخته پورے به زما دا خلق ډیر په عذاب کښ وی او ډیر په تکلیف کښ وی، نو مهربانی د اوکړے شی دے طرف ته د توجه راکړے شی۔ بله یوه ډیره غټه ایشو وه جی، یوه ډیره لویه خبره ده چه هغه د مردان د هسپتالونو باره کښ ده۔ مردان ډی ایچ کیو هسپتال په داسے پوزیشن کښ دے چه تیر شوی پینځو کالو راسے خو د دے نه ګیس کټ شوے دے، جنریټر پکښ نشته، د بجلئ انتظام پکښ نشته، انتهائی ګنده دے۔ د هغے واش رومونو ته تاسو لاړ شئ، تاسو به وائی ګنی دا پبلک، د سړک د غاړے هغه لیټرینونه دی۔ د دے د پاره چه کوم فنډ ایخودلے شوے دے، دا ناکافی دے، دا مناسب نه دے، مهربانی د اوکړے شی چه د دے د پاره د دومره فنډ کیخودے شی چه د مردان ډی ایچ کیو هسپتال، په کوم باندے چه ډیر لوئے لوډ دے د دے خواوشا علاقو، حالت کم از کم داسے خو شی چه ځوک ورته خپل مریض اوړلے شی۔ بیا زما د مردان میډیکل کمپلیکس حالت دے۔ جناب والا! دا په دوه درے فیزو کښ جوړ شوے دے۔ کوم فیز چه اول جوړشوے وو، هغه بهترین کنسټرکشن وو، هغه نیسپاک جوړ کړے وو، اوس چه کوم فیز جوړ شوے دے یا جوړیږی یا کوم وارډونه جوړیږی، هغه په دے حالات کښ دی چه هغه ټهیکدار ډاکټرانو ته وائی چه دا وارډونه واخلئ او ډاکټران ورته وائی چه خانه، دا مونږ نه اخلو۔ په دومره غټ Pillar کښ ئے یو سیخ ایښے دے چه ټهیکدار سره رابطه اوکړئ نو ټهیکدار وائی چه دا په پی سی ون کښ دغه شے دے، زۀ ئے ځکه داسے کوم۔ زما درخواست، ګزارش دا دے چه چیف منسټر مانیټرنګ ټیم د لاړ شی، دا موقع د اوګوری، دا پی سی ون د اوګوری چه دا دومره ناقص میټیریل ولے استعمالیږی، دومره غلط طرف ته دا خبره ولے روانه ده؟ بل دا چه تقریباً شل ورځے اوشوے چه یو وارډ جوړ شوے دے او Properly handed over شوے هم نه دے خو د هغے د دروازو دا پوزیشن دے چه دروازه کهولاؤ کړئ نو تاسو یقین اوکړئ مائی لارډ، چه هغه به بهر راوځی۔ د پلسټر دا پوزیشن دے چه په دے ګوته زور ورکړے نو پلسټر ماتیږی۔ نو مهربانی د اوکړے شی، دا ټائم دے، هغه ټهیکدار لا پورا Handover کړے نه دے، دا تاسو

مانیټرنګ ټیم د وزیر اعلیٰ اولیږئ دے له چه دا هغه اوګوری او د دے بندوبست اوشی۔ بل زما یو تجویز دے مائی لارډ، دے باره کښ چه تهلیسیمیا مریضان چه کوم دی، چه کوم انګلش میډیسن دوئ استعمالوی نو د دے په علاج باندے کم از کم څوارلس کاله لګی او ضروری نه ده چه هغوی د ټهیک شی حالانکه هم د دغه مرض علاج په هومیوپیتهک کښ په اتلسو میاشتو یا په دوه کالو کښ کیږی، نو مهربانی د اوکړے شی، دا زما یو تجویز دے چه په هسپتالونو کښ د هومیوپیتهک ډاکټران کښینولے شی د دے د پاره چه داسے مریضان چه تهلیسیمیا والا وی او د هغوئ خواهش وی چه مونږ د هومیوپیتهک علاج اوکړو چه هغوی ته هلته ډاکټر Available وی۔ جناب والا! یوه ډیره لویه خبره ده او په کوم تاریخ چه تاسو بجټ پیش کړے وو، په سوله تاریخ باندے، په هغه ورځ دا واقعه شوے ده، په مردان کښ سیلاب راغلے وو چه کم از کم څلور کسان پکښ شهیدان شوی وو، بلا کورنه پکښ اوبو اوړی وو، بلا نقصان شوے وو، فصلونه تباه شوی وو، برباد شوی وو او دا سیلاب د نن نه یو دوه کاله مخکښ په 5 اګست 2006 باندے هم راغلے وو جناب والا، او هغه وخت د دے سیلاب دا پوزیشن وو چه د مردان په بینک روډ باندے اته اته فټه اوبه ولاړے وے، اته اته فټه اوبه وے مائی لارډ، چه کوم د کانونه د سړک نه څلور پینځه فټه اوچت دی نو هغے د کانونو کښ درے څلور فټه اوبه ولاړے وے، د خلقو د کروړونو روپو نقصان شوے وو تقریباً چه کوم اسټیمیټ لګولے شوے وو، هغه د شلو کروړ روپو اسټیمیټ وو ځکه چه د مردان کوم مین تجارتی بازار دے، خواجه ګنج، سرفراز ګنج، بینک روډ، هغه په دے باندے متاثره شوی وو۔ هغه وخت سره، زهٔ د درانی صاحب شکریه ادا کوم چه دوئ تلی وو مردان ته، دوره ئے کړے وه خو هغه صرف د دورے تر حده پورے وه ځکه چه بیا شوکت عزیز صاحب هم راغلے وو۔ فیډرل ګورنمنټ د هغے د پاره ساړهے پانچ کروړ روپئ مختص کړے وے چه د مردان کومو کسانو ته تکلیف ملاؤ شوے دے، چه د چا تاوانونه شوی دی، دوئ له ساړهے پانچ کروړ روپئ ورکړئ د فیډرل ګورنمنټ د طرف نه او مونږ هغه وخت اووئیل چه نه، دا ساړهے پانچ کروړ روپے کمے دی، په دے زمونږ کار نه کیږی۔ نو هغه وخت صوبائی وزیر اعلیٰ صاحب ته ئے اووئیل چه ساړهے پانچ

کروړ پکښ تاسو واچوئ چه دا یولس کروړه شی چه د دے خلقو کار اوشی، هغه پیسے مونږ ته تر اوسه پورے نه دی ملاؤ شوی۔ هغه سیلاب په 5 اگست 2006 ء کښ راغلے وو او تر نن تاریخ پورے هغه پیسے مونږ ته نه دی ملاؤ شوی۔ د هغے د پاره زمونږ خپلئ سورے شوے ، زړه مو ستړے شو، کله یو خوا منډے وهو، کله بل خوا۔ زما تاجران عاجزان په هفته کښ یو نه یو طرف ته منډے وهی، د هغوی هغه طرف ته چا توجه ورنکړه، نو کله ئے ریلیف کمیشنر طرف ته لیږی، د گورنر سره پرے هم هغوی ملاقاتونه کړی وو خو هغه طرف ته چا توجه ورنکړه۔ جناب والا ! په هغے کښ پینځه څلویښت کسان شهید شوی وو صرف په یو ځائے باندے او هغه په څه شهیدان شوی وو جناب والا ؟ هغه د مردان کلپانئ پل پریوتے وو او د مردان د کلپانی د پل دا پوزیشن وو جناب والا، چه کله دا سیلاب راتلو په 5 اگست 2006 باندے نو د دے نه څلور میاشتے مخکښ په 28 اپریل 2006 باندے زما د مردان تاجرانو چیف انجینئر پبلک ورکس ډیپارټمنټ، پشاور سیکرټریټ پشاور ته یو خط لیږلے وو چه د مردان دا پل خراب دے ، دا غورزیږی، مهربانی اوکړئ دا پل د ټهیک کړے شی هسے نه چه څه مسئله جوړه شی، خلقو ته به ډیر نقصان اوشی او په جواب کښ ورته یو لیټر هم راغلے وو، دا 1666/1-B وو، And this was on 12th June, 2006. په هغے کښ وائی چه "As reported by the Engineer In-charge, the pavement of main bazaar Road including bridge (approach) at Hoti has been started by the contractor and near to completion." جناب والا، دا هسے خبره وه، دا بالکل هسے خبره وه۔ انکوائری اوکړئ، موقع له څوک لاړ شی، چا خبنته قدرے نه ده ایښے ، خبنته قدرے څه چه څوک موقع له هم نه دی راغلی چه دا اوگوری چه آیا دلته چا کنسټرکشن شروع کړے دے که نه؟ زما هغه پینځه څلویښت رونړه خو اوبو یوړل، شهیدان شول، اوس پوزیشن دا دے چه هغه بله ورځ چه کوم سیلاب راغلے وو، په دیکښ زما هغه پشتے ، هغه Supporting walls ، کوم چه هسے گټے دوئ ایښے وے ، په هغے کښ بیا سوری شوی دی او ډیر لوئے نقصان ئے کړے دے بلکه زهٔ به دا اووایمه چه په مردان کښ گالف کورس طرف ته چه کومه لار ده، چه کوم Supporting wall دے ، هغه Supporting wall کښ یو ډیر لوے چونړ راغلے دے ، خدائے د نه کړی که لږے

اوبه سیوا شوے ، د هغے به دومره لوے نقصان وی چه د هغے به بیا څه سر نه معلومیږی۔ نو زما درخواست دا دے جناب والا ، چه مونږ ته د Supporting walls جور کړے شی خو مونږ ته د گټے نه ایږدی، مونږ له Concrete Supporting walls جوړکړئ، پکښں راته سیخان اودروئ۔ په دے سختے گرمئ کښں مونږ دا دعا پریښنے ده چه خدایه باران اوکړے ځکه خیر او رحمت رانه هیر وی او وایو چه خدایه باران اوکړے نو دغه اوس هډو وایو نه چه خدایه پاکه باران اوکړے ځکه چه۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: شکریه۔ شکریه رور۔

جناب احمد خان بہادر: جناب والا! یوه ډیره اهم خبره کومه، هغه دا چه د بم کوم Victims دی، د ټولو نه زیات نن سبا پکښں د مردان Affectees دی، مردان ته د ټولو نه زیات تکلیف دے۔ مونږ به په خپل Campaign کښں چغے وهلے چه د پنجاب بچے مړ شی نو د هغه د سر قیمت درے لکهه روپئ دے ، زما د بچی د زخم قیمت لس زره دے او د پنجاب د زخم قیمت یو لاکھ دے ، زما د بچی د سر قیمت یو لاکھ دے ، د پنجاب د بچی د سر قیمت درے لکهه روپئ دے۔ زما خپل صوبائی حکومت دے ، زما درخواست دا دے حیدر خان ته چه مهربانی اوکړئ زما د دے خلقو د سرونو دا قیمتونه درے لکهه روپئ کړئ، گوچه داهیڅ نه دی خو دا به وی چه د هغوی خو به پرے څه اوشی۔ بل دا ده جی چه کوم نقصان آبادئ ته کیږی یا د هغوی کاررو بار ته کیږی، گوچه ما حیدر خان سره په دیکښں ځو ځو پیرے خبرے هم کړے وے ، هغوی پکښں خپله ذاتی دلچسپی اغستے وه او کسانو سره ئے پکښں مشورے هم کړے وے خو د هغے د پاره پکښں څه فنډنگ نه وو، نو مهربانی د اوکړے شی چه د دے د پاره پکښں څه داسے پیسے کیخودے شی چه دوئ د کاروبار یا د آبادئ دغه وی۔ جناب والا! د مردان چه کوم دکانداران د ویډیو بزنس کوی، هغه خلقو ته طالبانو دهمکئ رالیږلے دی چه خپل کاروبار پریږدئ۔ د تیر شوی دیرشو، څلویښتو، پنځیشتو کالو راسے خلق کاروبار کوی دغه، هغه خلقو ته دهمکئ ملاؤ شوے دی، هغه خلق روان دی خپل کاروبار پریږدی۔ چه کوم د سلو روپو شے دے ، هغه په لسو او په پینځه روپئ باندے خرخوی۔ زما درخواست دا دے چه دوئ ته د داسے څه ریلیف ورکړے شی،

دوئ ته د بلا سود قرضے ورکړے شي چه دوئ پرے ځان له بل ځائے کاروبار روان کړے شي بلکه زهٔ به دا اووايم چه دوئ سره د امداد اوکړے شي۔ د دے نه علاوه زهٔ خپلے خبرے ختموم، د ډيزلو خو ډيره لويه مسئله ده، دا د ټولو ده، جناب والا ، زما يو ګزارش دے ، هغه دا چه پښتو ته د برابر توجه ورکړے شي۔ پښتو زمونږ مورنئی ژبه ده، پښتو ته برابر توجه پکار ده۔ جناب والا ، زما Sign boards، زما هر څه د په پښتو کښ کړے شي، زما شناختی کارډونه د په پښتو کښ شي، زما تعليم د په پښتو کښ شي، هله به زما ترقی کيږی۔ کومو قومونو چه په خپله مورنئی ژبه کښ تعليم حاصل کړے دے ، هغوی ترقی کړے ده۔

جناب سپیکر: ډير ښه۔

جناب احمد خان بہادر: چا چه خپله ژبه پريښے ده، هغوی ترقی نه ده کړے۔ د دے نه تاسو اندازه واخلئ چه زهٔ کچه ادنیٰ کښ ماشوم بچے داخل کړمه نو اول هغه پردئ ژبه ايزده کړی، د هغے نه بعد بيا د هغه تعليم شروع کيږی۔ پښتو ته د توجه ورکړے شي۔ دوئم جناب والا ، زما يو عجيبه غوندے فرمائش دے او هغه دا جی چه------

جناب سپیکر: بس راغونډ کړه۔ خبره راغونډه کړه۔

جناب احمد خان بہادر: او هغه دا جی چه جماعتونو ته توجه ورکړئ۔ الله پاک وائی چه زمکے په مخ باندے بهترين ځائے جماعت دے او خراب ترين ځائے بازار دے ، زما درخواست، زما التجا، زما ګزارش دا دے او زهٔ د دے ټول هاؤس نه سپورټ هم غواړم چه د جماعتونو د بجلئ بل معاف کړئ او يا د صوبائی حکومت ادا کوی، (تالیاں) د جماعتونو د سوئی ګيس بل معاف کړئ جی۔ زما علماء کرام کوم چه زما د دين ستنے دی جناب والا ، هغوی ته د باقاعده تنخواه مقرر کړے شي چه هغوی چندو پسے او خيراتونو پسے نه ګرځی۔ جناب والا--------

جناب سپیکر: ټهيک شو جی۔

جناب احمد خان بہادر: زما جماعتونو ته د باقاعده فنډنګ اوکړے شي جناب والا ، او يوه خبره کوم جناب والا ، چه تعمير سرحد پروګرام کښ وزير اعلیٰ صاحب په

مونږ لږ رحم اوکړی، یو کروړ روپئ ډیرے لږے دی، دا کم از کم پینځه کروړه روپئ کړئ، زما دا ملګری به هم ټول خوشحاله شی (تالیاں) او مونږ به هم ټول خوشحاله شو۔ زۀ ستاسو د ټولو ډیر مشکور یمه۔ و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین۔

جناب سپیکر: شکریه، رور۔ ملک طہماش خان صاحب۔

جناب حبیب الرحمان تنولی (وزیر مال): جناب! پہلے میں بات کر لیتا ہوں پھر وہ بات کر لیں۔

جناب سپیکر: اس کے بعد۔ ملک طہماش خان۔

ملک طہماش خان: اعوذ باللّٰه من الشیطن الرجیم۔ بسم اللّٰه الرحمن الرحیم۔۔۔۔۔

وزیر مال: جناب سپیکر! انہوں نے جو بات۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: اس کے بعد، اس کے بعد، فلور اب ان کو دیدیا ہے۔ رولز کا خیال رکھیں۔

ملک طہماش خان: جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی چه مونږ ته مو د خبرو کولو موقع راکړه۔ سپیکر صاحب، چه په دے کوم حالاتو کښې زمونږه سی۔ایم صاحب او زمونږه فنانس منسټر صاحب دا بجټ جوړ کړو، هغوی ته زۀ د خپل طرف نه خراج تحسین پیش کومه۔ په بجټ ټولو ملګرو خبره اوکړه، هر چا د خپلے ضلع، د خپلے حلقه انتخاب مسائل پکښې ډسکس کړل، کومو ملګرو چه خبرے اوکړے، اوږدے خبرے ئے اوکړے نو هغے کښې څه پته نه لګی چه چا څه خبرے اوکړے؟ زما ملګرو ته دا ریکویسټ دے چه مخصوص دوه خبرے کوئ، خپل مقصد وړاندے کوئ۔ سپیکر صاحب! ما خو خبرے ډیرے کول غوښتل خو چونکه وخت قیمتی دے، مشران به هم خبرے کوی، یو دوه منټه خبرے په ایجوکیشن باندے کول غواړم، منسټر صاحب موجود دے۔ جناب سپیکر صاحب! دے بجټ کښې یو دوه پوائنټه داسے ورکړے شوی دی چه په هغے کښې 198 پرائمری سکولونه د هلکانو او دغه رنګ د جینکو هم 200 دی، زۀ خو دا وایم چه تعلیم مونږ د پاره ډیر اهمیت لری خو چه کوم مشکلات په موجوده سکولونو کښې دی، کوم مشکلات زمونږ استاذانو صاحبانو ته دی، کوم مشکلات زمونږ سټوډنټانو ته دی چه د دے په ځائے هغه حل کړے شی نو هغه به بهتر وی۔ څنګه چه زمونږ ایم پی اے صاحب خبره اوکړه چه ماشومان په ټاټ باندے ناست وی، هغوی د پاره

چاک نه وی نو دغه زمونږ بنیاد دے او چه بنیاد مضبوط وی نو په هغے باندے آبادکاری کیدے شی۔ دوئمه اهم خبره زما روډونو بره کښ ده۔ جناب سپیکرصاحب! سی ایم صاحب ناست دے ، زمونږه چارسده روډ چه هغه تاسو ته معلوم دے چه هغه د پیښور یوه ډیره اهمه حصه ده۔ پیښور د صوبه سرحد د پاره یو داسے حثیت لری لکه څنګه چه د بچی د پاره د مور غیږ وی۔ جناب سپیکرصاحب ! چه یو سړے د مالاکنډ نه راروان شی نو زما په خیال هغه به زمونږ نه مخکښ رارسی، مونږ په چارسده روډ د بخشی پل د علاقے نه چه رارسو نو په ګنټهو ګنټهو ټریفک اکثر جام وی۔ وجه دا ده جی چه د نن نه اووه اته کاله، نهه کاله مخکښ یو د رنګ روډ هم افتتاح شوے وه خو هغه منصوبه ناکامه پاتے شوه، نیمه پاتے شوه او د هغے په وجه د هغے هغه Flow چه کومه وه، هغه رش چه کوم دے ، هم په چارسده روډ باندے پاتے شو، مخکښ لا نه ړو او چارسده روډ باندے چه اکثر رش وی، اکثر په چارسده روډ باندے لوډ وی نو بیا ورسره، مونږ سره Already یو دوه بائی پاس موجود دی چه هغه زۀ افسوس کوم چه په دے بجټ کښ نظرانداز شوی دی------

جناب سپیکر: دا لږ نوټ کړئ جی۔

ملک طهماش خان: سپیکر صاحب! دا تاسو ته ما څو څو ځل وئیلی وو چه دا روډونه په بجټ کښ شاملول دی، تاسو وئیل چه ما په کریش پروګرام کښ شامل کړے دے خو هغه ما اوکتو، هغه هم نه دے شامل شوے۔ سپیکر صاحب! کله چه دا روډ د چارسده روډ نه سټارټ شی، د لنډی سړک نه او په دارمنګو باندے دا اودریږی نو د دے نه بیا ورسره ورسره دا واحد یو دوه لارے دی چه یو خزانه متهرا روډ دے او یو لنډی سړک نه تر دارمنګو پورے ، دا زما په خیال ټول اته کلومیټره روډ دے سپیکرصاحب، کله چه یوه ایمرجنسی راشی او مونږ مریض هسپتال ته رسوؤ نو داسے مو ډیر واوریدل او لیدل چه اکثر مریض په لار کښ ساه ورکړی، اکثر ماشومان سکولونو ته لیټ رسی۔ د دے اووه اتو کلومیټرو سره زمونږ ډیر مشکلات حل کیدے شی۔ په دے روډونو باندے یوازے زمونږ د لوکل خلقو آمدورفت نه دے ، په دےروډونو باندے جی د چارسدے خلق، د مردان، د سوات، د مالاکنډ او د باجوړ خلق هم ځی۔ زۀ دا وایم جی چه بجټ خو

ډیر ښکلے جوړ شوے دے ، دا مونږ منو چه دوئ باندے ، دوئ ته مونږه خراج تحسین به د خیره پیش کوؤ خو خوش قسمتی دا ده چه وزیر اعلیٰ صاحب موجود دے او زما په خیال دا یوه ډیره ضروری خبره ده چه دا کوم دوه روډ ونه دی چه دا ایم اینډ آر کښ واچوی او په دے باندے فوری کار شروع شی۔ خزانه متهرا روډ چه په دے باندے همیش له د ګنو ټرالئ تلی دی او تباه کړے ئے دے۔ زما په خیال د یو وړوکی ګاډی اوس په هغے باندے تګ ډیر مشکل دے۔ دوئم نمبر خبره ده چه کوم د لنډی سړک نه کوم چه د چارسدے روډ نه تاؤ شوے دے ، لنک روډ دے دارمنګو پورے ، هغے باندے جی اوس، خوش قسمتی زمونږ دا ده چه یو ویمن یونیورسټی لګیا ده جوړیږی چه د هغے تاسو هم وزټ کړے دے ، زما په حلقه کښ ده او زمونږه قاضی اسد صاحب منسټر هم وزټ کړے دے خو هغه کوم روډ چه دے او هغه خلق راځی هغے ته، نو زهٔ دا وایم چه یره دا روډ فوری طور تیار شی۔ زهٔ ستاسو ډیر وخت ضائع کول نه غواړم۔ زهٔ ستاسو ډیر مشکور یم چه مونږ له مو موقع راکړه۔ ډیره ډیره مننه، شکریه جی۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریہ۔ جی عطیف خان۔

<u>جناب عطیف الرحمان:</u> جناب سپیکر صاحب! طهماش خان صاحب د خبرے سره زهٔ هم یوه خبره کول غواړم -----

<u>جناب سپیکر:</u> عطیف خان تہ مائیک کھلاؤ کړئ۔

<u>جناب عطیف الرحمان:</u> زما دے ورور چه کومه خبره د رنګ روډ متعلق اوکړه نو زهٔ دا خبره د وزیر اعلیٰ صاحب په نوټس کښ راولمه چه د رنګ روډ د پاره کومه زمکه Acquire شوے وه او په هغے Demarcation شوے وو جی، دا ډیره ضروری خبره ده او په دے باندے زمونږ د خزانے ډیر غټ تاوان شوے دے ، هغه خلقو ته د دے Payment شوے دے او هغه خلقو د دے پیسے اغستے دی او په هغه زمکه باندے اوس پی ډی اے والا خلقو ته نقشے پاس کړے دی او په هغه زمکه باند خلقو لس لس چهته بلډنګز اودرولی دی، نو د رنګ روډ دا بقایا حصه کومه جوړه شوه نو په ورسک روډ باندے چه زمونږ کوم د رش Flow ده، دا به هم ډیره کمه شی یا په یونیورسټی روډ باندے کومه د رش Flow ده، دا به هم ډیره کمه شی، نو زما دا مطالبه ده چه د رنګ روډ دا باقی حصه د فوری طور باندے

جوړه کړے شی او په دے باندے کومو خلقو چه ناجائز قبضه کړے ده، د دوئ نه د دا قبضه واپس واغستلے شی۔

جناب سپیکر: شکریہ، عطیف خان۔ شازیہ طہماش۔

جناب حبیب الرحمان تنولی (وزیر مال): جناب والا! میں۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: تنولی صاحب، جلدی سے صرف جواب دیدیں۔

وزیر مال: جناب سپیکر! Personal explanation، مردان سے محترم ایم پی اے صاحب نے یہ فرمایا تھا کہ چندروز پہلے سیلاب آیا اور اس میں چند جانیں ضائع ہوئیں، میں عرض کرتا ہوں کہ چاہیئے تو یہ تھا کہ اسی دن یہ بات ہاؤس کے نوٹس میں آتی۔ یہاں منور خان صاحب نے لکی کے حوالے سے بات کی تو میں نے پچھلے جو بعد دوپہر اجلاس ہوا، اس میں ان کو انفارمیشن ہاؤس میں دی کہ وہاں پر جو اموات ہوئیں، ان کو چیک بھی ملے اور موقع پر ٹینٹ بھی پہنچے۔ ہوا اسطرح کہ مون سون کی آمد کے پیش نظر جناب چیف منسٹر صاحب نے ایک مٹینگ منعقد کی جو کہ چیف سیکرٹری نے اٹینڈ کیا، میں نے اٹینڈ کیا، تمام ڈی سی اوز کو اس میں طلب کیا گیا اور پراونشل لیول پر ایک کنٹرول روم بنایا گیا اور اسی طرح تمام ڈسٹرکٹس میں ڈی سی اوز کے ساتھ کنٹرول رومز بنائے گئے، تو یہ ہاؤس کے مفاد میں ہے کہ کوئی مسئلہ ہو، وہ ڈی سی او کو فوری طور پر آگاہ کریں کہ یہ معاملہ ہے اور وہ اس پر عملدرآمد کریں گے اور کوئی بات ہو تو پھر پراونشل کنٹرول روم کو مطلع کریں۔ تھینک یو جی۔

جناب سپیکر: ٹھیک ہے، شکریہ جی، شکریہ جی۔ شازیہ طہماش بی بی۔

محترمہ شازیہ طہماش: بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ شکریہ جناب سپیکر صاحب، کہ آج بجٹ کے عمومی بحث کے حوالے سے آپ نے مجھے موقع دیا۔ بجٹ کے حوالے سے کافی پوائنٹس میں نے لکھے ہوئے تھے لیکن کرکٹ کے آخری کھلاڑی کی طرح میرے حصے میں کچھ بچا نہیں ہے کیونکہ زیادہ تر باتیں عبدالاکبر خان صاحب نے اور پھر میرے والد صاحب کے ہم نام طہماش خان صاحب نے کر دی ہیں۔ میں زیادہ Detail میں نہیں جاؤنگی لیکن بہر حال بجٹ جو ہے تو وہ ایک Policy document ہوتا ہے جو گورنمنٹ کی پالیسی کو Reflect کرتا ہے کہ وہ ہیلتھ کو یا ایجوکیشن کو یا کس کس سیکٹر کو زیادہ اہمیت دیتی ہے اور کس حد تک اس میں Allocation انہوں نے کی ہوتی ہے۔ خوش قسمتی سے اس بجٹ میں تقریباً تمام سوشل سیکٹرز کو کور کرنے کی کوشش کی گئی ہے اور میں اس پہ وزیر خزانہ صاحب کو اور ان کی ٹیم کو

Appreciate کرونگی بلکہ میں زیادہ اس بات کا انہیں کریڈٹ دونگی کہ ڈیڑھ ماہ کے قلیل عرصے میں اس سے بہترین بجٹ میرا خیال ہے شاید نہیں بن سکتا تھا۔ غلطیاں بھی ہیں، کافی ابہام بھی ہیں بجٹ میں اور اگر اس پر بات نہ کی جائے تو وہ صحیح نہیں ہوگا لیکن بہر حال وقتاً فوقتاً میں سمجھتی ہوں کہ ہم اس کو Highlight کرتے رہیں گے کیونکہ بجٹ ابھی Proposed form میں ہے ہمارے پاس اور جب اس پہ عملدرآمد شروع ہو جائے گا، جب اس پر Implementation کا عمل شروع ہو جائے گا تو تب پتہ چلے گا کہ جو جو وعدے ہم نے عوام سے کئے تھے، اپنے Elected ممبران کے ساتھ کئے تھے تو کس حد تک ہم انہیں پورا کر سکے ہیں۔ اے ڈی پی کے حوالے سے جی میں بات کرونگی۔ اس سے پہلے بھی بات ہو چکی ہے۔ جہاں سب اپنے ضلع کے حوالے سے بات کر رہے ہیں، میں بھی کرونگی لیکن میرا ضلع پشاور اس حوالے سے تھوڑا Unique ہے کہ جتنی بھی Facilities ہیں پشاور ڈسٹرکٹ میں، انہیں دوسرے ضلعوں کے لوگ بھی باقاعدہ استعمال کر رہے ہیں۔ میں اگر کہوں کہ مالاکنڈ والے بھی استعمال کر رہے ہیں، دیر والے بھی استعمال کر رہے ہیں، بونیر والے بھی استعمال کر رہے ہیں تو غلط نہیں ہوگا۔ ہم اگر ہیلتھ کے شعبے میں دیکھیں، ہم اگر ایجوکیشن کے شعبے میں دیکھیں، ہم اگر Even روزگار کے شعبے میں دیکھیں تو تب بھی دوسرے ضلعوں کے لوگوں کا زیادہ تر انحصار پشاور ڈسٹرکٹ پہ ہے اور وہ اسی لئے ہے کہ۔۔۔۔

جناب سپیکر: شاہی خان، وزیر صاحب اس طرف ذرا توجہ دیدیں۔

محترمہ شازیہ طہماش: سر! اس کا نام شازیہ خان نہیں ہے، شجاع سالم ہے، پھر ایک اور ہم نام میرا پیدا ہو جائے گا۔ (قہقہہ) بہر حال میں بات کر رہی تھی پشاور ڈسٹرکٹ کے حوالے سے تو میں مشکور ہوں وزیر خزانہ کی، سی ایم صاحب کی کہ انہوں نے اے ڈی پی میں چودہ منصوبے رکھے ہیں، اس میں چھ نئے منصوبے انہوں نے رکھے ہیں لیکن خوشی کی بات ہوتی کہ اگر کوئی بڑا میگا پراجیکٹ رکھا جاتا، وہ اسلئے کہ جیسے کہ میں نے عرض کیا کہ نہ صرف دوسرے ضلعوں کے لوگوں کا بوجھ ہے اس ضلع پہ، بلکہ افغان مہاجرین کی ایک بہت بڑی تعداد ہے جو کہ ابھی تک جتنے بھی ہمارے Available resources ہیں، ہمیں بہت مشکل پیش آرہی ہے انہیں Manage کرنے میں اور سینیئر وزیر، اگر بشیر بلور صاحب یہاں پر موجود ہوتے تو وہ شاید زیادہ بہتر آپ کو بتاتے کہ پشاور پوری طرح Developed نہیں ہے، چار ٹاؤن میں Divided ہے، ٹاون ون، ٹو، تھری اور فور۔ ون اور تھری پھر بھی کسی حد تک Developed ہیں لیکن ٹو اور فور میں، میں ابھی بھی آپ سے کہہ سکتی ہوں کہ اتنی زیادہ Facilities ابھی وہاں پہ نہیں ہیں۔ مجھے

ان چیزوں کا اسلئے پتہ ہے کہ ہم لوگ Gross roots سے ہو کر کے آئے ہیں، ہم لوگ لوکل گورنمنٹ سے ہو کر کے آئے ہیں، ایک نرسری سے ہو کر کے آئے ہیں، میرے ساتھ باقی ناظمین بھی ہیں، وہ اس بات کی تائید کریں گے کہ ون اور تھری میں کافی سہولیات ہیں، ہم جانتے ہیں لیکن ان سہولیات کو Maintain کرنے کے حوالے سے، بجٹ کا ایک بڑا حصہ صرف ملازمین کی تنخواہوں پہ صرف ہوتا ہے۔ تو کہنے کا مقصد میرا یہ ہے کہ بالکل میں اس چیز کے حق میں ہوں کہ باقی صوبوں کو بھی Develop کیا جائے، ان کو سہولیات ملنی چاہئیں لیکن میں سمجھتی ہوں۔۔۔۔۔

<u>ایک آواز:</u> باقی ضلعوں کو۔

<u>محترمہ شازیہ طہماش:</u> باقی ضلعوں کو، Sorry لیکن میں سمجھتی ہوں کہ یہ ان کے جو Elected representatives جو ماضی میں گزرے ہیں، یہ تو ان کا کام تھا کہ اپنے ضلع کیلئے وہ میگا پراجیکٹس لاتے کہ جو ان کے ضلع کو Develop کر سکتے تھے بجائے اس کے کہ صرف چھوٹی چھوٹی سکیموں میں اپنا فنڈ ضائع کر دیا تو اس کی سزا پشاور ضلع کو نہیں ملنی چاہیئے۔ میں پھر وہی بات کہونگی کہ میرے پاس اس کی ایک Solid justification ہے اور وہ یہ ہے کہ ابھی بھی اس ضلع پہ باقی ضلعوں کا بوجھ ہے اور اس کی Maintenance کیلئے ہمیں اسے فنڈ دینا چاہیئے۔ تھوڑا سا ٹریفک کے حوالے سے ایک اہم ایشو، جس پہ مجھ سے پہلے معزز ممبر نے بات کی ہے، صرف ایک Important اس کا Strictness پہ کہنا چاہونگی کہ جو دارمنگی روڈ اور متھرا، خزانہ روڈ ہے، یہ ایک طرح سے جی ٹی روڈ کیلئے بائی پاس کا کام کر رہا ہے۔ جتنا بھی اس پہ لوڈ آ رہا ہے، ایک طرح سے اس کو Divide کر رہا ہے۔ کچھ عرصہ پہلے جو ایک دو گروپس کے درمیاں لاء اینڈ آرڈر کی Situation کافی Tense ہو گئی تھی، اس وجہ سے بھی باڑہ سائڈ کا جو ٹریفک ہے، وہ بھی اس پہ Divert ہو چکا ہے لیکن اگر آپ اس روڈ کی حالت دیکھیں تو انتہائی خراب ہے۔ تو میں سمجھتی ہوں، میری یہ درخواست ہو گی وزیر اعلیٰ صاحب سے، اگر وزیر اعلیٰ صاحب میری بات سن رہے ہیں کہ وہ ایم اینڈ آر میں متھرا، خزانہ اور جو دارمنگی روڈ ہے، اس کیلئے ضرور کچھ نا کچھ رقم مختص کریں۔ آخر میں ایک چھوٹی سی بات جس پہ میں ہاؤس کی توجہ چاہونگی اور وہ یہ ہے کہ جو Schedule of new expenditure book ہے، Fresh volume جو ہے اس کا 2008-09، اس میں ایک ہیڈ ہے کہ بھئی 'Creation of temporary posts of drivers of ex-Chief Ministers, ex-Chief Secretaries' جو ہیں سابقہ آٹھ چیف سیکرٹریوں کیلئے آٹھ عدد ڈرائیورز

کیلئے رقم رکھی گئی ہے جو کہ انچاس لاکھ سے اوپر کی بنتی ہے تو میں سمجھتی ہوں کہ یہ کہاں کا انصاف ہے کہ ایک بندہ پوری عمر سروس کرتا ہے، اس کی تنخواہ پاتا ہے اور جب وہ ریٹائر ہو جاتا ہے تو اس کے ڈرائیور کیلئے بھی ہمارے خزانے سے پیسہ چلا جائے؟ پھر تو میں سمجھتی ہوں سپیکر صاحب، آپ کا کوئی قصور نہیں ہے، پھر تو سابقہ سپیکروں کیلئے بھی ہونا چاہیئے۔ پھر تو سابقہ منسٹرز کیلئے بھی ہونا چاہیئے اور پھر خواتین نے کیا جرم کیا ہے، ان کیلئے بھی پیسے ہونے چاہئیں۔ میری تو بڑی خواہش تھی۔۔۔۔۔ (تالیاں)

<u>جناب سپیکر:</u> عبدالاکبر خان باندے بنه اولگیده۔

<u>محترمہ شازیہ طہماش:</u> میری تو بڑی خواہش تھی کہ کاش اس پہ میں کٹ موشن جمع کر سکتی لیکن چونکہ Salaries Budget پر ہم لوگ کٹ موشن جمع نہیں کر سکتے تو یہ میری پھر ایک گزارش ہو گی وزیر خزانہ صاحب سے کہ ہم نے عوام کو ریلیف دینا ہے، ہم نے عوام کو زیادہ سے زیادہ Facilities دینی ہیں، نہ کہ ہم لوگوں نے ایک ایسی چیز کی بنیاد ڈالنی ہے جس کو ہم خود اپنے اپنے Party manifesto میں Criticize کرتے چلے آرہے ہیں۔ بہرحال آخر میں ایک بار پھر شکریہ ادا کرونگی آپ کا سپیکر صاحب، اور جو وزیر خزانہ ہیں، وزیراعلیٰ ہیں، انکی پوری ٹیم کا کہ انہوں نے ایک Balanced budget پیش کرنے کی کوشش کی ہے۔ بہت بہت شکریہ۔

<u>Mr. Speaker:</u> The sitting is adjourned for tea break for only twenty minutes. The Leader of the House and Finance Minister will wind up the budget after tea break. Please do come every body. Thank you.

(ایوان کی کارروائی چائے کیلئے بیس منٹ تک کیلئے ملتوی کی گئی)

(وقفہ کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے)

<u>جناب سپیکر:</u> بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ شگفتہ ملک بی بی، شگفتہ ملک۔

<u>محترمہ شگفتہ:</u> شروع کوم په نامه د خدائے چه بخښونکے مهربانه دے۔ سپیکر صاحب! ستاسو ډیره مننه چه ما له مو د خبرو موقع راکړه په دے بجټ باندے۔ نن په دے هاؤس کښې زمونږه فنانس منسټر صاحب موجود دے، وزیر اعلیٰ صاحب موجود دے، په دے دومره کم وخت کښې دومره ښه بجټ پیش کولو باندے زهٔ دے پوره هاؤس ته مبارکباد ورکوم جی۔ داکوم بجټ چه پیش شو په دے دومره کم وخت کښې، ډیر ښه بجټ دے، زهٔ د دے ستائینه کوم خو د دے نه

علاوه یو څو تجاویز زهٔ وړاندې کول غواړم. زما په خیال د صوبه پختونخوا په شپیته کاله تاریخ کښې دا یو کریډټ دے حکومت ته ځی چه هغوئ په پیښور کښې د خواتین د پاره د یو کامرس کالج افتتاح اوکړه جی. د دے نه علاوه به زهٔ دا خواست کوم او زما دا تجویز دے چه په دے کامرس کالج کښې د د پورا پختونخوا صوبے نه ښځو ته نمائندګئ ورکړے شی او د هر ډسټرکټ د پینځه یا شپږ فیمیل سټوډنټس د ایډمیشن د پاره دوئ ته نمائندګی ورکړے شی. د دے نه علاوه جی چه په دے بجټ کښې د میټرک سټوډنټس د پاره د پینځه زره روپو اعلان شوے دے چه کوم فرسټ پوزیشن هولډرز دی ، دا به هغوی ته ملاویږی نو زما یو تجویز دا دے چه د فرسټ پوزیشن هولډرز نه علاوه مونږه سره ټاپ تهری کښې چه کوم سیکنډ او تهرډ پوزیشن هولډرز دی، هغوی ته هم مونږه څه قسمه Concession ورکړو او دوئ سره هم لکه څنګه چه دیکښې Five thousands دی که مونږه دا سے اوکړو چه دیکښې Two thousands مونږه فرسټ پوزیشن هولډر ته او چه کوم سیکنډ او تهرډ دی، هغوی ته مونږه Fifteen hundred یا که Possible کیدے شی نو دامونږه Six thousands کړو او په دیکښې Three thousands فرسټ پوزیشن هولډر ته او چه کوم سیکنډ او تهرډ دی ، نو هغوی ته هم مونږه په دیکښې څه رعایت ورکړو نو زما په خیال دے سره به چه کوم ټاپ تهری سټوډنټس دی نو دا به لږ Encourage شی او د دوئ Competition به هم ډیر زیات شی. دغه زما یو Suggestion دے جی. د دے نه علاوه جی د پشاور یونیورسټئ به زهٔ خبره اوکړم چونکه پشاور یونیورسټی چه ده، دا په پیښور کښې ده او دا این۔اے ټو کښې جوړه شوے ده او په دیکښې چه کومه زمکه ورکړے شوے ده، په دیکښې خلقو کورونه ورکړی دی نو داد این۔اے۔2 په حلقه کښې راځی، پی۔ایف۔5 کښې راځی او دا په پیښور کښې ده نو که یوه مخصوص کوټه د پیښور د خلقو د پاره، سټوډنټس چه کوم دی او Appointments چه کیږی، ځکه چه دا د پیښور د خلقو زمکه ده، په کومه حلقه کښې چه یو سکول جوړ شوے وی نو اکثر زمونږه ایم پی ایز دا خبره کوی چه دا زمونږه په حلقه کښې دے نو زمونږه د خلقو پرے زیات حق دے ، نو زهٔ به وایم که په دے یونیورسټئ کښې مخصوص یوه کوټه د این۔اے ټو خلقو له او د پیښور خلقو له مختص کړے شی نو دا به ډیره ښه

وی جی۔ د دے نه علاوه جی زما یونین کونسل شاهین ټاون37 دے جی، په پی۔ایف۔5 کښې راځی او په دغه یونین کونسل کښې د جینکو د پاره سرکاری سکول نشته، زما به دا خواست وی، ځکه چه په هغه ځائے کښې چه کوم سکولونه دی نو هغه په یونیورسټی ټاون کښې دی، د سړک نه هغه سائډ ته دی، نو هغه ماشومانے چه د کومو Parents نه شی Afford کولے، چه کوم د سړک نه هغه طرف ته سکول دے، نو هلته دومره زیات مسائل دی چه د هغوی Parents هغوی ته دا اجازت نه ورکوی بلکه هغوی دا رسک اغستل نه غواړی چه دا خپلے ماشومانے مونږه اولیږو ځکه چه تقریباً څو ځله داسے حادثات شوی دی چه په دیکښې ماشومانے جینکئ چه کومے روډ کراس کوی نو هغوی ایکسیډنټ شوی دی او ډیرے پکښې مړے شوی دی، نو زما به داخواست وی چه په دے یونین کونسل کښې د یو سرکاری سکول جوړ کړے شی د جینکو د پاره جی۔ د دے نه علاوه یو پوائنټ چه کوم وائټ پیپرصفحه نمبر6 کښې دے 'Daily wages of construction workers in deferent cities', په دیکښې جی دا نور چه کوم ښارونه دی په نورو صوبو کښې، د هغوئ چه کومه مزدوری ده، هغه د دے ټولو نه زیاته سیوا ده خو زمونږه د پیښور چه کومه ده نو هغه د ټولو نه کمه ده، نو I think it should be increased. ځکه دا دوه سوه ډیرے کمے دی، دا زما یو Suggestion دے۔ د هیلتھ حوالے سره به زهٔ خبره اوکړم چه کوم دلته زما نه مخکښې ایم پی ایز صاحبانو هم په دے باندے خبره اوکړه چه څنگه په بجټ کښې د Heart patients یا د دمے د مریضانو د پاره د هاسپیټل جوړولو خبره شوے ده نو زهٔ به دا ریکویسټ کوم چه د هیپیټائټس مریضانو د پاره د هم سنټرے جوړے کړے شی ځکه چه تقریباً په هر دوئم کور کښې د هیپاټائټس مریض موجود دے خو په دیکښې زیات چه کوم متاثره شوی دی، هغه د پیښور عوام دے۔ دلته زمونږه سینیئر منسټر صاحب، بشیر بلور صاحب ناست دے، زمونږه د پیښور ایم پی ایز، منسټران به هم ما سره په دے Agree وی چه د دے نه زیات نقصان زمونږه پیښور ته دے ځکه چه د دے یوه وجه چه کومه ده، هغه دا ده چه دے پیښور کښې کوم د اوبو پائپونه تیر شوی دی جی نو دا پائپونه ټول ډیر زاړه دی او دا په نالو کښې د ننه تیر شوی دی، هغه نالئ چه کومو کښې گنده اوبه وی نو هغه پائپونه چه کوم

زاړه دي جي، نو هغے کښې سوري شوي دي او د نالو سخا اوبه دے پائپونو ته راځي. د دغے پائپونو اوبه بيا خلق څښکي او تقريباً په هره دوئمه درئمه ورځ باندے ما ته د دنيا ښځے راځي او د هغوي دغه مرض دے او د دے دا علاج دومره Expensive دے چه دا غريب سړے نه شي Afford کولے. نو زما به ريکويسټ دا وي چه تاسو يا خو د دے داعلاج فري کړئ او که فري Possible نه وي نو د دے د انجکشنز د پاره تاسو له څه Reasonable price پکار دے ځکه چه دا ډومره غريبانان خلق دي، د هغوي دا هيپيټائيټس سي دے او د هپاټائيټس مريضانو د پاره د سنټر قائم کړے شي تقريباً په هر ډسټرکټ کښې خو پيښور ډير زياټ متاثره دے نو د پيښور دا پائپونه چه دي، زهٔ به ريکويسټ کوم چه يو خو د دا تبديل کړے شي، د دے په ځائے د نوي پائپونه راوړي او دا پائپونه چه کوم دي نو دا د په دے نالو کښې Kindly نه لګوي بلکه دا د د روډونو د پاسه تير کړے شي ځکه چه که دا روډ د پاسه وي نو دا کومے ګنده اوبه چه دي نو د دے نه به دا پائپونه، که په ډيکښې سوري هم وي، په حفاظت باندے وي. د دے نه علاوه جي بل پوائنټ چه کوم دے ، هغه د جيل خانه جات باره کښې دوئ چه کومے خبرے اوکړے چه د هغوي د پاره کوم Facilities دي، د صحت حوالے سره هم دي، د هغوي د پاره واټر کولر دوئ بندوبست کړے دے ، دا ډير ښه اقدام دے ، زهٔ د دے ستائينه کوم خو د دے نه علاوه په دے جيلونو کښې چه کومے زنانے دي، کومے ښځے دي، د هغوي سره چه کوم ماشومان بچي دي، نو آيا زهٔ دا ټپوس کول غواړم چه د دوئ د دے ماشومانو د مستقبل د پاره، د دوئ د ايجوکيشن يا د دوئ تفريح د پاره په دے بجټ کښې داسے څه شتے ځکه چه د دغه ماشومانو Future به څه وي؟ هغه په جيلونو کښې د مياندو سره وي نو دا خلق چه په دے جيلونو کښې په دے Tense ماحول کښې وي ند د دوئ د پاره په دے جيلونو کښې داسے څه Basic education پکار دے او د دے نه علاوه د دوئ د تفريح د پاره څه پکار دي چه کم از کم دغه ماشومان خپلے هلے ځلے دغلته جاري ساتي. دغه جي زما تجويز وو. د دے نه علاوه به زهٔ ريکويسټ کوم، د وزير اعلیٰ صاحب توجه به غواړم او زمونږه چه کوم منسټران صاحبان ناست دي، د هغوي توجه به هم غواړم چه ډومره فيميل ايم پي ايز دي، چونکه زهٔ پخپله

Reserved seat باندے یمه او Elected MPAs ته به زما دا خواست وی چه ستاسو په حلقو کښې څومره Female reserved seats باندے ایم پی ایز راغلے دی، پکار دا ده چه تاسو په خپله حلقه کښې کومے هلے ځلے کوئ، کوم تاسو پروګرامونه کوئ، چا سره تاسو میټنګز ایږدئ، څه Kind of functions وی نو تاسو له دا پکار دی چه تاسو په هغے کښې دا فیمیل ایم پی ایز خامخا Invite کوئ۔ (تالیاں) دا فیمیل ایم پی ایز چه دی، په یو حلقه کښې اوسیږی، د هغے حلقے تاسو ته به پته وی چه تاسو ایم پی ایز له چه کوم خلق راځی نو هغوی دا نه ګوری چه ته Elected یے که ته Selected یے، هغوی وائی چه You are MPA. که هغوی ته مونږه ډیر دا خبره کوؤ د Reserve خو هغوی صرف دا ګنړی چه سړے هم ایم پی اے دے او ته ښځه یے، ته هم ایم پی اے یے، نو ته به مونږ له هغه کارونه کوے۔ ایم پی اے کار کوی، ته به هم مونږ له کوے نو یو خو به زهٔ ریکویسټ دا کوم منسټران صاحبانو ته بلکه زهٔ به چیف منسټر ته هم دا خواست کوم چه کله تاسو یوے حلقے ته ځئ او هلته کښې Elected MPA تاسو سره وی، نو ریکویسټ به مے دا وی چه هلته به فیمیل ایم پی ایز هم تاسو ضرور Invite کوئ چه هغوی تاسو سره وی جی (تالیاں) ځکه چه زمونږ نه د خلقو زیات Expectations دی۔ هغه خلق چه کوم مونږ له راځی، مونږ له کارونو له راځی نو زمونږه هم دا فرض جوړیږی، مونږه هم په الیکشنو کښې چه کومے هلے ځلے کړے دی او زهٔ په دے فخر کوم چه د یو داسے پارټئ سره تعلق ساتم چه هغوی همیشه د ښځو د حقوق د پاره په هر ځائے کښې آواز اوچت کړے دے، د ښځو چه کوم مسائل دی، د هغے د پاره ئے اقدامونه پورته کړی دی۔ د دے نه علاوه چه مونږ ته ئے کوم عزت را کړے دے، زهٔ هیله لرم چه په راتلونکی وخت کښې به هم زمونږه د پارټئ چه کوم منشور دے، هغه به انشاء اللّٰه Follow کیږی او وزیر اعلیٰ صاحب او منسټرانو صاحبانونه مے دا ریکویسټ دے چه تاسو په راتلونکی وخت کښې چه کومے هلے ځلے کوئ نو تاسو به مهربانی کوئ چه تاسو به فیمیل ایم پی ایز ته هغه Respect کوم چه تاسو ورکړے دے او زهٔ د وزیر اعلیٰ صاحب ډیره زیاته مشکوره یمه چه دوئ فیمیل ته څومره Respect ورکړے دے، هغه د

ټولو نه زیات دے او اللّٰہ تعالیٰ د دوئ له دومره Respect ورکړی خو د دے نه علاوه په راتلونکی وخت کښ به هم دا هیله زهٔ د دوئ نه لرم جی۔۔۔۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: بی بی، بس لږ مختصر کوئ جی۔

محترمہ شگفتہ: داسے ده جی چه که تاسو، دا زمونږه Elected MPAs صاحبان دوه دوه گهنټے ولاړ وی نو که مونږه جی پینځه منټه خبره اوکړو نو دا به څه بده خبره نه وی جی۔ (تالیاں) سپیکر صاحب چه کله دا خبره اوکړی چه مختصر کړئ نو هغه چا چه څه تیاری کړے وی نو هغه هم ترینه هیر شی کنه نو بیا توجه زمونږه سپیکر صاحب ته شی جی۔ نو دغه زما یو څو تجاویز وو او زهٔ هیله لرم چه په راتلونکی وخت کښ به انشاء اللّٰه تاسو د فیمیل خیال ساتئ۔ د دے نه علاوه چه کوم تجاویز ما ورکړل، زمونږه سینیئر منسټر صاحب ناست دے جی، دوئ ته هم پته ده چه په سټی کښ د پائپونو څومره مسئله ده؟ که دا بدل شی او دا په روډ باندے تیر شی نو دا مسئله به حل کړے شی۔ په آخیره کښ یو شعر جی:

؎ زمونږ د شرافت امتحانونه د څوک نه اخلی
دا سر تلی کښ اېږدو مه خامخا به درته وایم
(تالیاں)
عالمو درله ډیر کاروه وارو نومونه ایښی دی
وطن د پښتنو یے پختون خوا به درته وایم
(تالیاں)

جناب سپیکر: محترمہ شازیہ اورنگزیب صاحبہ۔ نشته دے ؟ محترمہ زرقا بی بی صاحبہ۔

محترمہ زرقا: بسم اللّٰه الرحمن الرحیم۔ جناب سپیکر! غربت کے خاتمے کیلئے صوبائی حکومت نے بجٹ میں تقریباً ایک کروڑ روپے رکھے ہیں، چونکہ بعض اندازوں کے مطابق صوبے میں چالیس سے لیکر پچاس فیصد لوگ غربت کی لکیر سے نیچے زندگی گزار رہے ہیں تو اس فنڈ سے کس قسم کے نتائج کی توقع کی جاسکتی ہے؟ جناب سپیکر! بجٹ میں میڈیکل کالجوں میں سیلف فنانس سکیم دوبارہ شروع کرنے کی بھی تجویز ہے، اس س ے فائدے کی بجائے میرے خیال میں نقصان ہوگا کیونکہ اس سے ایک غریب بچے کا حق مارا جائیگا، اس میں احساس محرومی پیدا ہوگی اور یہ میرٹ کی دھجیاں اڑانے کے مترادف ہوگا کیونکہ

امیر پیسے کے بل بوتے پر اپنے بچے کو کہیں بھی داخلہ دلوا سکتا ہے۔ جناب سپیکر! عوام نے موجودہ حکومت کو بھاری مینڈیٹ سے پاس کروایا ہے، وہ اسلئے کروایا ہے کہ یہ ان کو روٹی، کپڑا اور مکان دیگا، ان کو روزگار دیگا لیکن چونکہ موجودہ حکومت کنٹریکٹ بنیاد پر بھرتی ہونے والے ملازمین کو برطرف کر رہی ہے، اس کی ایک واضح مثال ڈیرہ اسماعیل خان میں ہے جہاں ورکس اینڈ سروسز ڈیپارٹمنٹ جو کہ وزیر اعلیٰ کا محکمہ ہے، کے تقریباً ستائیس کے قریب ورکرز کو برطرف کر دیا گیا ہے۔ کیا یہ ان سے روٹی چھیننے کے مترادف نہیں ہے؟ صوبائی بجٹ میں عوام کی ریلیف کیلئے کچھ نہیں کیا، مہنگائی اسی طرح بڑھ رہی ہے، ڈیزل غائب ہو رہا ہے، روز بروز ڈاکے پڑ رہے ہیں، بینک لٹ رہے ہیں اور لوگ ذہنی مریض بن کر خودکشیاں کر رہے ہیں۔ جناب سپیکر! امن وامان کا یہ حال ہے کہ ہمارے قائد جمیعت اور عظیم بین الاقوامی لیڈر، مولانا فضل الرحمان پر جان لیوا حملہ کیا گیا جسکی ہم پرزور مذمت کرتے ہیں۔ اس حملے سے پاکستانی وقار، خاص طور پر پختونوں کی روایات کو دھچکا لگا ہے۔ میری حکومت سے اپیل ہے کہ حملے کرنے والوں کو سزا دی جائے۔ اگر ایسا نہ کیا گیا تو کل ایک عام آدمی کے دل میں خوف پیدا ہوگا کہ آج لیڈر محفوظ نہیں ہے تو ہم کہاں محفوظ ہونگے؟ جناب سپیکر! آخر میں میں یہی کہنا چاہونگی کہ سارے اختلافات کو بالائے طاق رکھ کر صوبے کی ترقی اور عوام کی فلاح و بہبود کیلئے کام کیا جائے اور مسائل کو مدنظر رکھ کر وسائل کی تقسیم کی جائے اور باچا خان کے فلسفے کو عملی شکل دیں یعنی روکھی ہو یا سوکھی، مل کر بانٹ کر کھائیں گے (تالیاں) ایک حدیث شریف کا مفہوم ہے کہ اخلاص کے ساتھ تھوڑا سا عمل بھی کافی ہے چونکہ اگر یہی اخلاص والا عمل ہر کوئی کریگا تو کوئی مسئلہ نہیں کہ عوام کے مسائل جو ہیں، یہ حل نہ ہو سکیں اور آخر میں سب، اپنے لئے بھی کہونگی کہ ہم بھی جو Reserved seats پر آئے ہیں، ہمارے بھی کچھ حقوق ہیں، ہمیں بھی اسی طرح حق دیا جائے جس طرح جنرل سیٹ والوں کو دیا جاتا ہے۔ شکریہ۔

(تالیاں)

جناب سپیکر: محترم اراکین اسمبلی، آج اکھٹا At a time تین دن کا ایجنڈا تقسیم کیا گیا ہے جس کے ساتھ ڈیمانڈز اور کٹ موشنز بھی ہیں لہذا آپ سب سے گزارش ہے کہ یہ ایجنڈا روزانہ آپ ساتھ لایا کریں تاکہ مزید کاپیاں چھپوانے کی ضرورت نہ پڑے۔ شاہ حسین خان الائی۔ تھینک یو۔ (تالیاں)

جناب شاہ حسین خان: بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ زۂ ستاسو ډیره شکریه ادا کومه چه تاسو په دے دومره اهم موقع باندے او د 2009-2008 په بجټ باندے ما له د

بحث کولو موقع راکړه. جناب سپیکر! کله چه بجټ پیش کیږی نو دا لازمی خبره ده چه حکومتی پارټی د هغے دفاع کوی او وائی چه دا ښائسته بجټ دے، دا عوام دوست دے او کله چه اپوزیشن ناست وی، نو دا یو روایت جوړ شوے دے چه اپوزیشن د هغے مخالفت کوی او وائی چه دا نه غریب دوست دے او نه عوام دوست بجټ دے. بهرحال زهٔ په دے خبرو کښې نه پریوځم. زهٔ به صرف دا خبره اوکړمه چه په اکتوبر 2005 کښې زمونږه په علاقه چه کومه زلزله شوے وه، د هغے نه وروستو دوه درے ادارے جوړے شوے وے، یو ته 'ډی۔آر۔یو' چه هغه په ډسټرکټ لیول باندے وی، یو ته 'پیرا' وائی چه هغه په صوبه کښې وی او یو ته 'ایرا' وائی چه هغه په مرکز کښې وی نو نه ډی۔آر۔یو، نه ایرا او نه پیرا په دے علاقو کښې هغه وخت کښې ترقیاتی کارونه کړی دی او نه اوس کوی لګیا دی، دوئ مکمل هیرا پهیری کړے ده. *(تالیاں)* د دے سره پینځه ضلعے متاثره دی جناب سپیکر. جناب سپیکر صاحب! توجه غواړم. دے سره پینځه ضلعے متاثره دی، ایبټ آباد، مانسهره، بټګرام، کوهستان او شانګله، نو دوئ په دے پینځو ضلعو کښې اوسه پورے په دے دوه نیم کالو کښې که ما ته خپل یو سکول اوښودو، یو هسپتال ئے راته اوښودو نو جناب سپیکر، زهٔ به خپل د دے اسمبلئ د رکنیت نه استعفیٰ ورکړم او تاسو ټول هاؤس ته مے دا درخواست دے چه تاسو لاړ شئ هلته کښې وزټ اوکړئ او که دوئ ما ته خپل یو سکول او یو هسپتال اوښودلو نو زهٔ به جرمانه ورکړم، زهٔ به د دے اسمبلئ د رکنیت نه استعفیٰ ورکړم جناب سپیکر. *(تالیاں)* زهٔ ډیر په تفصیل کښې نه ځمه خو زهٔ تاسو ته صرف دا ګزارش کوم چه الائی په ټول صوبه سرحد کښې انتهائی پسمانده تحصیل دے او که په دے هاؤس کښې یا چا دا خبره اوکړه چه د الائی تحصیل د کوهستان نه هم پسمانده نه دے، دا د شانګلے نه هم پسمانده نه دے، د هغوی خبره به ټهیک وی جناب سپیکر، دا دومره پسمانده دے چه په پورا الائی تحصیل کښې د په پورا تحصیل کښې د جینکو یو مډل یا هائی سکول نشتے. په پورا تحصیل کښې د جینکو مډل یا هائی سکول نشتے او جناب سپیکر، په ټول الائی تحصیل کښې صرف یو آر آیچ سی ده. په ټول الائی کښې یو آر ایچ سی ده، د دے نه علاوه دوه درے څلور بی ایچ یوز دی چه هغه زلزلے ارتاؤ کړی دی نو نه پکښې بی ایچ یو شتے او نه

پکښې آر ایچ سی ده۔ زما دے حکومت ته دا درخواست دے چه دوئ په بجټ کښې چه کومے ډسپنسریانے ایښې دی، کوم آر ایچ سیز یا بی۔ایچ۔یوز چه ایښې دی، الائی تحصیل د پاره د ترجیحی بنیادونو باندے بی ایچ یوز ورکړی، آر ایچ سی د ورکړی او سول ډسپنریانے د ورکړی۔ د دے نه علاوه جناب سپیکر، د سکولونو په مد کښې زمونږه۔۔۔۔

جناب سپیکر: شاه حسین خان! یو تپوس کوم، دا پینځو کالو کښې یے تاسو له هیڅ هم نه وو درکړی؟ (تالیاں)

جناب شاه حسین خان: په هغے کښې ما جناب سپیکر، خبره کومه جی، په دے پینځو کالو کښې جناب سپیکر، ما د جینکو پرائمری سکولونه جوړ کړی دی او په دے پینځو کالو کښې جناب سپیکر، ما یو یا دوه پرائمری سکولونه اپ گریډ کړی دی، ما مډل کړی هم دی چونکه بیا پکښې مینځ کښې زلزله اوشوله نو په هغے باندے هغه کار اوسه پورے لا پورا شوے نه دے۔ مخکښنی حکومت اگرچه ما له راکړی دی دوه سکولونه مډل، په هغے باندے لا کار پورا شوے نه دے زلزلے د وجه نه۔ د دے وجه نه جناب سپیکر، په پورا آلائی تحصیل کښې یو کالج نه ډگری شتے او نه انټر شته دے او نه هائر سیکنډری سکول شتے په ټول آلائی تحصیل کښې۔ جناب سپیکر! زما دا گزارش دے چه ما سره یا زما حلقے سره د داسے خوی اوشی لکه څنگه چه خپله سکه مور یو خپل سکه بچی سره کوی، نو آلائی تحصیل سره د داسے بنیگره اوکړے شی او زمونږه روډونه په آلائی تحصیل کښې جناب سپیکر، صرف یو روډ کوم چه د تهاکوټ نه آلائی ته تلے دے، هغه پوخ دے، د دے نه علاوه چه څومره لنک روډونه دی، هغه ټول کچه دی۔ زما دا گزارش دے چه تاسو زما د حلقے د پاره د روډونو خصوصی بندوبست اوکړئ، د پخو روډونو او په دوه کلومیټره، اگرچه دا پورا شے دے ځکه چه حکومت نوے نوے راغلے وو او دوئ چه دا بجټ تیار کړے دے، اگرچه دا ښائسته دے خو زما د حلقے د پاره د دوه نه بلکه د دے په ځائے د ما له کم از کم لس دولس کلومیټره کچه روډونه راکړی چه زما د حلقے دا پسماندگی او محرومی ختمه شی۔ (تالیاں) د دے نه علاوه جناب سپیکر، بعضے ممبرانو صاحبانو دا اووئیل

چه په پینځو کالو کښې زمونږه په حلقو کښې یا زمونږه په ضلعو کښې کار نه دے شوے ، دا ډیر معزز اراکین دی جناب سپیکر ، خو زهٔ به دا اووایمه چه مونږه خو به دا ګله کوله په تیر شوی حکومت کښې چه هر څه ډیره اسماعیل خان یوړل ، چه هر څه بنوں یوړل او هر څه دیر یوړل او د هغه ځائے هر څه مانسهرے یوړل۔ بیا د هغه ځائے ایم پی ایز او منسټر پاڅی چه زمونږه په حلقه کښې کارونه نه دی شوی ، ما ته دا انتهائی افسوس دے جناب سپیکر۔ چه په کوم ځائے کښې یو ټیوب ویل نه وو ، تیر شوی حکومت کښې هلته کښې لا محدود ، لا تعداد ټیوب ویلے جوړے شوی دی۔ چه کوم ځائے کښې سړکونه نه وو ، د دغه دریو ضلعو خبره کوم جناب سپیکر ، هلته کښې سړکونه هم جوړ شوی دی ، هلته کښې سکولونه او هسپتالونه هم جوړ شوی دی او د یو ضلع زهٔ نوم نه اخلم خو هلته کښې اتلس زره نوکرئ شوی دی ، د کلاس فور او فلانکی او ډنګړی اتلس زره نوکرئ شوی دی او زهٔ دا وایم چه په ټوله صوبه کښې به اتلس زره نوکرئ په پینځو کالو کښې نه وی شوے او په یوے ضلع کښې صرف اتلس زره نوکرئ شوی دی او بیا هم هغه ګله کوی چه مونږ ته څه نه دی ملاؤ شوے۔ د دے نه علاوه زمونږه یو ډیر معزز رکن دے ، جناب وجیه الزمان صاحب ، د مسلم لیګ (ق) سره ئے تعلق دے ، هغه وائی چه ما ته په مانسهره کښې یا زما په حلقه کښې ما ته د تعمیر سرحد نه یا په فلانکی یا په ډنګری مد کښې پیسے نه دی ملاؤ شوے ، جناب سپیکر ، هغوی ته د مرکز نه هر ایم پی اے ته Per year یو یو کروړ روپئ ملاؤ شوے دی ، د دے وجه نه خو دوئ نن په اسمبلئ کښې ناست دی۔ دوئ کارونه کړی دی نو په اسمبلئ کښې ناست دی او چه کار ئے نه وے کړے جناب سپیکر ، دوئ بیا په اسمبلئ کښې نه شو کښیناستے ، خلق خدمت غواړی۔ د مرکز نه دوئ او د دوئ ګروپ ، شیر پاؤ ګروپ یو یو کروړ Per MPA اغستے دی د هر کال او اوس وائی چه مونږ ته پیسے نه دی ملاؤ شوے ؟ بیا دوئ دا هم اووئیل چه تاسو د مرکز نه د بجلئ خالص منافع مطالبه اوکړئ ، زهٔ ډیر په ادب سره وایم چه کله زمونږه دا خان صاحب چه درے کاله د واپډا منسټر وو نو دهٔ په هغه وخت کښې دا مطالبے ولے نه کولے چه دے نن دا مطالبے کوی؟ (تالیاں) دے نن د اے این پی نه دا مطالبه کوی یا پیپلز پارټئ نه کوی ، دهٔ په هغه ورځ باندے مطالبه ولے نه کوله کله چه زمونږه خان صاحب

درے کاله د واپډا منسټر وو؟ بیا دے دا چه وائی چه امن و امان صورتحال خراب دے جناب سپیکر، زهٔ په دے خبرو کښې نه پریوځمه خو چه کله راشی نو بیا به ئے خامخا وایم، دے وائی چه زمونږه په صوبه کښې یا په ملک کښې د امن و امان صورتحال ټهیک نه دے او دے نن د اے این پی او د پیپلز پارټئ نه صورتحال ټهیک کول غواړی حالانکه دوه کاله بیا زمونږه دا خان صاحب وزیر داخله هم پاتے شوے دے او کله چه د ایم ایم اے حکومت وو، څلور کاله ښه ټهیک ټهاک امن و امان وو، هیڅ قسمه خبره نه وه پکښې خو چه کله دهٔ ته دوه کاله ملاؤ شو او دے وزیر داخله شو نو په صوبه کښې هم او په ټول ملک کښې د امن و امان صورتحال خراب شو۔ دا نه دا اے این پی قصوردے، نه د پیپلز پارټئ قصور دے او نه د ایم ایم اے قصور دے، دا د هغه خلقو قصور دے کوم چه په مرکز کښې ناست وو او دلته کښې زما او ستا د قسمت فیصلے ئے کولے، مونږه ئے دے بد امنئ ته غورځولی یو۔ زما او ستاسو لا نن د لال مسجد او جامعه حفصه، د وزیرستان او د باجوړ هغه واقعات نه دی هیر شوی او دوئ لګیا دی زمونږه په زخمونو باندے مالګے اچوی، نن دوئ مونږ ته دا وائی چه د امن و امان صورتحال خراب دے، دا زمونږه په زخمونو باندے دوئ مالګه اچوی حالانکه چه مونږه کله وو او زمونږه حکومت وو، ټهیک ټهاک حکومت وو، خائسته صورتحال وو۔ زهٔ په آخیره کښې تاسو نه دا مطالبه کوم چه زمونږه په دے آے ډی پی کښې تاسو لس دولس پلونه اچولی دی، مهربانی اوکړئ شانګله او د بټګرام ضلع د پاره د تهاکوټ یو پل دے، زهٔ د وزیر اعلیٰ صاحب توجه غواړم، د تهاکوټ یو پل دے د شانګله او د بټګرام ضلع په مینځ کښې، هغه په جنګی حالاتو کښې کیدے شی بیا زمونږه پکار را نه شی نو د شانګلے او د بټګرام په مینځ کښې یو پل دے د میرے په مقام باندے، میره او سیج بیار، دا پل چه تاسو مونږ له راکړئ نو دا به مونږ له اوس هم او په جنګی حالاتو کښې چه کله خدائے د نه کړی په ملک کښې داسے څه حالت پیښ شی او د تهاکوټ پل زمونږه ناکاره شی نو دا پل به هلته کښې هم زمونږ په کار راځی۔ زهٔ د وزیر اعلیٰ صاحب نه، د فنانس منسټر نه، د ټول حکومت نه، دا خائسته ټیم دے، خائسته کپتان ئے دے، اګرچه دیکښې بعض منسټران چه دی، هغه په بیک فټ باندے لوبیږی، اوس هم پکښې

داسے شته چه هغه په بیک فټ باندے لوبیږی خو مجموعی طور باندے دا فرنټ فټ والا دی، دوئ په فرنټ فټ باندے لوبیږی او زهٔ هم د خپل چیف منسټر صاحب نه، فنانس منسټر صاحب نه، ټولو وزیرانو نه او د حکومت نه دا مطالبه کوم چه د آلائی پسماندگی د په خاطر کښ راولی او چه څومره زیات ترقیاتی کارونه کیږی، دا د شامل کړی جی۔ ډیره مهربانی، شکریه۔

جناب سپیکر: انشاء اللہ، انشاء اللہ۔ عالمگیر خان خلیل صاحب۔

محترمہ نور سحر: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر۔

جناب سپیکر: ابھی فلوران کو دے دیا ہے، آپ بیٹھ جائیں۔

جناب محمد عالمگیر خلیل: شروع کوم په نامه دالله چه بخښونکے او مهربانه دے۔ جناب سپیکر صاحب! د ټولو نه اول خو زهٔ خپل صوبائی وزیر خزانه، همایون خان او زمونږه صوبائی وزیر اعلیٰ، حیدر خان هوتی صاحب ته په دے بجټ باندے د زړه د کومے نه مبارکباد ورکوم خو بیا د هغے نه علاوه هم بحیثیت د یو ممبر او بحیثیت د علاقے د یو نمائنده د هر چا تحفظات وی۔ جناب وزیر خزانه صاحب، دا اے ډی پی ما او کتله، په پی ایف۔ 6، زما داسے بد قسمته حلقه ده چه د حیات آباد نه راواوړے نو بیا په رنگ روډ باندے شروع شوے ده او په هزار خوانئ باندے ختمه شوے ده، رنگ روډ دواړه غاړے، په ثابت پی ایف۔ 6 کښ دوه هائی سکولونه دی د جینکو او ډگری کالج خو پریږدئ، د هغے نه علاوه هر یوے حلقے ته پکښ څه ملاؤ شوی دی په اے ډی پی کښ خو د پی ایف۔ 6 پکښ On going scheme یو دے، هغه دا کوم گلشن رحمان کالونئ والا دے، بل پکښ هیڅ هم نشته۔ زما به یو خواست دا وی لکه څنگه چه د دوو سکولونو خبره اوشوه او د Drinking water والا خبره اوشوه، زهٔ وایم چه دا کومے یو کروړ روپئ دی د هر یو ایم پی اے او که دا په دے خپله حلقه کښ صرف په اوبو هم لگوی، قسم دے که صرف پرے د غه خپلے حلقے له اوبه هم ورکړی، اوبه پرے هم نه شی کیدے۔ (تالیاں) نور د ډیویلپمنټ کارونه خو پریږدی۔ روډز دی، بعضو خلقو گلے اوکړے، هغه بله ورځ درانی صاحب گله اوکړه او یو خبره ئے کړے وه، اکرم درانی صاحب خو موجود نه دے، هغه خبره دا کړے وه، وئیل ئے چه په دے نه پوهیږم چه زما یو شک راغلو چه د پیپلز پارټئ جدا بجټ دے او د

اے این پی جدا بجټ دے خو زۀ درانی صاحب ته وایم چه درانی صاحب، زمونږه متفقه بجټ دے، زمونږه د اتحاد بجټ دے، زمونږه هغه ورورولی ده چه مونږه په یو بل پسے خبرے نه دی کړی او تا هغه بله ورځ پخپله په فلور اووئیل چه د مولانا فضل الرحمان صاحب بے عزتی قاضی حیسن احمد کړے ده، خو زۀ درانی صاحب ته وایم چه درانی صاحب، زمونږه ورورولی په حقیقت کښې ورورولی ده۔ بله دوئ پکښې یوه خبره دا کړے وه چه پوسټنګ او ټرانسفر او دا کیږی، دا کیږی نو درانی صاحب، چه په بورډ کښې د آډټ آفسر ګریډ **17** پوسټ د پاره ایم بی اے، بی بی اے یا ایم اے اکنامکس پکار وی نو زۀ به یو نوم ورته واخلمه چه په خپل حکومت کښې په بورډ کښې یو سړے چه د هغه نوم دے پیر طیب اعظم شاه او ایف اے پاس دے، تاسو په دے پوسټ ګریډ 16 کښې بهرتی کړو او په یو کال کښې مو بیا ګریډ 17 ته رسولے دے۔ نو څوک چه په بل اعتراض کوی، چه یوه ګوته بل ته نیسی څلور ځان ته راځی، دغے ته هم سوچ اوکړئ چه پینځه کاله تاسو څه کړی دی؟ دا شاه حسین خان ګله مند دے، پکار دا ده چه په هغوی وریدلے چه په دۀ خو چه څڅیدلے وے، ټولو بنه خوشحاله وخت پکښې تیر کړے دے۔ بیا پکښې هغه مولانا صاحب اووئیل چه یره زمونږه د احتساب اوشی او غلا که چا کړے وی، کب چا په اوبو څښنکلو لیدلے دے؟ *(تالیاں)* د غلا څه پته لګی؟ کب چا هم په اوبو څښنکلو نه دے لیدلے چه کوم ټائم کښې اوبه څښنکی۔ زۀ به درته دا ثابته کړم چه هغه بله ورځ سیکرټری ایجوکیشن سره زمونږه میټنګ وو او داسے ایم پی اے ګان شته زما په علاقه کښې چه په ایک لاکھ تیس هزار مرله ئے زمکه اغستے ده او د ایجوکیشن په ملی بهګت باندے هغه په تین لاکھ بیس هزار باندے ګورنمنټ ته ماته شوے ده۔ زۀ دا وایم، دے ټولو ته خواست کوم ایجوکیشن منسټر ته، چه په دیکښې د انکوائری اوکړی د هر یو، که ایکس ایم پی اے دے او که موجوده ایم پی اے، چه دۀ کلی کښې زمکه اغستے په څو ده او ګورنمنټ ته ئے ماته کړے په څو ده؟ *(تالیاں)* او د هر یو د احتساب اوشی۔ مونږ خو دا وایو چه د درانی صاحب، د هر یو د احتساب اوشی، د هر یو ممبر۔ مونږ خو دا نه وایو چه یواځے د دوئ خو دا وایو چه دوئ په کوم شی باندے ووټ اغستے وو، چه په کوم منشور دوئ ووټ اغستے وو، مونږ ته د دس فیصد زیات

ثابت کړی چه هغه دس فیصد دوئ پوره کړے دے، خو مونږ بیا هم فخر سره وایو چه په کوم منشور مونږ ووټ اغستے وو، نن د پختونخوا نوم راغلو، نن د صوبائی خود مختارئ خبره کیږی، نن د کالا باغ ډیم هغه ایشو امن د پاره ټول عمر د پاره دفن شو۔ نن دا که تاسو Compare کړئ نو په پختونخوا کښ چه کوم امن دے د الله په رحم، ټهیک ده پوره پوره امن به نه وی خو بیا هم پخوا که سل فیصده وو نواوس تقریباً اتیا کم شوے دے او شل فیصده پاتے دے، دا د پیپلز پارټئ او د عوامی نیشنل پارټئ د صوبائی گورنمنټ برکت دے او د الله تعالیٰ رحم دے نو مونږ خو بیا هم څه اوکړل او لګیا یو کوؤ به ئے۔ دوه میاشتے دی، لا زمونږ خو دوه نیمے میاشتے هم نه دی تیرے شوے، مونږ به د خپلو دوه نیمو میاشتو پراگرس اوښایو او دوئ د مهربانی اوکړی چرته لیکلے د د خپلو پینځو کالو پراگرس اوښائی چه دوئ څه کړی دی؟ باقی دوئ وائی مونږ دغه کړی دی، سیکرټری پی اینډ ډی ئے په گریډ 18 کښ د ډاکټر مراد علی شاه ځوئے لګولے دے، د جماعت اسلامی سنیټر وو او گریډ 19 او گریډ 20 ورنه لاندے ایډیشنل سیکرټریان وو، دا چرته کیدے شی؟ دا په ریکارډ پراته دی۔ دوئ د دغه سوچ اوکړی چه سیکرټری هیلتھ دوئ په کوم گریډ کښ لګولے وو؟ دا خبرے خو هر سړے کوی، هغه د غنی خان خبره، وائی چه:

ے چه د وس د بدو نه وی څه به ته څه به د ښه وی
توبه هله د شرابو چه شراب درته پراته وی
چه بوډا شے خوله کړشپه بیا توبه توبه د څه کړے
هغه ښه د بدو بد وی د ناکامه چه ته ښه کړے (تالیاں)

نو خبره دا ده چه ټائم تیر شی نو بیا هر سړے وائی چه دا دا شوی وو او دا دا شوی وو، نو خبره دا ده چه دغه اوگورئ چه تاسو مخکښ کوم چیف ایگزیکټیوز لګولی وو په هسپتالونوکښ، د گریډ 20 په پوسټ مو 18 لګولی دی، تاسو ډی۔ایم۔ایس د گریډ 17 لګولی دی د گریډ 18 په پوسټ باندے۔ په بجټ باندے به راځو، گلے هم ښه ډیرے شته، خیر دے کوؤ به ئے، چه هر قسم بجټ دے، یو کال دے، خدائے به ئے تیر کړی ځکه که څه اوشو او که څه اونشو خو یو خواست کومه چیف منسټر صاحب ته چه چیف منسټرصاحب، دا یو کروړ روپئ ډیرے

کمے دی۔ مهربانی او کړئ په مونږ باندے هم رحم او کړئ د چهتړئ نه ترپال کړئ چه ټول ورلاندے راشو۔۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: (قهقهه) شکریه۔

جناب عالمگیر خان خلیل: چه د ټولو گزاره او شی۔ دغه زما یو څو خبرے وے، هی، نه، چهتړئ نه جی، خیر دے مونږ بیا هم وایو، مونږ د دوئ غوندے کار نه کوؤ۔ هغه بله ورځ ما ورته وئیلی وو، ما خدائے شته په سی ایم صاحب باندے اعتراض اوکړو، ما وئیل سی ایم صاحب، تاسو مونږه او مخالف ټول په یو تله کښی واچولو۔ دوئ وئیل نه، ما وئیل ښه۔ دا دے بشیر خان ناست دے مخامخ، دوئ ته قسم ورکړئ چه تاسو ته څو پیسے ملاویدے او د ایم ایم اے ایم پی اے ته څو پیسے ملاویدے؟ ما وئیل که دهٔ ته برابر حقوق ملاؤ شوی وی نو ته هم بیا ورکړه خو سی ایم صاحب وئیل نه زما کهاته کښی دا نشته، زهٔ به ورله برابر ورکوم۔ بیا هم خدائے د عزت اوکړی چه زما د هغه ځائے سخت احتجاج باوجود ئے هم اووئیل چه نه، زهٔ دا شے نه کوم او زهٔ دا ورورولی نه، نو مونږ خو ورورولی قائموؤ او مونږ دا وایو چه انشاءالله د پیپلز پارټئ او د اے این پی به یو مثالی گورنمنټ وی۔ زمونږ د یو لیډر، زمونږ د یو وزیر به انشاءالله یو بل پسے بیان اونه وینئ لکه چه د دوئ خپلو کښی روان دی۔ د اسمبلئ په فلور باندے یو بل پسے لگیا دی، په اخبارونو کښی لگیا دی، د یو بل بے عزتئ کوی۔ انشاءالله نن لا تراوسه پورے نه پیپلز پارټئ د اے این پی بے عزتی کړے ده او نه اے این پی ورکر د پیپلز پارټئ د لیډر بے عزتی کړی ده۔ والسلام۔ ډیره شکریه، ډیره مهربانی۔

جناب سپیکر: ډیره شکریه۔ ډاکټر حیدر علی خان۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر صاحب! یو منټ، یو منټ۔

جناب سپیکر: اوس فلور مے هغه له ورکړو، دے نه پس بیا اوکړئ، دے نه پس بیا جی۔ ډاکټر حیدر علی خان شته؟

ڈاکٹر حیدر علی: او جی۔ بسم الله الرحمن الرحیم۔ جناب سپیکر! ستاسو ډیر مننه چه تاسو ما له موقع راکړه۔ زمونږ بعضے معزز اراکین که تنقید کوی او دا بجټ د

هغوی په توقعاتو پوره نه خیژی خو بیا هم که مونږ د حالاتو موازنه اوکړو نو دا به انتهائی ناانصانی وی چه مونږ خپل صوبائی حکومت، چه د هغے قیادت یو Dynamicلیډرشپ حیدر خان هوتی، زمونږ وزیر خزانه صاحب او د هغوی ټیم چه دانتهائی مسئلو او سنګین بحرانونو په سوری کښ کوم بجټ تیار کړے دے، مونږ ورله خراج تحسین ورکوؤ او انشاءالله تعالیٰ دا به یو داسے بجټ وی چه په کومو حالاتو کښ جوړ دے نو د ډیرو طبقو هغه داد رسی او تسلی به کوی۔ دا یو غریب پرور بجټ دے، زۀ د دوئ د ټول ایوان د طرف نه مننه کوم۔ (تالیاں)

جناب سپیکر! خو د دے دا مطلب نه دے چه دایو Perfect بجټ دے، د اصلاح ګنجائش هر وخت موجود وی۔ معزز ارکان چه کوم قابل عمل او تعمیری تجویزونه پیش کوی، زما دا یقین دے چه زمونږ دا مشران، حکومتی ارکان به هغے له ځائے ورکړی۔ جناب سپیکر! د یو وطن یا د یو معاشرے د ترقئ د پاره د ټهوس بنیادونو ضرورت وی او هغه بنیادونه هله کیدے شی چه مونږ Long term Planning اوکړو، مونږه هغه خپل Potentials چه د ډیر وخت نه Unexplored دی، Undeveloped دی، هغے ته توجه ورکړو۔ نن چه مونږ ته دا وئیلے کیږی، ډیر په افسوس سره دا خبره کوم چه نن هم زمونږ بعضے معزز ارکان دا خبره کوی چه دا ډیره غریبه صوبه ده، زۀ د دے خبرے سره بیخی اتفاق نه کوم، دا ډیره غنی صوبه ده خو د وسائلو غیر منصفانه تقسیم او د مرکز هغه هټ دهرمی په دے کښ رکاوټ دے چه زمونږ په وسائلو باندے د ډیر وخت نه ناجائز قبضه کړے ده۔ جناب سپیکر، که چرے مونږ خپل هغه Potentials چه هغه د Natural resources په حواله په دے صوبه کښ موجود دی، زۀ د نورو وسائلو ذکر نه کوم ځکه چه تاسو ټول ښه خبر یئ خو که مونږ اوبه واخلو او دغه اوبه په کار راولو نو د بعضے پوهانو د پختونخوا د مقدمے په حواله دا دعویٰ ده چه مونږ د ګلف تیلو مقابله خالصتاً صرف او صرف د خپلو اوبو په وسیله باندے کولے شو۔ که په نارتھ کښ مونږ دغه اوبه د هائډل جنریشن پکار راولو او که په نارتھ کښ هغه لکهونو ایکړه بنجر زمکه چه تراوسه پورے ترے مونږ کار نه دے اغستے او مونږ تر اوسه پورے هر کال سوال کوؤ او بیا Subsidies ورکوؤ، بیا Grants غواړو نو هغه دولس لکهه ایکړه زمکه که د اوبو په ذریعه باندے چه

کوم زمونږه حق دے ، Irrigate کړے شی نو هیڅ وجه نه ده چه مونږه هغه خود کفالتئ ته اورسوؤ په زرعی میدان کښې هم۔ جناب سپیکر! په دے بجټ کښې چه کوم سوشل سیکټرز په کومه طریقه Address شوی دی، زما په خیال دا انتهائی مناسب دی۔ زمونږ بنیادی محکمے صحت، تعلیم او زراعت ته پکښې مناسب Allocations شوی دی۔ دا وفاقی بجټ دے ، د تنخواه دار طبقے شل فیصده اضافه او دغه شان د پنشنرز شل فیصده اضافه، نو دا د څلویښتو اربو نه یو اضافی بوجھ زمونږ په بجټ باندے دے ، پکار ده چه د هغے تعریف اوشی۔ دغسے د Subsidies په شکل کښې یا بیا د امن و امان د بحالئ د پاره چه کوم کافی بجټ Allocate شوے دے چه کومه مسئله مونږ ته هم د سابقاؤنه په میراث کښې پاتے ده۔ که نن زمونږه اضافی بجټ څوک د خسارے په بجټ کښې بدلوی نو دغه Inflation هم د هغه حکومتونو تحفه ده کوم چه په دے وطن کښې تر اوسه پورے برسر عمل وو او د هغوئ اقتدار وو۔ د ایجوکیشن په حواله چه کوم د نوی سکولونو منصوبه بندی شوے ده په دے بجټ کښې، د هغے ذکر دے ، که د هغے سره سره کوم چه Ghost سکولونه دی، پرائمری سکولز او د ټولو نه زیات په ضلع سوات کښې دی چه د هغے تعداد څلور شپیته دے ، که د هغے د فعال کولو د پاره هم انتظام او شی نو دا به په بجټ کښې یو ډیر فائده مند کار وی۔ دغسے د صحت په مد کښې چه د هیپیټائټس سی ذکر زمونږه اکثرو معززو ممبرانو اوکړو، دا یو Silent epidemic دے ، د یو ډاکټر په حیثیت باندے زۀ دا وئیلے شم چه په بعضو علاقو کښې د دے شرح اتیا فیصد نه هم زیاته شوے ده۔ زۀ دا په دعویٰ سره وایم چه تاسو سرکاری اعداد و شمار راجمع کړئ د مختلفو ضلعو او بیا که زمونږ نه په پرائیویټ سیکټر کښې غواړئ، مونږه هم په دے کار کړے دے ، د دے د پاره د یو ټاسک فورس ضرورت دے چه که په جنګی بنیادونو باندے د دے مرض مقابله اونشوه نو خدائے مه کړه هسے نه څه وخت بعد هر کور او په راروانو څو کلونو کښې، زما دا ویره ده چه په دے اسمبلئ کښې چه څومره ممبران ناست دی، د هغوی تعداد به هم د اتیا فیصد نه زیات وی۔ دغسے ټورازم چه زمونږ هغه is becoming one of the largest industries in the world, هغه سره یو لوئے Potential دے خو ډیر په افسوس سره زۀ دا خبره کوم چه په دے

وطن کښې د ننه که مونږ د خپلے صوبے نه بهر بعضے Tourists’ cost ګورو، د هغوی حالت اوګورو نو دا په یو کوټه کښې د اوړی ژمی مترادف خبره ده۔ نن په مونږ باندے د اور او وینو باران دے او بل طرف ته جشن دے، زمونږ سره دا انتهائی ظلم دے۔ د سوات په حواله باندے ډیرے خبرے شوے دی خو د سوات هغه درد چه کوم مونږ Experience کړے دے، شاید تاسو به ترے خبر یئ، تاسو به اوریدلے وی، تاسو به لیدلے وی خو تاسو Experience کړے نه دے۔ زهٔ دا خواست کوم چه زمونږ د سوات هغه غریب خلق چه د هغوی وسیله یو څاروے وو، د پیو نه به ئے روزی ګټله، په ایمرجنسیز کښې د هغوی هغه خپلے ټولے وسیلے که څاروے وو، که د هغوی سټاک غله وه، هغه هغوی خرڅه کړے ده، چه واپس راغلل نو په نګران حکومت کښې د غلے بحران وو۔ هلته روزګار نیشته۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> ډاکټر صاحب! مختصر کوئ، وزیر اعلیٰ صاحب به هم تقریر کوی او هغوی به هم کوی، مختصر کوئ جی۔

<u>ڈاکٹر حیدر علی:</u> زهٔ ستاسو په وساطت طمع لرم د خپل صوبائی حکومت نه چه په دغه چهترئ کښې به د هغه ځپلی سوات چه زمونږه او ستاسو شریک کور وو، د ټولو پښتنو د اوړی کور وو، ستاسو دویم کور وو چه په هغه وخت کښې زمونږ کومه داد رسی نه ده شوے، مونږ نن طمع لرو چه د سوات د خلقو سره به انصاف کیږی۔ (تالیاں) د ایګریکلچر، لائیوسټاک په مد کښې چه کوم Veterinary dispensaries د دے اے ډی پی نه پاتے شوے دی، ستاسو په وساطت سره خواست کوم چه هغه دے کښې شامل شی، دا زمونږ بنیاد دے لائیو سټاک د دے وطن۔ دغسے د Kashmiri Goat Project چه هغه یو ډیر Unique او Revolutionary پراجیکټ وو زمونږ د صوبے، هغه هم ډراپ شوے دے چه هغه د Revive شی۔ د دے نه علاوه د Human Resource Training & Development د پاره په دے کښې کافی ګنجائش پکار ده چه اوشی۔ Gas Supply to Tobacco Producing Districts, په هغے کښې سوات هم راځی ولے چه بارلے یو Unique قسم تمباکو دے، په سوات کښې کیږی نو کوم ډسټرکټس ته چه ګیس سپلائی د تمباکو په مد کښې ده، په هغے حساب به مونږ دعویٰ کوؤ چه سوات ته د ګیس سپلائی یقینی کړے شی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر:  ډاکټرصاحب! نور ټائم به درله بله ورځ بیا درکوؤ، دا نن د-----

ډاکٹر حیدر علی:  او یوه بله بنیادی خبره، جی زهٔ خواست کوم------

جناب سپیکر:  بس جی، بل څه ټائم به پاڅئ تاسو۔

ډاکٹر حیدر علی: په اول ځل باندے په درے میاشتو کښې مونږ ته موقع ملاؤ شوے ده، زهٔ یو دوه منټه نور غواړم، ډیر وخت ستاسو نه خرابوم۔

جناب سپیکر:  نه، دے نه پس پینځو منټو نه زیات ټائم به څوک هم نه اخلی۔ فضل الله پیر محمد خان صاحب۔ تهینک یو۔ (تالیاں)

جناب فضل اللہ:  جناب سپیکرصاحب! زهٔ ستاسو ډیر مشکور یم چه ما له مو ټائم راکړو-----

جناب سپیکر:  خو پینځه منټه۔

جناب فضل اللہ:  نه، ما له به لږ ډیر راکوئ، د شانګلے نه راغلے یم، ستړے شوے یمه جی۔ (تالیاں) جناب سپیکر صاحب، د صوبے حالات ټولو ته معلوم دی چه ډیر خراب هم دی او زمونږ صوبه غریبه هم ده، نو په دے حالاتو کښې دومره ښه بجټ پیش کول زمونږ د وزیر اعلیٰ صاحب، وزیر خزانه صاحب او زمونږ د سینیئر منسټرانو صاحبانو ډیر غټ کار دے چه دوئ دومره ښه بجټ پیش کړے دے په لږ وخت کښې۔ وزیر اعلیٰ صاحب پرے دومره محنت کړے دے چه ویښته ئے هم سپین شوی دی دے دوه میاشتو کښې، ډیر محنت ئے کړے دے جی او زهٔ یو څو مسئلے وایم د خپلے حلقے په باره کښې چه هغے باندے وزیر اعلیٰ صاحب خصوصی توجه ورکړی۔ مالاکنډ ډویژن خو ټول د خصوصی توجه مستحق دے چه مالاکنډ ته خصوصی توجه ورکړی، خاصکر سوات او شانګلے ته خو زوړ روایت چه سینیئر منسټرانو او وزیر اعلیٰ به په خپلو حلقو کښې زیات کارونه کول، هغه د ختم کړے شی، بلکه پسمانده ضلعو ته د زیاته توجه ورکړے شی چه هلته کارونه زیات اوکړے شی۔ زهٔ دا یو ګزارش کوم، وزیر اعلیٰ صاحب وئیلی وو خپل په اولنی تقریر کښې چه زهٔ به د کلاشنکوف کلچر ختمومه او د قلم رواج به عام کومه، زهٔ دوئ ته ګزارش کومه چه سوات او شانګله چونکه د

کلاشنکوف په زد کښ دی، دوئ د مونږ ته فی ایم پی اے پانچ پرائمری سکولونه راکړی چه د کلاشنکوف کلچر ختم کړے شی او د قلم دا کلچر عام کړے شی، دابه زۀ یو گزارش کوم دوئ ته۔ (تالیاں) زلزله راغلے وه او زمونږه ډسپنسریانے او آر ایچ سیز، ټول هر څه خراب شوی دی نو په هیلتھ کښ د زمونږ خاص خیال اوساتلے شی۔ جناب سپیکر صاحب! وزیر اعلیٰ ته زما گزارش دے چه په روډونو کښ د خاص نظر او کړی، ولے چه 'ایرا' او 'پیرا'، دواړه هیرا پهیری کوی او زمونږه د ایم پی ایز په خله دوئ کار نه کوئ، نو 'ایرا' او 'پیرا' د د ایم پی ایز پابند کړلے شی چه څه کارونه چه وی چه هغه ټول د ایم پی اے گانو په سفارش باندے کوی۔ تعمیر سرحد پروگرام کښ جی فی ایم پی اے تین کروړ روپئ د ورکړے شی او د سوات او د شانگلے ایم پی اے گانو ته د پانچ پانچ کروړ کړے شی ولے چه په مونږه فوجی آپریشن هم راغلے دے، نور ے د طالبانو قصے هم راغلی دی او زمونږه هلته ډیر نقصانونه شوی دی۔ (تالیاں) چه هغه مونږه په دے باندے پوره کړو۔ وزیر تعلیم صاحب نه زمونږه ډیره گله ده جی، ما هغه بله ورځ وزیر اعلیٰ صاحب ته هم وئیلی وو، هغوی یقین دهانی هم راکړه خو ترا وسه پورے په هغے باندے څه عمل اونکړے شو، زمونږ په ضلع کښ جی اتهاره گریډ آفسر وو جی، هغه ئے بدل کړے دے سوات ته او د ستره گریډ سړے ئے شانگلے ته راوستے دے او دغه اتهاره گریډ آفسر ئے په ستره گریډ پوسټ باندے لگولے دے۔ گریډ اتهاره ته به د گریډ ستره په پوسټ تنخواه څنگه ورکولے شی جی؟ دے باره کښ د لږ وضاحت اوکړی۔ زما دا درخواست دے چه مونږ د شانگلے منتخب نمائندگان دا نه غواړو۔ یوه کمیټی د جوړه کړے شی، وزیر اعلیٰ صاحب د یوه کمیټی جوړه کړی، تاسو پکښ شامل شئ جی او مونږه ایم پی ایز د کښینوی او مونږه د اعتماد کښ واغستلے شی ولے چه دا زمونږ سره ډیر زیاتے دے جی۔ وزیر تعلیم صاحب د "الف" نه واخله تر "ے" پورے، د ای ډی او نه واخله تر ښکته کلاس فور پورے ټولے بدلیانے کړی دی جی، زمونږ نه پکښ تپوس نه دے شوے۔ یو څو ورځے مخکښ زما په خلے ئے د استاذانو، د پی ایس ټی یو درے څلور آډرونه کړی وو خو هفته بعد ئے جی هغه کینسل کړی دی۔ دا خو جی د هغوی د محکمے بے عزتی ده چه یوه ورځ آډر

کوی او سبا له ئے بیا کینسلوی نو د دے باره کښ د کمیټی جوړه کړے شی جی او مونږ دواړه ایم پی اے گان د هغه سره کښینولے شی چه هغه مسئلے ورسره ډسکس کړو۔ ډیډیک کمیټی د بحال کړلے شی جی، د بشیر بلور صاحب توجه غواړمه جی، سینئر وزیر صاحب توجه غواړمه، دا ډیډیک کومیټیانے د بحال کړے شی جی او زما دواړه سینئر منسټران او وزیر اعلیٰ صاحب د سوات 'فضل الله' ته ډیره توجه ورکوی، زما، د شانگلے د فضل الله د هم لږ خیال اوساتی او دا توجه لږ ه مونږ له هم راکړی۔ څومره چه د سوات فضل الله له ورکوئ، دا سے د شانگلے فضل الله له هم ورکړئ او زمونږ دا مسئلے حل کړئ او د محکمه تعلیم دا مسئلے چه زمونږ دی، دا ختم کړئ۔ د باچا خان په هغه فلسفه د عمل اوکړے شی، د باچا خان په قدم د قدم کښیښنودے شی۔ وزیر تعلیم صاحب که هغه کتاب نه وی وئیلے ، خیر دے ما سره شته، د والد صاحب نه راته پاتے شوے دے ، زهٔ به هغه دوئ له ورکړم، دوئ د لږ سټډی کړی چه باچا خان صاحب څه وئیلی دی او دوئ مونږ سره څه کوی؟ نو زمونږ دا گلے ملے د ختم کړی او خاصکر په شانگله کښ چه مو کم زیاتے کړے دے ، هغه د ختم کړے شی۔

(تالیاں)

<u>جناب سپیکر:</u> فضل الله خان! بس نورے گلے به بل وخت اوکړے۔

<u>جناب فضل اللہ:</u> آخر ما له یو ټائم مو کم راکړو جی۔۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> اوس سید قلب حسن صاحب۔ خو تهٔ یو سینئر پارلیمنټیرین یے ، د وخت د کمی به ډیر احساس کوے۔ تهینک یو۔

<u>سید قلب حسن:</u> شکریہ، جناب سپیکر۔ میرے خیال میں صرف پانچ منٹ میں تو میں اپنے ذاتی مسائل بتا سکتا ہوں، کوہاٹ کے مسائل نہیں بتا سکتا۔ میں آپ کا مشکور ہوں۔یہ ہر حکومت کی کوشش ہوتی ہے کہ بہتر سے بہتر کام کیا جائے۔ پچھلی حکومت نے، ان کی کتابوں میں ہم نے دیکھا ہے کہ انہوں نے یہ دعویٰ بھی کیا ہے کہ چودہ ارب سے ہم نے یہ فنڈ بڑھا کر انتالیس ارب تک پہنچایا ہے۔اس حکومت نے اکتالیس ارب روپے سے ابتداء کی ہے اور میں امید کرتا ہوں کہ بہت جلد، بہت قریب چند سالوں میں انشاء اللہ یہ فنڈ دگنا ہو گا۔ میں سمجھتا ہوں کہ ہم سب کو مل کر اتفاق سے اس حکومت کو سپورٹ کرنا چاہیئے۔امیر حیدر ہوتی صاحب میں ہم ایک جذبہ بھی دیکھتے ہیں اور ایک خلوص بھی دیکھتے ہیں، سیاست اور خدمت ان کے

خون میں شامل ہے۔ ہم سب کو وزیر اعلیٰ امیر حیدر خان ہوتی اور ان کی ٹیم کو سپورٹ کرنا ہوگا۔ جناب سپیکر، اب چونکہ مرکز میں اور صوبے میں ایک ہی حکومت ہے، اگر اب بھی ہم نے اس صوبے کے حقوق حاصل نہیں کئے تو میں سمجھتا ہوں کہ اس صوبے کے عوام ہمیں معاف ہرگز نہیں کریں گے۔ جناب سپیکر، صوبے کے پاس اگر فنڈز ہونگے تو میں یہ سمجھتا ہوں کہ جس اعلیٰ منصب پر ہمارے وزیر اعلیٰ صاحب بیٹھے ہیں، ان کو بھی یہ معلوم ہے کہ اس منسب پر بٹھانے والا اللہ تعالیٰ کی ذات ہے۔ میں یہ ایک دعوے سے کہتا ہوں کہ یہ کسی کے ساتھ ناانصافی اور کسی حلقے کی حق تلفی نہیں کریں گے۔ جناب سپیکر! میری ایک تجویز ہے کہ مسائل ہمارے جتنے ممبران کے ہیں، وہ تمام ایک جیسے ہیں۔ سکولوں کے مسائل، پانی کے مسائل، بجلی کے مسائل، لااینڈ آڈر کے مسائل، یہ سب ایک جیسے ہیں، میں اس پر کچھ نہیں کہوں گا۔ جب خود اس صوبے کے پاس فنڈز ہونگے تو انشاء اللہ سب کو ملیں گے۔ میری تجویز ہے کہ وزیر اعلیٰ کی قیادت میں ہماری پارٹی کے قائدین بمعہ سینیئر منسٹر وفاقی حکومت سے، وزیر اعظم سے ملاقات کریں اور اس صوبے کے حقوق کیلئے، اس صوبے کیلئے فنڈز وہاں سے حاصل کریں۔ اگر یہ یہاں پر بیٹھے ہونگے اور ہم کوہاٹ اور اپنے حلقوں میں بیٹھے ہونگے تو یہاں پر فنڈز نہیں آئیں گے۔ جب تک یہ ان کے ساتھ باضابطہ جرگہ نہیں کریں گے تو ہمیں حقوق نہیں ملیں گے اور میں سمجھتا ہوں کہ جب ہمیں فنڈز ملیں گے تو یہ صوبہ خوشحال ہوگا، اس صوبے کے غریب عوام خوشحال ہونگے، امن ہوگا اور روزگار ہوگا۔ جناب والا، میرا جس حلقے سے تعلق ہے، کوہاٹ اربن ایریا سے، وہاں پر یونیورسٹی ہے، میڈیکل کالج ہے، پولی ٹیکنیکل کالج ہے، کالج آف ٹیکنالوجی ہے، ڈگری کالج، گرلز کالج، جو بھی محکمے ہیں، ان تمام محکموں کے افسران، ایک Congested area ہے اور ہمارے صوبے میں جنوبی اضلاع کے جو حالات ہیں، پاڑاچنار سے لیکر ہنگو تک، وزیرستان سے لیکر کرک تک، امن کی وجہ سے وہ سارے لوگ کوہاٹ Migrate ہوگئے ہیں لیکن جب میں یہاں اپن ے فنڈز کی بک میں دیکھتا ہوں تو کوہاٹ کو، جو میرا حلقہ ہے، رورل ایریا کے حساب سے فنڈ دیا جاتا ہے۔ میری گزارش ہے چیف منسٹر، امیر حیدر خان ہوتی صاحب سے کہ کوہاٹ سٹی کو جو خصوصاً میرا حلقہ ہے، Big city قرار دیا جائے۔ ہر سال ہمارے کوہاٹ میں خصوصاً طالبات کے داخلے کا مسئلہ ہوتا ہے، وزیر اعلیٰ اکرم خان درانی صاحب نے مہربانی کی تھی، ایک کالج پر کام شروع ہے۔ جو بیس کالجز انہوں نے پورے صوبے کیلئے، فیزیبلٹی رپورٹ بھی پڑی ہے ان کے پاس، 100% Feasible کالج ہے، گرلز کالج، پشاور میں دو، پورے صوبے میں Evening

shift شروع ہے، ایک پشاور میں اور ایک کوہاٹ میں، یہ میرے کہنے پہ شروع نہیں ہوئے تھے، طارق جمیل صاحب اس وقت سیکریٹری تھے، انہوں نے کہا تھا کہ کوہاٹ میں ایک نہیں، دو گرلز کالج اور بنانے چاہئیں۔ میری ایک درخواست ہے کہ ابھی یہ ایڈمشن کے مسئلے پھر آئیں گے اور سینکڑوں طالبات، پچھلے سال ایک ہزار بچیاں فرسٹ ڈویژنز اور سیکنڈ ڈویژنز تعلیم سے محروم رہیں، میں سمجھتا ہوں کہ تعلیم سب کا حق ہے، میری ایک ریکویسٹ ہوگی، زمین بھی ہے، Feasible بھی ہے کہ کوہاٹ میں ایک گرلز ڈگری کالج کی منظوری آپ دیں۔ چونکہ وقت کم ہے، ہمیں پتہ ہے کہ کس طرح ہم نے فنڈز نکالنے ہیں، وہ ڈسکشن انشاء اللہ ہم سب سے کریں گے اور میں انہی الفاظ کے ساتھ سپیکر صاحب، اجازت چاہوں گا، بڑی مہربانی۔ Thank you very much۔

جناب سپیکر: تھینک یو، سید قلب حسن صاحب۔ عتیق الرحمن خان، لیکن صرف پانچ منٹ جی، پانچ منٹ سے زیادہ نہیں۔

جناب عتیق الرحمن: نعمده و نصل علیٰ رسوله الکریم۔ اما بعد فاعوذ باالله من الشیطن الجیم۔ بسم الله الرحمن الرحیم۔ شکریه جناب سپیکرصاحب، چه تاسو ما له موقع راکړه۔ کله چه حکومتونه جوړیدل، هغه ټائم کښ هم جی ما موقع غوښتلے وه خو تاسو نه وه راکړے او اوس هم لا راکړے نه ده او د اغستو الټی میټم مورا کړو چه یره ختمیږی به۔ جناب سپیکر صاحب، د بجټ حوالے سره ډ بیټ شروع دے، تقریرونه کیږی، خپل تجاویز خلق ورکوی، بجټ خو به هله پته لګی چه کله دا عوام ئے پاس کړی۔ دے معزز ایوان نه خو به دا پاس شی او او به شی هر څه خو پته به ئے هله لګی چه زمونږ پبلک ته څه ریلیف ملاؤ شی۔ زهٔ به دلته کښ دا خبره ضرور اوکړم چه الله تعالیٰ د مونږ د جنرل پرویز مشرف صاحب نه خلاص کړی۔

آوازیں: آمین۔

جناب عتیق الرحمن: هغے د وجے نه داحکومتونه Delay شو۔ که دا په ټائم باندے راغلے وے نو چه نن دا کوم ټائم د بجټ جوړولو د پاره ملاو شو، کیدے شی چه لږ ټائم دوئ ته زیات ملاؤ شوے وے، دوئ پرے صحیح سوچ کړے وے، د دوئ ورته ناسته شوے وے خو څه وئیلے نه شو چه دومره، په اتهاره تاریخ چه پبلک هغه ته په مخ باندے کومه سپیره ورکړه، پکار دا وه چه هغه عزت سره تلے وے۔

جناب سپیکر صاحب، که دوئ ته ټائم ملاؤشوے وے نو مونږ ته به هم ټائم ملاؤ وے، زمونږه به هم ورسره ناسته شوے وه، څه مدد به ئے مونږه کړے وو، څه به مو ځان پوهه کړے وو۔ دا د دوئ ګناه نه ده، داچه څوک هلته ناست دے، دا د هغه سړی ګناه ده چه دوئ ته ټائم ملاؤ نه شو۔ (تالیاں) دے نه مخکښ هم جی زمونږه پینځه بجټونه په دے معزز ایوان کښ زیر بحث شوی دی، جناب سپیکر صاحب، که زهٔ نن د هغه وخت ذکر اونکړم نو دا به د هنګو خلقو سره ناانصافی وی، دا به د دے صوبے خلقو سره ناانصافی وی، دا به د ټول معزز ایوان سره ناانصافی وی۔ جناب سپیکرصاحب، مونږه پینځه کاله په دے تیر شوی ګورنمنټ کښ تیرکړی دی، نن دوئ دلته کښ وائی چه مونږه د کروړونو روپو کارونه کړی وو، زهٔ ډیر افسوس سره دا خبره کوم چه دایم ایم اے ګورنمنټ وو، د ایم ایم اے ګورنمنټ ته چه په کوم څیز باندے مینډیټ ملاؤ وو، هغه ئے هم اونکړو او نه ئے مونږ سره څه صلاح مشوره او کړه بلکه الټا، توبه استغفرالله شریعت ډیبیټونو باندے کروړونو روپئ، تاسو راواخلئ تیرشوی بجټونه، چه دوئ سیمینار کښ د کوم کوم ځائے نه ملیان رااوغښتل، دلته ئے پرے ډیبیټ او کړو، رزلټ Nil، هم دغه بوجه په پبلک باندے راغلو او پبلک به ترینه متاثره شو۔ نن چه مونږه دے پوزیشن کښ یو چه مونږه مخکښ لا نه ړو او هم هغسے روستو پاتے شو، دا صرف او صرف د دے ګورنمنټ نتیجه ده۔ جناب سپیکر صاحب، خلق ووټ په سکیمونو نه ورکوی، خلق په ډیویلپمنټ کارونو ووټ نه ورکوی، ګنی زهٔ به بیا دے ایوان کښ ناست نه ووم، خلق تا ګوری، خلق ستا مینه ګوری، خلق ستا اپروچ ګوری، خلق ستا آواز ګوری، کولو والا هغه لوئے رب دے ګنی بله پیره چه د دوئ څومره میجارټی وه، پکار ده چه نن دے ایوان کښ دوئ بیا ناست وے۔ (تالیاں) خبره د انصاف ده، خبره د اصولو ده۔ جناب سپیکر صاحب، د دوئ په قول و فعل کښ تضاد وو۔ پکار ده چه نن زمونږه په جنوبی اضلاع کښ هیڅ کمے هم نه وے پاتے۔ جناب سپیکر صاحب، راشئ راشئ چه زهٔ د خپل هنګو سیل دربانداےاوکړم چه کوم زمونږه د ضلعے حقونه دی، نه پکښ جوډیشل کمپلیکس شته، نه پکښ ډسرکټ هسپتال شته، نه پکښ پولیس لائن شته، نه پکښ ډسټرکټ جیل شته۔ جناب سپیکر صاحب، دا د حضرت

عمر فاروقؓ هغه خلافت دوئ کولو، ورسره ورسره لاړل بیا د هغه ستائنه دوئ اوکړله۔ جناب سپیکر صاحب، دا بجټ به هم پاس شی، کال به هم تیر شی، که څه ئے راکړل خو ډیره ښه ده ګنی مونږه نمر هم وهلی یو، مونږه ږلئ هم وهلی یو، مونږه باران هم وهلی یو، هغه چهترئ د لاندے نه وو ولاړ۔ بیا هم دوئ ته دا وایمه چه که ستاسو دا خیال وی چه مونږه په سکیمونو پسے، مونږه ته د Basic needs چه کوم ضرورتونه دی، نن خو تاسو آواز کوئ چه مونږ ته د مرکز دا راکړی، مونږه ستاسو ملګرتیا کوؤ، مونږه تاسو سره شا ته ولاړ یو، مونږه وایو چه زمونږه کوم د بجلئ حق دے، هغه د مونږ ته ملاؤشی، کوم زمونږه د ګیس حق دے، هغه د مونږ ته ملاؤ شی، این ایف سی ایوارډ کښ د مونږ ته برابر حصه ملاؤ شی، په هر څه باندے مونږه ستاسو ملګرتیا کوؤ خو بیا چه کله وخت زمونږ د خپلو ضلعو راشی نو قسم په خدائے چه ګریبان ته مو لاس درواچوؤ، که هغے کښ مو عزت وی او که بے عزتی وی۔ جناب سپیکر صاحب، نن که مونږ په دے معزز ایوان کښ ناست یو، دا د هغے خلقو د برکته ناست یو چه کوم په هنګو ډسټرکټ کښ پاتے کیږی۔ نن که دا وزیر اعلیٰ صاحب په دے معزز ایوان کښ ناست دے او وزیر اعلیٰ دے، دا په دوئ باندے د الله تعالیٰ مهربانی ده او بیا د هغے خلقو مهربانی ده۔ بله ورځ جی زمونږ پی ایف۔I والا معزز ممبر دلته کښ کښیناستو، ما په هغے ټائم کښ خبره کوله خو بیا مے اووئیل چه چلو مناسب نه ده، بیا چه کله موقع ملاؤ شی، زما زړه کیدو چه زۀ هغه ته دا اووایم چه لاړ شه بهر په نمر کښ کښینه، ستا بچی په نمر کښ ناست دی، په نمر کښ۔ تۀ دلته صرف که د اخبار د پاره او ښودلو د پاره احتجاج ریکارډ کوے، That is well and good خو که نه حقیقت کښ نن ستا بچی په ټاټونو نه دی ناست، ستا د بچو په سرونو باندے چهتونه نشته، سکولونه نشته، درے درے سکولونو نه څه جوړیږی؟ د دے د پاره د یوے مضبوطے حکمت عملئ ضرورت دے، د دے د پاره د Bold steps، دا الله پاک تاسو ته درکړی دی هر څه، که نن تاسو د دے موقع نه فائده وانغسته نو پینځه کاله بعد به دغه شان، د اکرم خان په شان به تاسو هم اودریږئ چه مونږه دا شان کړی دی، دا شان کړی دی۔ دا پینځه کاله دا شان تیریږی چه پته ئے هم نه لګی۔ جناب سپیکر صاحب، زمونږه ډیره غریبه

صوبه ده او بیا چه زهٔ د کوم ځائے او سیدونکے یمه، هغه ډیره غریبه ده بے تحاشه او د هغے د ټولو نه غټه وجه دا ده جناب سپیکر صاحب، چه هنگو د اورکزئی ایجنسئ، کرم ایجنسئ او وزیرستان ایجنسی په مینځ کښې یو ځائے دے، د ټول ټرائیبل بیلټ بوجھ په مونږه باندے دے۔ هلته کښې هسپتال نشته، ډسټرکټ هیډ کوارټر هاسپټل چه کوم ورته وئیلے شي۔ زمونږ کالجونه نشته، زمونږ سکولونه نشته۔ په دے باندے په ایمرجنسی کښې غور کول پکار دی او نن چه دا لاء اینډ آرډر خراب دے، د دے وجه دا ده چه حقدار ته خپل حق نه ملاوېږی نو هغوی په بله طریقه باندے خپل حق غواړی۔ (تالیاں) زمونږ خلق ډیر غریبانان دی، د هغوی د ښبنکلو او بو بندوبست نشته، هغوی ته صفا او به نه ملاویږی۔ زهٔ جناب سپیکر صاحب، ستاسو په وساطت سره سی ایم صاحب ته دا ریکویسټ کوم چه مونږ ږلئ هم وهلی یو، مونږ باران هم وهلی یو، مونږ نمر هم وهلی یو، چه په چهتریٔ کښې مو راولئ، هم ستاسو مرضی ده، گنی عادت خو ورسره مونږه هسے هم یو۔ دا وخت به هم تیر شی او دا صفا صفا وئیل په دے پکاردی چه هیڅ پته نه لگی، نن مونږ دلته ناست یو، سبا به یو یا به نه یو۔ وما علینا الا البلاغ۔ شکریه۔

(تالیاں)

جناب سپیکر: شکریہ، تھینک یو۔ آصف بھٹی صاحب، لیکن صرف دو منٹ آپ نے مانگے تھے۔

جناب آصف بھٹی: Thank you very much, Sir. شروع خداوند کے جلالی نام سے کرتا ہوں۔ Respected Speaker, respected Leader of the House and Members! Assalam-o-Alaikum., first of all I would like to say thanks to Chief Minister and his team, who have played an excellent role with an excellent planning in recovery of sixteen Christian's community people within twelve hours, who were kidnapped on Saturday night from Academy Town. (Applause)

In recovery of these people police has shown very good performance, therefore, police team must be awarded. Over all this budget is good which is prepared in very short time and what I have asked in ADP, every thing is available on Pages 52 and 53. Thank you very much. May God bless you and your families. پختونخواز نده باد، پاکستان پائندہ باد۔

جناب سپیکر: تھینک یو، بھٹی صاحب۔ رحیم داد خان صاحب، لیکن بہت مختصر، جامع اور پانچ منٹ۔ تھینک یو۔

جناب رحیم داد خان(سینئر وزیر): بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ سپیکرصاحب، ستاسو ډیره مهربانی چه ما له مو وخت راکړو، مشکور یم او زما په خیال زما خوحق نه کیدو، زۀ د دے کیبنټ یو غړے یم چه چیف منسټر صاحب هم تقریر به کوی، زمونږ منسټر فنانس صاحب به هم Wind up speech کوی او د پارلیمانی لیډر په حیثیت هم زما څه گزارشات وو او په دے هاؤس کښ ناست ایم پی ایز صاحبان چه کوم نمائندگان دی، خپلو خلقو رالیږلی دی، د هغوی د تسلئ د پاره هم په ما باندے څه فرض وو چه د هغوی په خدمت کښ ما څه عرض کړلے۔ جناب سپیکر، کله چه دا حکومت جوړیدو په صوبه کښ، په مرکز کښ، د دے ملک حالات د چا نه پټ نه دی چه ډیر خراب وو۔ هیڅ قسم Certainty نه وه Politically او معاشی استحکام نه وو، Judges restoration، جلوسونه او بیا د Dictatorship نه جمهوریت طرف ته ملک راوستل یو لویه اهم خبره وه۔ جناب سپیکر، اپوزیشن لیډر، اکرم خان درانی چه کله په بجټ باندے بحث شروع کولو نو هغوی یو عجیبه غوندے خبره اوکړه چه زما داسوچ وو چه پاکستان پیپلز پارټی او اے این پی به جدا جدا بجټ پیش کوی، زۀ افسوس کوم په دے یوه صوبه کښ خو دوه حکومتونه شی جوړیدے او نه په دے صوبه کښ دوه اسمبلئ دی چه جدا جدا یو پارټی به په هغے باندے بجټ پیش کوی او بیا چه کوم حالات او واقعات، خپل کوم Explanation چه دے خپلو حکومتونو ورکول او ورسره بیا موجوده وخت کښ دوه میاشتے او څو ورځے شوے وے چه دا حکومت په اقتدار کښ راغے او په دے وخت کښ بیا بجټ راتلونکے وو، د هغے د پاره تیارے، بیا په دے مینځ کښ Transfers and postings کیدل او بیا دا نمونه بجټ پیش کیدل، زۀ محکمے والو ته هم او کیبنټ ته هم مبارکباد ورکوم چه په داسے لږ وخت کښ ښه په پهرتئ شپه او ورځ کارئے اوکړو او دا فاضل بجټ ئے پیش کړو۔ مجموعی طور څه د پاسه 5% تخمینه د تیر شوی بجټ نه سیوا ده او بیادا خپل صوبائی تخمینه څه د پاسه 29% د تیر شوی کال نه سیوا ده۔ عبدالاکبر خان ډیر اوښیار، ډیر قابل زمونږ ملګرے دے او ډیره ښه نشاندهی په هر یو څیز باندے کوی۔ هغه

چه کومے خبرے اترے ، چه کوم تجویزونه ئے اوکړل خو دوئ هم د دے سپیکر په دے کرسئ باندے ناست وو بلکه د ډپټی سپیکر په کرسئ باندے هم ناست وو ، دا کوم Changes چه اوس دوئ وائی ، زما په خیال که د هغه وخت نه ئے کړے وے نو دا حالات به د مخکښ نه ډیر ښه وو ، سیوا به وو۔ (تالیاں) عبدالاکبر خان! (قہقہے) تاسو وئیل ، سپیکر مو پرے دغه کړو چه سپیکرصاحب ، ستاسو هم پکښ قصور دے۔ تاسو خبره کړے وه (قہقہے) ------

جناب عبدالاکبر خان: جناب سپیکر ، په دے کښ د سپیکر څه کار دے ؟

سینیئر وزیر منصوبہ بندی وترقی: تاسو د سپیکر نوم اغستے وو جناب سپیکر ، ته دومره زر منډه مه وهه۔ جناب سپیکر! دوئ د ایجوکیشن خبره اوکړه ، د ایګرکلچر خبره ئے اوکړه ، مونږ هم وایو چه Back bone دےخو مخکښ ایګرکلچر له دومره څه نه وو ایښودے شوی لکه چه په دے کښ 122% زیات هغے ته Allocation شوے دے۔ د پرائمری سکولونو او نورے خبرے اوشوے نو که تاسو بجټ اوګورئ نو نور سکولونه کم دی او پرائمری سکولونه دوه سوه دی او بیا Up gradation پرائمری نه مډل پورے سل ، نو په دے کښ لوئر مډل چه کوم دے شپږمه پورے ، دا په پرائمری تعریف کښ راځی او د هغے نه ، مډل نه هائی درجے چه کوم سل سکولونه دی او کالجز چه کوم دی ، صرف شل۔ اکرم درانی خان داخبره کړے وه چه په بجټ کښ تیر شوی سکیمونه ، On going سکیمونه زما وو ، نو دوئ خو وائی چه دا زما وو خو دا ورسره نه ګوری چه مونږ هغه سسټم کولو د پاره زیات On goingسکیمونو ته توجه ورکړے ده چه دغه Develop سکیمونه زر تر زره تیار شی او مخکښ شی او نوی سکیمونه پکار دا وی چه نوے حکومت راشی نو هغوی خپله کارکردګی ښائی چه مونږ دا اوکړل او زمونږ حکومت دا اوکړل خو مونږ د سسټم Develop کولو د پاره دا کوؤ چه دا سکیمونه چه کوم دی ، دا د صوبے دی او دا د صوبے د عوامو دی او هغه ورځ زمونږ یو ورور په زمکه کښیناستو چه زمونږه بچی چه کوم دی ، هلته کښ ټاټ نشته ، کرسئ نشته ، پکھی نشته خو هغوی د بجټ سټډی نه وه کړے چه دا څل پچیس لاکھ روپئ Per constituency سکولونو ته ایښودے شوی دی د هغوی

ټاټونو د پاره، د هغوی بنچونو د پاره، د هغوی قلمونو د پاره، د هغوی دواتونو د پاره، د هغوی د بلبونو د پاره، د هغوی د بورډونو د پاره نو په دے خیال باندے چه دا بچی دا او نه وائی چه مونږ غریبانان یو او سرکاری سکولونه چه کوم دی نو مونږ وایو چه دا مخکښې شی او د پرائیویټ سکولونو برابر شی۔ (تالیاں) بیا د هیلتھ د پاره چا دوستانو دا خبره اوکړه چه په دے پشاورسټی ته زیاته توجه ورکولے شی، توجه په دے ورکولے شی چه دا زمونږ دارالخلافه ده، په دے باندے مونږ خوشحالیږو، د دے مریضان، د دے سټوډنټس ټول دے ځایونو ته راځی او په دے کښې تعلیم حاصلوی۔ په دے کښې بنه هسپتالونه دی نو په دے کښې نه صرف د دے غټو هسپتالونو د پاره Allocation شوے دے بلکه ډسټرکټ هیډکوارټر هاسپټلز چه کوم دی، بل بی ایچ یوزچه هغه ځائے کښې دس هزار، آټھ هزار روپئ به دوایانو د پاره مقرر کیدے، په هغے باندے صرف ډسپرین به هم نه کیدو، اوس په دے بجټ کښې آټھ، دس هزار په ځائے تین لاکھ روپئ هغےته ورکړے شوی دی چه د هغه کلی غریبانانو خلقو ته د صحت تکلیف دے، مشکلات دی او ورسره دا System develop کول غواړو چه هغه Feasible ځایونو کښې سکولونه او بی ایچ یوز جوړ کړی۔ افسوس زهٔ کوم چه تیر شوی حکومتونو په داسے ځایونو کښې سکولونه جوړ کړی دی چه د هغے نه حجرے خلقو جوړے کړلے۔ بل دے وخت کښې Developmental کوم کارونه چه کیږی، هغه به داسے کوؤ چه د تیر شوی حکومتونو په وخت باندے نه وی او په تیر شوی کال باندے کوم روډونه چه جوړ شوی دی، اوس که تاسو په هغے علاقے باندے لاړ شئ نو د هغے هغه نمونه هم نه ښکاری۔ مونږ سټینډرډ غواړو چه هغه روډونه ښه جوړ شی، ښه ټهیک ټهاک وی چه خلق ئے یادوی چه د ګورنمنټ دا پیسه فضول نه ده تلے۔ بیا ورسره ورسره د لاءاینډ آرډر په ښه کولو باندے د چیف منسټرصاحب په کوششونو تقریباً څه د پاسه اووه نیم زره پولیس به نوی بهرتی کیږی او ورسره هغوی له اسلحه او د هغوی د ګاډو، د هر نمونه څیزونو انتظام شوے دے۔ بیا چیف منسټر Poverty alleviation د پاره ایک ارب روپئ مقررکړی دی او Insurance two hundred per house چه کوم دے، دا یو لویه تاریخی خبره ده چه چرته نشته او په دے حواله سره چه دوئ دا

اقدام اوکړو نو انشاءالله تعالیٰ د بهر ملکونو خلق به راځی او په دے ورسره نور به دPoverty په مد کښې پیسے ورکوی۔ مرکزی حکومت د طرف نه دا ښه کافی پیسے ملاؤ شوی دی د دے سکولونو د پاره، د هاسپټلز د پاره، بیا منډا ډیم د پاره او مردان کښې زمونږه شهید چیئرپرسن چه راغلے وه، هغے وعده کړے وه چه د دے ځائے کښې به یو نیورسټی جوړیږی نو د هغے مد لاندے هغوی وعده کړے ده بلکه دائے منلی دی چه په هغے بنیاد باندے به په مردان کښې یونیورسټی د فیډرل حکومت په مرسته باندے جوړیږی۔ زهٔ دے سره چیف منسټرصاحب ته دا ریکویسټ کوم چه هغه یونیورسټی که د بے نظیرصاحبے په نوم جوړه شی، مهربانی به وی۔ شکریه، سپیکرصاحب۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: جناب ہمایون خان صاحب، منسٹر فنانس سے گزارش ہے کہ وہ بجٹ ڈسکشن پر اپنی Wind up تقریر فرمائیں۔ مجھے یقین ہے کہ ہمارے معزز ممبران صاحبان نے جو اچھے Points raise کئے ہیں، انکو آپ ضرور شامل کریں گے۔ تھینک یو۔ منسٹر فنانس، پلیز۔

جناب محمد ہمایون خان(وزیر خزانہ): اعوذ باللہ من الشیطن الرجیم۔ بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ جناب سپیکر، میں سب سے پہلے آپ کا اور اس معزز ایوان کا تہہ دل سے شکریہ آدا کرتا ہوں جنہوں نے مجھے سولہ تاریخ کو بجٹ پیش کرتے ہوئے بڑے تحمل سے سنا اور مجھے یہ موقع فراہم کیا۔۔۔۔۔

آوازیں: په پښتو کښې جی۔

وزیر خزانہ: او ما له ئے دا موقع راکړه چه زهٔ په دے ایوان کښې بغیر د څه Hindrance، بغیر څه د رکاوټ نه خپل بجټ پیش کړم۔ زهٔ یو ځل بیا ستاسو او د خپل معزز ایوان ستاسو په وساطت شکریه ادا کوم جناب سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب، څنګه چه تاسو ته معلومه ده چه مونږ ته په بجټ جوړلو کښې څومره موده ملاؤ شوے ده او د موجوده حکومت په اقتدار کښې د راتلو سره دوه، دوه نیمے میاشتے شوے دی تقریباً، نو په هغے دوه، دوه نیمو میاشتو کښې چه کوم حالات مونږ ته درپیش وو، شکرالحمدللّٰه د هغے حالاتو نه، د امن و امان مسئله وه که نور مشکلات وو، هم دا حکومت ښه په خیر سره اووتو او په هغے مشکلاتو باندے ئے قابو اوموندله او ورسره ورسره زهٔ دا وایمه او زما په خیال ټول زمونږ معز ز ایوان هم دا ګڼړی چه دا کوم بجټ پیش شوے دے په دے

حالاتو کښې، دا یو بهترین بجټ دے۔ جناب سپیکر صاحب، د دے سره سره زهٔ د خپل قائد ایوان، وزیر اعلیٰ صاحب هم مشکور یم چه دوئ مونږ له ټائم راکړو او د دوئ په رهنمائی کښې مونږ بجټ پیش کړو او په هغے بجټ کښې مونږ دا کوشش کړے دے چه د خپلو عوامو دے مشکلاتو باندے قابو راشی او دا د هغے هم یوه نتیجه ده۔ زمونږ د صوبائی حکومت یو دا کارنامه ده چه کله موجوده حکومت په اقتدار کښې راغے نو په هغے وخت کښې د د یو بوجهئ اوړو قیمت د 610 روپو نه 640 روپو پورے وو جناب سپیکرصاحب، خو نن هغه زیات ریټ کم شو او د 410 او د 440 په مینځ کښې هغه ریټ راکور شوے دے، دا د موجوده حکومت یوه کارنامه ده۔ جناب سپیکر صاحب، زیاتے خبرے زمونږه مشر، زمونږ پارلیمانی لیډر، رحیم داد خان د پی اینډ ډی په حواله اوکړے خو زهٔ دا وایم چه دے موجوده بجټ کښې ځکه مونږه Consolidated سکیمونه اچولی دی چه د بجټ په تیاریٔ کښې، د اے ډی پی په تیاریٔ کښې مونږ سره ډیر کم ټائم وو، مونږ سره دا احساس وو، مونږ کوشش کړے دے چه بیا هم څه نه څه د خپلو ملګرو نه، د خپلو دوستانو نه، د معزز ممبرانو نه مونږه تجاویز واخلو خو زمونږه چونکه زیاتو خلقو سره Interaction اونه شو، د بجټ تیاریدو د پاره هغه ټائم مونږ ته ملاؤ نه شو نو ځکه مونږ دا کوشش اوکړو چه داسے سکیمونه پیش کړو چه یو Consolidated scheme راشی او بیا د هغے بجټ پاسکیدلو نه پس مونږ د خپلو ممبرانو صاحبانو سره کښېنو چه په کومه کومه علاقه کښې کوم کوم مشکلات دی چه هغه په Need basis باندے مونږه حل کړو جناب سپیکر۔ سپیکر صاحب، زهٔ د خپل جناب اکرم درانی صاحب د سپیچ په حواله سره راځمه جی، هغوی په خپل سپیچ کښې دوه درے کومے Major خبرے کوم چه Point out کړے وے جی، هغوی یوه دا خبره کړے وه چه موجوده بجټ د مهنګائی په حساب باندے بیس فیصد کم دے، زهٔ د هغوی په نوټس کښې دا راولم او دے معزز ایوان ته وئیل غواړمه چه صوبائی بجټ په درے حصو کښې وی جناب سپیکرصاحب، یوه صوبائی اے ډی پی، یو Foreign Aided Projects دی او یو پی ایس ډی پی ده۔ جناب سپیکر صاحب، که مونږ دے ته اوګورو چه صوبائی اے ډی پی کومه 2007-08 کښې پیش شوے وه نو دا موجوده اے ډی پی د هغے نه % 23.7 سیوا

ده جناب سپیکر صاحب۔ باقی زمونږ مشر درانی صاحب دا خبره کړے وه چه ما په خپل وخت کښې څلور سوه پرائمری سکولونه ورکړی وو خو موجوده حکومت دوه سوه پرائمری سکولونه ورکړل، زۀ د هغوی په نوټس کښې، د دے ایوان په نوټس کښې دا راولم چه څلور سوه پرائمری سکولونه چه تیر کال په اے ډی پی کښې کوم شامل شوی وو خو په هغے کار نه وو شوے او هغے ته فنډ نه وو Provide شوے، موجوده حکومت هغه څلورسوه پرائمری سکولونه هم جوړوی او ورسره دوه سوه نور سکولونه به هم انشاءالله تعالیٰ جوړوی جی۔ (تالیاں)

دوئمه خبره زمونږ اکرم درانی صاحب چه کومه کړے وه جی، هغه ئے د روډ په حواله کړے وه چه د زیاد درانی په کتاب کښې دو سو کلومیټر روډ دے، زما په کتاب کښې دوه نیم سوه کلومیټر روډ دے خو وزیر خزانه صاحب په خپل بجټ تقریر کښې شپږ نیم سوه کلومیټر روډ د پخیدو اعلان کړے دے جی، زۀ د هغوی په نوټس کښې دا راولم چه څلور سوه کلومیټره روډ کوم چه د هغوی په تیر اے ډی پی کښې د 402 او د 404 په هیډ باندے پروت وو، په هغے باندے کار نه وو شروع شوے نو موجوده حکومت هغه څلور سوه سره سره دوه نیم سوه کلومیټر روډ نور هم جوړوی به نو داځکه شپږ نیم سوه کلومیټره جوړیږی جی۔ (تالیاں)

زۀ دا خبره سپیکر صاحب، کوم چه مولانامفتی محمود صاحب، خدائے د هغه اوبخښی، زمونږ د ټولو مشر او زمونږ د پاره د ټولو نه قابل احترام دے جی، زمونږ درانی صاحب په خپل تقریر کښې دا خبره هم کړے وه چه د مولانا مفتی محمود صاحب په نوم چه کوم فلائی اوور جوړیدو نو موجوده حکومت هغه د خپل اے ډی پی نه اوباسلے دے، زۀ د هغوی په نوټس کښې دا راولم چه کیدے شی چه هغوی په روډ سیکټر کښې دا خپل سکیم کتلو بلکه دا سکیم په اربن سیکټر کښې موجود دے او هم هغه شان د مولانا مفتی محمود صاحب په نوم باندے موجود دے او څنګه چه مونږ وایو چه موجوده بجټ کښې مونږ زیات تیر سکیمونه جاری ساتلی دی او هغے له مو زیات فنډ ورکړے دے نو د هغے وجه دا ده چه موجوده حکومت پخپله جمهوریت باندے یقین لری، زمونږ قائدینو د جمهوریت د پاره قربانئ ورکړی دی نو ځکه تیر حکومت هم جمهوری کنړو او د هغوی سکیمونه مونږ اول جاری ساتلی دی، د هغے نه پس مونږ خپل نوی سکیمونه ورکړی دی

جناب سپیکر صاحب۔ (تالیاں) جناب سپیکر صاحب، په دے بجټ کښ د دومره ډیبیټ دوران مونږ اوکتل چه زمونږ د زیاتو ملګرو کومه رائے چه راغلے ده نو هغه تقریباً یو شان ده۔ زیات ملګرو دا اظهار کړے دے چه که په اے ډی پی کښ دا سکیم Constituency wise راشي نو د هغے هغه خپله مجبوری مونږ تاسو ته بیان کړه چه دا مجبوری وه چه د ټائم کمے وو نو ځۀ د هر ممبر د سوال جواب که ورنکړے شمه نو هغه ممبران د زما نه په دے ګله نه کوی بلکه مونږ ټول پوائنټس یو ځائے نوټ کړی دی جی۔ باقی د Net Hydle Profit خبره ده، زمونږ وزیر اعلیٰ صاحب په هغے باندے تفصیلاً خبره کوی جی۔ بیا زمونږ خور سعیده بتول صاحبه د واټر سپلائی سکیم خبره کړے ده او دا خبره ئے کړے وه چه کوم واټر سپلائی سکیم یا دوه دوه کلومیټر روډ زمونږ فیمل ایم پی ایز صاحبانو ته نه ملاویږی نو په هغے باندے د هغوی یو اعتراض وو خو هغوی ته مونږه دا وئیل غواړو چه داسے علاقے شته چه د هغے نه زمونږ یوه لیډی ایم پی اے صاحبه هم نشته جی او داسے علاقے شته چه د هغے نه شپږ، اووه ممبرانے دی جی، مونږه چونکه هر ځائے ته د برابرئ په بنیاد ګورو نو ځکه هغوی چه په کومو علاقو کښ رسی نو هغه ایم پی ایز صاحبان به هلته کښ هغه سکیمونه جاری ساتی او بیا که داسے څه ایمرجنسی سکیمز د هغوی راځی او د هغوی خواهش وی چه دا د اوشی نو ټی ایس پی د لاندے چه کومے یو کروړ روپئ هغوی ته ملاویږی نو په هغے کښ هغه سکیمونه هغوی جاری ساتلے شی جناب سپیکر صاحب۔ باقی سپیکر صاحب، زمونږ سکندر شیرپاؤ خان خبره کړے وه خو شاه حسین ورور زما خیال دے چه کوم جواب ورکړو نو ځۀ به په هغے اکتفا اوکړمه چه یره بس خو دا زمونږه بدقسمتی ده جی چه کله مونږه په اقتدار کښ یو نو مونږ هغے څیزونو ته نه ګورو خو چه کله د اقتدار نه لاړ شو نو کوم ځائے کښ چه هغه حکومتونو ډیویلپمنټ ته توجه نه وی ورکړے نو هغه ورته هم وریاد شی او کومے مسئلے چه د تیرو حکومتونو نه مونږ ته پاتے وی نو هغه مونږ ته وائی شابه، اوس دا تاسو حل کړئ نو دا مشکله ده جی سپیکر صاحب۔ (تالیاں) باقی زمونږه اسرار خان جی یوه خبره پوائنټ آوټ کړے وه چه قابل تقسیم پول باندے خبره وه، Divisible poolباندے، هغوی د نیوز اخبار یو Statement refer کړے وو جی

نو زهٔ د اسرار خان په نوټس کښې راولمه جې چه دوه قسم، یو Divisible pool دےاو یو Straight transfers دی جی، نو مونږه په بجټ کښې Divisible pool بیل خوښودلے دے او Straight transfers مو بیل خوښودلی دی جناب سپیکر صاحب، نو ځکه اسرار خان چه کوم اعتراض کړے دے نو هغوی Straight transfers او Divisible pool یو ځائے Count کړی وو نو ځکه هغوی وائی چه زمونږ په دے فگرز کښې فرق دے۔ که دوئ Straight transfers او Divisible pool بیل بیل Count کړی او هغه Add کړی نو هغه فگرز یو شان راځی کوم چه زمونږ په دے بجټ کښې لیکلی شوی دی جناب سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب، زمونږه ټولو مشرانو، عبد الاکبر خان، میجر صاحب، دا ټول ملگری داسے دی چه هغوی په دے بجټ باندے خپل اظهار خیال کړے وو۔ د هغوی هغه کوم Reservations چه دی یا څه تحفظات وو نو زمونږ به دا کوشش وی، د موجوده حکومت به دا کوشش وی چه د خپلو ملگرو هغه تجاویز په رنړه کښې، کیدے شی زمونږ نه په دے بجټ جوړولو کښې څه غلطئی شوی وی، نو چه مونږ هغه هم Redress کړو او زهٔ دے ایوان ته تسلی ورکوم او دا یقین دهانی ورکوم چه انشاء اللّٰه تعالی که خدائے پاک موقع راکړه نو راروان بجټ پیش کولو کښې به مونږ سره کافی ټائم وی نو مونږ به د هر ممبر سره او د چیمبر سره، د استاذانو سره، هر یو ایسوسی ایشن سره کښینو چه مونږ پرے راروان خپل بجټ جوړ کړو۔ د دے سره سره جناب سپیکر صاحب، زهٔ یو ځل بیا ستاسو په وساطت سره د دے ټول ایوان شکریه ادا کومه چه زما سره ئے دومره Cooperation اوکړو۔ ډیره مهربانی۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: اب میں جناب وزیر اعلیٰ صاحب سے گزارش کرونگا کہ وہ صوبائی حکومت کے چیف ایگزیکٹیو کی حیثیت سے اور قائد ایوان کی حیثیت سے اپنی پالیسی، Wind up تقریر کریں۔ جناب وزیر اعلیٰ امیر حیدر خان ہوتی صاحب۔ (تالیاں)

جناب امیر حیدر خان ہوتی (وزیر اعلیٰ): بسم اللّٰه الرحمن الرحیم۔ محترم سپیکر صاحب، د دے معزز هاؤس ډیرو معززو ممبرانو صاحبانو، زما خوئیندو، د ټولو نه اول او وړومبے خو زهٔ د دے ټول هاؤس ډیره زیاته شکریه ادا کول غواړمه، د هر یو کس ډیر مشکور او شکر گزار یم چه یو ځل بیا مونږ خپل تاریخی روایات برقرار

اوساتل او زما په خیال یو ډیر Serious، یو ډیر Sober، یو ډیر Mature او ډیر Productive debate په دے هاؤس کښې په دے بجټ باندے اوشو او بیا په بجټ سپیچ کښې چه په کومه طریقه باندے په استقامت او په ډیر ښکلی انداز دے ټول هاؤس خپل یو Joint attitude show کړو نو زما په خیال هغه هم زمونږ د ټولو د پاره د اطمینان او د خوشحالئی او د تسلئی خبره ده او بیا محترم سپیکر صاحب، که په دے موقع زهٔ ستاسو د رول ستائینه او نکړم نو زما په خیال دا به هم زیاتے وی چه په کومه طریقه باندے اوسه پورے دا Proceedings تاسو Conduct کړل دغلته د مشرئ په ځائے ناست، نو زهٔ تاسو ته خراج تحسین پیش کوم او د خپل طرفه او د دے ټول هاؤس د طرفه ستاسو ډیره زیاته شکریه ادا کول غواړمه۔

(تالیاں) دلته کښې د بجټ په حواله ډیرے مفیدے، ډیرے ژورے خبرے اوشوے۔ ډیر تجاویز راغلل او زما په خیال د دے ټول ډیبیټ ښائیست دا وو چه اکثر به د اپوزیشن بنچز نه یو ملګرے، یو مشر پاسیدو یا یوه خور به پاسیده نو داسے تاثر به ملاویدو لکه چه هغه د ټریژری بنچز سره تعلق ساتی او کله نه کله به زمونږ د ټریژری بنچز نه یو مشر، یو ملګرے، یوه خور پاسیده نو داسے تاثر به ملاویدو لکه چه اصلی اپوزیشن ممبران خو دا دی او دوئ خبره کوی لګیا دی۔

(تالیاں) زما په خیال دا هم ښائیست دے او دا عکاسی کوی د دے ټول هاؤس د سوچ، د فکر چه کوم احساس مونږ ټولو ته دے، کومے ذمه وارئ مونږ خپلے ګڼړو چه مونږه ټول اصلاح هم اوکړو او د یو بل رهنمائی هم اوکړو۔ نو که په دے هاؤس کښې هر څوک پاسیدلی دی او هر چا خبره کړے ده، زما دا یقین دے چه هغه خبره زمونږ د اصلاح د پاره شوے ده، هغه خبره زمونږ د رہنمایئ د پاره شوے ده۔ په دغه خبرو، په دغه تجاویزو به انشاء اللّٰه مونږ خپله اصلاح هم کوؤ، دغه زمونږ د پاره رہنمائی هم ده او انشاء اللّٰه مونږ به دا کوشش کوؤ چه په یو صحیح سمت کښې د دے اصلاح او د دے رہنمایئی په نتیجه کښې مونږ روان شو که خیر وی۔ (تالیاں) دلته کښې محترم سپیکر صاحب، دا خبره هم بیا بیا اوشوه چه وخت ډیر لږ وو او ډیر کم ټائم وو او کریډټ ورکړے شو ګورنمنټ ته چه په دوه درے میاشتو کښې دننه دننه حکومت ډیره ښه کارکردګی اوکړه او دا بجټ ئے Prepare کړو۔ زهٔ مشکو ریم چه هر څوک دا کریډټ ګورنمنټ ته

ورکوی خو زما په خپل خیال او زما په خپل سوچ که کریډټ ورکول غواړی محترم سپیکر صاحب، نو اصلی کریډټ د دے هاؤس دے او د هر یو ممبر دے چه د سپیکر صاحب او د ډپټی سپیکر او د لیډر آف د هاؤس د انتخاب نه واخلئ تر د دے د بجټ ډیبیټ پورے او د دے د Presentation پورے که څوک اصلی حقدار دی، چه چا ښه کار کړے دے، هغه ګورنمنټ نه دے، هغه دا هاؤس دے او خدائے د کړی چه دا هاؤس هم په دغه طریقه باندے وړاندے هم خپل کردار ادا کوی۔ (تالیاں) محترم سپیکر صاحب! زما نه وړاندے د هغه مشکلاتو او د هغه Challenges ذکر اوشو چه کوم مشکلات او کوم Challenges د حکومت راتلو سره سره مونږ ته تیار په انتظار ناست وو۔ زهٔ قطعاً دا نه وایم، روایات چه کوم دی، هغه ټول عمر دا دی چه مونږ څه اوکړو، مونږ خو ډیر څه کول غوښتل خو تیر حکومت راته دومره څه پریښی دی، دومره مشکلات دی، دومره تکلیفات دی۔ چه مونږ هیڅ نه شو کولے، دغه قطعاً په دے هاؤس کښې نه وئیل غواړمه۔ بالکل مشکلات راته ملاؤ شوی دی، Challenges شته، تکلیفات شته خو د هغے دا مطلب نه دے چه زهٔ دا اووایمه چه نه دا د بل ذمه واری ده، خلقو مینډیټ مونږ له راکړے دے، ذمه وار مونږ یو۔ که پرون د بل چا ذمه واری وه نو نن زمونږ ذمه واری ده چه مونږ Deliver کړو او په دے Issues باندے مونږ وړاندے لاړ شو۔ (تالیاں) خو لږ ډیر ذکر د هغے کول غواړمه۔ زهٔ په Annual Development Programme او په Sectors باندے دومره تفصیلی خبره کول نه غواړمه ځکه چه زما نه وړاندے ملګرو په هغے تفصیلی خبره کړے ده۔ زهٔ چه کوم Basic Issues دی زمونږ د صوبے سره Related، په هغے باندے خبره کول غواړم۔ اول خو عام شکایت چه کوم نن مونږ ټولو ته دے، هغه د لوډ شیډنګ په حواله باندے دے۔ بد قسمتئی نه په تیر اووه اته کالو کښې د Power generation اړخ ته چه کومه توجه ورکول پکار وو، هغه توجه نه ده ورکړے شوے۔ د یو څو معمولی پراجیکټس نه علاوه چه کوم ګیپ دے دے وخت کښې په ډیمانډ او سپلائی کښې، د هغے د Meet کولو د پاره او د هغے د پورا کولو د پاره هیڅ قسمه کوشش نه دے شوے۔ نن په زرګونو میګاواټس زمونږ کمے دے او د دغه کمی په وجه مونږ ګورو چه په دے ټول پاکستان کښې نن لوډ شیډنګ کیږی او

د هغے د پارہ اوس مرکزی حکومت لگیا دے ، مونږ، صوبے خپل کوشش هم کوؤ خو دا دومرہ گیپ دے او دا دومرہ لوئے ډیمانډ دے چه د دےMeetکول د ورځو خبرہ نه دہ، نه دا د میاشتو خبرہ دہ۔ که په دیکښې مونږ ہائیډل ته ځو، هغه خو ډیر زیات ټائم اخلی خو که دیکښې مونږ تهرمل ته هم ځو نو هغه به هم کال، یو نیم کال اخلی خو فلور آف دی ہاؤس زۀ دومرہ وئیلے شم چه فیډرل گورنمنټ کومه سټرے شروع کړے دہ او د پراونشنل گورنمنټ پکښې کوم Contributionدے ، اللّٰہ د پکښې خیر واچوی، خو انشا ء اللّٰہ end 2009 ته مونږ دا امید کولے شو چه په پاکستان کښې به مزید نور لوډ شیډنگ نه وی که خیر وی۔

(تالیاں)          خو محترم سپیکر صاحب، دغه تش زمونږ تکلیف نه دے ، زمونږ د صوبے تکلیف لږ د دے نه سیوا دے او هغه په دے سیوا دے چه یو خو هغه لوډشیډنگ دے چه کوم په نیشنل گرډ باندے کیږی د مختلفو علاقو د پارہ مختلف فیډرز د پارہ، چا د پارہ څلور گهنټے ، د چا د پارہ پینځه گهنټے ، د چا د پارہ درے گهنټے ، مونږ ته خو دلته تکلیف دا جوړ دے چه څه"رب اووهلو او څه عبد الرب اووهلو" دلته کښې واپډا والا چه کوم دی، هغوی د هغه لوډشیډنگ نه سیوا خی، نور لوډ شیډنگ په خپل طبیعت او په خپل مزاج او پخپله خوښه باندے کوی او دغه هغه وجه دہ چه زمونږ په بعض علاقو کښې چرته نن دولس گهنټے لوډ شیډنگ دے ، چرته پنځلس گهنټے لوډ شیډنگ دے او چرته شپاړس گهنټے لوډ شیډنگ دے او زما په خیال په دے ایشو باندے به دا ټول هاؤس ما سرہ ملگرتیا کوی چه د دے ټول هاؤس د طرفه مونږہ ډیر یو واضحه بیان Conveyکول غواړو چه کوم په نیشنل گرډ باندے لوډشیډنگ دے ، په ټول پاکستان کښې دے ، هغه مونږ منو، په سر سترگو باندے ، یو کمے دے خو چه واپډا د خپل طرف نه کوم زیاتے کوی او کوم ظلم کوی او دلته دا لوکل لوډ شیډنگ هغوی روان کړے دے ، مونږ دا ټول هاؤس په هیڅ صورت هغه قسمه لوډ شیډنگ منلو ته تیار نه یو۔ (تالیاں) او دے سرہ یو گزارش بل هم کوم

محترم سپیکر صاحب،زۀ د پنجاب خلاف قطعاً خبرہ کول نه غواړم، زمونږ ورونړہ دی، زمونږ مشر ورور دے خو د انصاف یو تقاضا دہ، زمونږ چه دلته فوډ کرائسس راشی نو مونږ ته وینا دا کیږی چه غله کمه دہ، Restrictionsپه مونږ

باندے اولگی۔وینا دا کیږی چه دا غله به اول پنجاب د خپل ضرورت مطابق راغونډوی، استعمالوی به ئے او د هغے نه پس چه د هغوی خپل ضرورت پورا شی، نو د هغے نه پس به بیا دا غله نور پاکستان ته ملاویږی، ډیره ښه خبره ده جی، په سر سترګو باندے، د هغوی حق دے خو زهٔ یو ګزارش دا کول غواړمه او فلور آف دی هاؤس ئے کول غواړمه چه دلته بیا اکثریتی بجلی هم زما صوبه جوړوی، اوبه خدائے مونږ له راکړے دی، هائیډل جنریشن ټولو کښ زیات په دے ځائے کښ دے، نو چه د بجلئ کمے راځی محترم سپیکر صاحب، نو دا هم بیا زمونږ التجا ده چه اول د د دے صوبے ضرورت پورا کړے شی او بیا د نور پاکستان له بجلی ورکړے شی۔ (تالیاں) دغه انصاف دے او دا چه نن څه کیږی، مونږ د هغے په بنیاد دا خبره کوؤ جی ځکه چه نن دلته تکلیف دے، نن دلته کمے دے او بیا دلته چه کوم صورتحال دے، اوس زما د سوات ملګری دلته کښ ناست دی، زما د هنګو ملګری دلته ناست دی، که په لاهور کښ یا په فیصل آباد کښ د شپے بجلی لاړه شی نو خلقو ته د ګرمئی نه تش تکلیف وی خو که په سوات کښ او په هنګو کښ نن د شپے بجلئ ځی نو د ګرمئ نه علاوه هغه نور ډیر پرابلمز هم Createکوی، کوم چه د لا ء اینډ آرډر سره Related problemsدی، د دغه احساس پکار دے۔ (تالیاں) بیا محترم سپیکر صاحب، بعض داسے ایشوز هم شته چه هغه په بین الاقوامی سطح باندے دی او د هغے هم نیغ په نیغه اثرات نن په مونږه باندے رارواں دی۔ یو په هغے کښ Constant increaseچه کوم رواں دے په Fuel pricesکښ، محترم سپیکر صاحب، مونږ اوکتل په تیرو څو میاشتو کښ چه د پټرولو او د ډیزل قیمت د کوم ځائے نه کوم ځائے ته اورسیدو؟ او بیا نن مونږ ته د ډیزلو یو Shortageهم دے او د هغے Shortage بنیادی وجه هم دا ده چه کوم Subsidy pay کوی ګورنمنټ، ډیر وخت پورے Care taker governmentکښی هغه Subsidy د سره فیډرل ګورنمنټ هډو Payکړے نه ده پټرولیم کمپنیز ته، اتیا اربه روپئی، 80 Billion rupees، دا د Oil Companiesپاتے وے فیډرل ګورنمنټ ته چه کوم هغوی نه وے ورکړے۔ اوس زهٔ مشکور یم د فیډرل ګورنمنټ چه Elected Federal Government راغے، چه هغوی د هر ځائے نه ګنجائش پیدا کړو، ځان ئے لنډ تنګ کړو خو

فیډرل ګورنمنټ اوس په وړومبنی Installmentکښې دیرش بلینه روپئی آئل کمپنیز له ورکړے د Subsidyپه مد کښې او دغه شانتے نور حساب به هم ورکول غواړی خو اثرات ددے شته محترم سپیکر صاحب، ددے نه مونږ انکار نه شو کولے۔ که مونږ نن دا وایو چه دا پرائسس سیوا شو او ددے هیڅ اثرات نشته، دا به غلط بیانی وی۔ د دے اثرات بالکل په عام خلقو باندے شته خو چه انټرنیشنل مارکیټس کښې پرائسس کم شی نو دغه توقع مونږه هم بیا کولے شو چه پکار ده چه بیا دلته هم Accordingly prices یا کم شی چه خلقو ته یو ریلیف کم از کم ملاؤ شی په دے ځائے کښې د ملک په سطح باندے۔ بیا محترم سپیکر صاحب، د لاء اینډ آرډر په حواله خبره کول غواړم۔ ما په دے فلور آف دی هاؤس دا خبره کړے وه چه زمونږ به وړومبنے کوشش دا وی، Priority No. 1به مو دا وی چه د لاء اینډ آرډر د پاره مونږه خپله سترے او مونږ خپل کوششونه اوکړو۔ محترم سپیکر صاحب، یو ډیر لوئے سفر مونږ ته په سر پروت دے په دے حواله او ډیر دشوار ګزار سفر دے ، ډیر رکاوټونه دی پکښې، ډیر مشکلات دی پکښې، ډیر تکلیفونه دی پکښې، ډیر Hurdlesدی پکښې۔ زۀ په دے موقع قطعاً دا Statementنه شم ورکولے چه مونږه نیم سفر هم طے کړے دے ، نا خو کم از کم دا بیا ضرور ورکولے شم او د هغے د پاره زۀ ددے ټول هاؤس او د ټول Political leadershipمشکور یم چه کم از کم هغه دوه درے قدمونه، چه کوم بنیادی قدمونه اغستل پکار وو، چه کوم چا په تیرو اووه اتو کالو کښې نه وو اغستی، شکر الحمد لله هغه وړومبنی Steps له خیره مونږه په دوه درے میاشتو کښې

واغستل۔ (تالیاں) هغے کښې هم دوه Aspectsدی محترم سپیکر صاحب، لاء اینډ آرډر سره Related، چه زۀ ئے لږ وضاحت کول غواړم۔ یو خو دا چه زمونږه Approachبه څه وی؟ چه څنګه مخکښې ما وئیلی وو چه Force as a last resortچه نور ټول Optionsختم شی، نورے ټولے لارے بندے شی او بله یوه لار هم نه وی او د طاقت او د قوت استعمال لازم وی او ضروری وی نو بیا د Writ of the government د پاره او د خلقو د ژوند او د Properties د تحفظ د پاره به حکومت یقینی طور چه د طاقت او د قوت استعمال کوی خو چه کوم ځائے کښې نورے لارے کهلاؤ وی نو د طاقت او د قوت استعمال نه دے پکار او زما په خیال

دا ټول هاؤس به د دے ګواهي کوی چه مونږ خو په پردی جنګ کښې دل شو، غرض پردے، مقصد پردے، مفاد پردے، لوبه پردئ، خو نن هغه جنګ زمونږ په وطن او زمونږ په خاوره باندے کیږی او بیا بدبختی او بد قسمتی دا چه د دے ملک واکدارانو او حکمرانانو پخپله خاوره د خپلو خلقو بے ګناه وینه تویے کړه، د ظلم انتها اوشوه۔ کوم کوم شهیدان به یادوؤ، کوم کوم یتیمانان به یادوؤ، کومے کومے کنډے به یادوؤ؟ وزیرستان به ژاړم که ډیره اسماعیل خان به ژاړم، که سوات به ژاړم، که هنګو به ژاړم، که پېښور به ژاړم؟ خو زما په خیال په دیکښې به زمونږ د ټولو سوچ یو وی چه دا مینډیټ مونږ ټولو ته ملاؤ شوے دے نو مونږ ته د دے د پاره نه دے ملاؤ شوے چه مونږ بے ګناه په خپل وطن د خپلو خلقو وینه تویے کړو۔ دا مینډیټ مونږ ته د دے د پاره ملاؤ شوے دے چه مونږ د خپلو خلقو تحفظ اوکړو۔ (تالیاں) او دغه تحفظ به مونږ انشاءالله کوؤ۔ کوشش به زمونږ دا وی چه بے ګناه وینه تویے نه شی دلته، چا سره ظلم او چا سره زیاتے او نشی۔او که څوک بضد وی، د تشدد لار نه پریږدی نو بیا د حکومت ذمه واری هم جوړیږی او مجبوری ده هم چه بیا به حکومت خپل حرکت کښې راځی۔ دغه شانتے بیا مونږه تماشه نه شو کولے۔ په دے حواله باندے محترم سپیکر صاحب، که د لاء اینډ آرډر خبره زهٔ کومه، زهٔ د صوبے خبره کوم، زهٔ د Settled areas خبره کوم خو دا Co related دے د فاټا سره۔که دا سوچ مونږ لرو محترم سپیکر صاحب، چه په صوبه کښې به امن راشی که فاټا کښې هر څه کیږی نو زما په خیال چه دا به زمونږ غلط فهمی وی۔ که تا سو اوګورئ نو دا Effect د فاټا نه Settled Areas ته راغلے دے، لهذا لازم خبره داده چه نن د صوبے سره سره اول په فاټا کښې د امن او د استحکام ضرورت دے۔ نن خلق وائی چه مونږ فاټا کښې Development projects کوؤ، Foreign funded projects کوؤ، ډیره ښه خبره ده چه فاټا کښې Development کیږی، دا زمونږه Development دے ځکه چه زمونږ ورونړه دی، زمونږ د وجود یوه حصه ده خو زهٔ یو ګزارش کول غواړمه چه دے نه مخکښې چه فاټا ته Developmental packages اوړئ، اول د فاټا خلقو له بنیادی واک ورکړئ، هغوی له اختیار ورکړئ، اختیار ورکړئ او حق ورله ورکړئ۔ نن د دغه ضرورت دے محترم سپیکر صاحب۔ (تالیاں)

بعض Administrativeاو Political Changesنن په فاټا کښې لازم دی۔ محترم سپیکر صاحب، د فاټا چه کوم زما ورور دے ، نن هغه ته هغه حقوق حاصل نه دی چه کوم مونږ ته دلته په پیښور کښې حاصل دی، نن د هغه Rights & liberties هغه سره نشته چه کوم مونږ ته حاصل دی۔ اول خو هغه له مساوی حقوق ورکړئ، هغه له Libertiesورکړئ چه هغه ته کم از کم دا احساس خو اوشی چه او زۀ هم د دے ملک یو اوسیدونکے سړے یم او زما هم څه حق شته، زما هم تپوس شته او زما هم پوښتنه شته۔ دغه باندے خو زۀ مشکور یم د فیډرل ګورنمنټ چه مونږ هغوی سره خبره کړے ده او فیډرل ګورنمنټ له خیره مونږ له دا تسلی او یقین دهانی راکړے ده چه د فاټا په حواله باندے فیډرل ګورنمنټ کوم ګامونه پورته کوی او کومه سټړے کوی نو انشاء الله پراونشل ګورنمنټ او زمونږه صوبائی مشران به هغے کښې شامل او شریک وی، انشاء الله د هغوی رائے به په هغے کښې شریک وی او زما په خیال د دغے نن مونږ ته ډیر ضرورت هم دے بلکه زۀ به لږ وړاندے هم لاړ شم محترم سپیکر صاحب، زۀ به د افغانستان په حواله باندے خبره اوکړمه۔ د خبرے بنیاد ته به ځو محترم سپیکر صاحب، سره د دے چه زۀ اول په فلور آف دی هاؤس باندے دا خبره کول غواړمه چه د هغه اړخه کومے حملے شوے دی زمونږه په فورسز باندےاو زمونږه په عام پاپولیشن باندے، بالکل مونږه ئے نه صرف دا چه مذمت کوؤ بلکه زۀ دے حده پورے تلے یمه چه کوم زمونږه پالیسی ده او کوم زمونږه تعاون دے ، پکار دی چه مونږ په هغے باندے Seriouslyیو Thinking اوکړو۔ (تالیاں) محترم سپیکر صاحب، دے وخت زمونږه او د افغانستان تر مینځه د اعتماد یو فقدان دے ، اعتماد بحال کول غواړی۔ که زۀ په دے طمع ناست یم چه په افغانستان کښې به اور بلیږی او زما جولئی او زما کور به ترے بچ شی نو دا زما غلط فهمی ده۔ تر څو پورے چه په افغانستان کښې امن و استحکام نه دے راغلے محترم سپیکر صاحب، په فاټا کښې او په قبائلو کښې امن و استحکام نه شی راتلے او تر څو پورے چه په فاټا کښې امن و استحکام نه دےراغلے محترم سپیکر صاحب، زمونږ په صوبه کښې امن و استحکام نه شی راتلے۔ د دے دوئم Aspectمحترم سپیکر صاحب، د Law enforcing agenciesسره تعلق ساتی۔ زۀ په هغه حواله باندے تش دومره وئیل

غواړم چه په هغے کښې زمونږ خپل کوشش دادے چه مونږه Law enforcing agenciesخپل Strengthen کړو، څنګه چه مافلور آف دی هاؤس وئیلی وو چه Personnel, equipment, infrastructureاو Thrillاو څنګه چه دلته اووئیلے شو چه انشاءالله هم په دے Coming financial yearکښې به دا صوبه اووه نیم زره خپل ایلیټ پولیس فورس به Raiseکوی او داسے طریقے باندے به دا Trainکیږی انشاءالله څنګه چه د پاکستان په نورو صوبو کښې بالخصوص په پنجاب کښې هغوی Trainشوی دی او نن هغوی خپلے ذمه واری سر ته رسوی۔

(تالیاں) د دے نه علاوه محترم سپیکر صاحب، 503 ملین Allocation دے د پولیس انفراسټرکچر د پاره چه په کوم به له خیره انشاء الله دولس پولیس لائینز، شپیته پولیس سټیشنز او تقریباً د سلو نه زیات پولیس پوسټس زمونږ په صوبه کښې جوړیږی چه د Law enforcing agencies performance پرے ښه شی۔ د دے نه علاوه محترم سپیکر صاحب، زمونږه کوم پولیس والا ورونړه چه شهیدان شو، زما په خیال هغوی د خپل غرض او مقصد د پاره دا قربانی نه ده ورکړے بلکه هغوی د دے خاورے د پاره او د دے وطن د پاره او زمونږ د ټولو د پاره دا قربانی ورکړے ده او پکار ده چه دا مونږ Appreciate کړو او د دغے د پاره مونږه سپیشل پیکیجز ورکوؤ هغه Families له چه کوم د پولیس شهداؤ سره تعلق ساتی او شروعات هغه مونږ د دے کوؤ چه انشاء الله هغه Families له به مونږه مفت پلاټونه د سرکار د طرفه ورکوؤ چه کوم پولیس والا شهیدان شوی دی محترم سپیکر صاحب۔ (تالیاں) دغه شانتے د هغوی هیلته او انشورنس پالیسیز دی جناب سپیکر صاحب، چه په هغے باندے زمونږه کار له خیره روان دے۔ د Annual Development Programme په حواله زۀ تش دومره ګزارش کول غواړم محترم سپیکر صاحب، چه 41.54 بلین زمونږه Total outlayده۔ چه څنګه دلته خبره اوشوه، زما هم دا خواهش دے محترم سپیکر صاحب، چه زۀ د په دے هاؤس کښې پاسیدلے وے او ما دا اعلان کړے وے چه زمونږ Annual Development Programme 241 Billionدے۔ د چا به دا نه وی خوښه؟ زما به هم دا خواهش وو محترم سپیکر صاحب، چه زۀ پاسیدلے وے او ما فلور آف دی هاؤس وئیلے وے چه اوسه پورے یو یو ایم پی اے ته یو یو

کړور روپئ ملاویدلے ، دلته خلقو پینځه کروړه او لس کروړه ئے اوویل ، زما هم دا خواهش وو چه ما دا اعلان کړے وے چه د نن پس به یو یو ایم پی اے ته شل شل کروړه روپئ ملاویږی خو خواهشات او حقیقتونو کښ فرق وی محترم سپیکر صاحب۔ کوشش به کؤو، سترے به دا کوؤ چه خپلے صوبے ته خپل وسائل راوړو، په خپلو وسائلو باندے خپل اختیار قائم کړو او بیا هغه وسائل د دے خپلے صوبے د پاره او د دے خپلو خلقو د خدمت د پاره استعمال کړو خو د دے وخت کښ چه مونږ خپلے پښے غزوؤ محترم سپیکر صاحب، نو د خپل څادر مناسبت سره به ئے غزوؤ۔ په دیکښ زۀ دا منم چه increase 5% دے Overall، که تاسو Annual Development Programme ته اوګرئ خو Figures realisticدی، دا تسلی زۀ درکولے شم۔همایون خان یو خبرے ته اشاره اوکړه چه Provincial sizeکښ increase 23% راغلے دے ، تیر کال چه دا 39 بلین زمونږه ADPده ، زۀ په هغے څه Criticismکول نه غواړم خو چه 39 بلین زمونږ ADPوه، په هغے کښ Foreign fundingښودلے وو، تقریباً څه د پاسه اووه بلینه، 7 Billion plus actualچه کوم Foreign fundingراغے ، هغه څه د پاسه څلور بلینه راغے ، درے بلینه په دغه کښ Shortage راغے ، نو هغه ADPتاسو دا Considerکړه چه درے اربه خو هغے نه نیغ په نیغه لاړے ، زۀ به هم دلته لګیدلے وومه، ما به هم فنانس ته وئیلی وو چه خدائے به خیر کړی، ګورو به، پیسے به بهر نه راشی خو تاسو هم دلته حساب کتاب کښ اولیکئ چه لس بلینه به مونږه ته بهر نه ملاویږی نو مونږ به ADPد لته کښ Presentکړے وه چه زمونږه ADPد 45بلین ده خو بیا به مو صبا دے هاؤس له څه جواب ورکوؤ او دے خلقو له به مو څه جواب ورکوؤ؟ لهذا Figuresمحترم سپیکر صاحب، Realistic دی او چه څنګه دلته وینا اوشوه، کم از کم په دے خبره باندے ما ته اطمینان دے۔ که دا مونږ نه وے کړے نو دا به د تیر حکومت چه کوم مینډیټ وو، د هغے توهین وو، دا د هغے علاقو سره زیاتے وو چه په کومو علاقو کښ دغه Developmental schemes روان وی۔ Total schemes چه کوم زمونږ دی محترم سپیکر صاحب، د هغے تعداد دےنو سو ایک، دیکښ د PSDP Schemesهم Includedدی، په دے 901سکیمز کښ محترم سپیکر صاحب، 604

چه کوم دی، دا Ongoing schemesدی او تش 297 نوے سکیمز دی۔ 604 درے حصے چه دی دوه حصے برخه مونږ ورکړے ده ongoing schemes له، د دے د پاره چه یو خو هغه علاقو کښ هغه کارونه مکمل شی او Ongoing بل Throw forwardمونږ ته د راروان Financial yearsد پاره کمے راپیدا شی۔ د هغے نه پس محترم سپیکر صاحب ، زۀ دلته کښ په یو بل ایشو باندے خبره کول غواړمه او هغه Poverty elevation programmeدے چه په کوم باندے قدرے بحث په دے هاؤس کښ لږ کم اوشو او زما په خیال ځکه کم اوشو چه قدرے یو نوے خبره ده۔ دلته کښ هر یو ملګرے ، هر یو مشر، هر یو خور چه پاسی نو دا یوه خبره خامخا کوی چه د غریبانانو د پاره مونږ څه اوکړل، مونږ غریبانانو له څه ریلیف ورکړو؟ که مونږ په دے طمع ناست یو چه مونږ به غریبانانو له سرکاری نوکرئ ورکوؤ نو بجټ کښ اوګورئ خپل Figuresته، زما په خیال په هغه تعداد کښ به غریبانانو له نوکرئ ورکړئ او نور خیر خیریت دے۔ مونږ یو خپل کوشش دا اوکړو چه مونږ بعض داسے Specified schemesراوړو چه هغے کښ مونږه هغے خلقو ته ځان اورسوؤ چه کومو خلقو ته د ټولو نه زیات حاجت او ضرورت دے او زۀ دا هاؤس په اعتماد کښ اخلم چه د هغے سکیم د پاره مونږه Allocation کړے دے ون بلین، یو ارب روپئ او د څه د پاره مو کړے دے او ولے مو کړے دے؟ ځکه چه اعداد و شمار ته اوګورئ، نن زمونږه چه کوم percentageدے د Poverty په دے صوبه کښ، دا 28%دے ، په نیشنل لیول باندے چه کوم Percentageدے ، دا 21%دے ، سوچ اوکړئ چه په نیشنل لیول باندے کوم Figuresدی، زمونږ صوبے کښ نن هغه غربت تقریبا ډبل دے او دا هم زمونږ د پاره ډیره د افسوس خبره ده چه زمونږ صوبه په دے حواله باندے د ټولو نه وروستو ده یعنی غربت زمونږ په صوبه کښ د بلوچستان نه هم زیات دے۔ زۀ دا نه وایم چه اوس د دے د پاره مونږ دا ون بلین کیښودلے یا دا Poverty Alleviation Scheme مونږ شروع کړو نو مونږ به ټول غربت یا نیم غربت ختم کړو خو کم از کم په یو Positive direction کښ به د دے مسئلے د حل کولو د پاره مونږه یو Move اوکړو او په هغے کښ د هغوی د پاره بلا سکیمز دی۔ مائیکرو فنانسنګ دے په هغے کښ، وړے قرضے دی غریبانو خلقو له، انټرپرائز

ډیویلپمنټ دے په هغے کښ محترم سپیکر صاحب، Health and education related activities دی په هغے کښ، پراجیکټس دی او په هغے کښ چه کوم زمونږ سوچ دے چه زۀ دا هاؤس په اعتماد کښ اغستل غواړم چه کوم اړخ ته همایون خان اشاره اوکړه، رحیم داد خان اشاره اوکړه چه یو داسے هیلتھ انشورنس، یو دوه درے پائلټ پراجیکټس به مونږه واخلو، دوه درے ضلعے به مونږه واخلو، داسے یو هیلتھ انشورنس مونږ ورکول غواړو چه په Per house تقریباً دوه سوه روپئ به سرکار Pay کوی خو که په هغه کورنئ کښ خدائے مه کړه هر یو کس بیمار کیږی او په هغه باندے څه تکلیف راځی نو د هغه د Twenty five نه واخله تر د Thirty thousand پورے چه کوم Medical expenditure دے، هغه به په هغے هیلتھ پالیسئ کښ Covered وی، هغه ته به چا ته د تلو ضرورت نه وی او Automatically هغه ته به هغه پیسے د انشورنس نه ملاویږی۔ (تالیاں) دلته مونږه خبره کوؤ چه جی خلقو ته په هاسپټلز کښ د علاج سهولتونه نشته، بی ایچ یوز کښ نشته، آر ایچ سیز کښ نشته، پرائیویټ هاسپټلز خلق زیات چارج کوی، هیپیټائټس سی Epidemic شو، دا قسمه سکیمز پکار دی د هغے د پاره چه یو غریب سړی ته دا احساس وی چه سرکار زما د کور د پاره دوه سوه روپئ ورکوی خو که سبا په دے کور کښ یو کس بیماریږی نو کم از کم شل پنځویش زره، دریش زره روپئ به هغه ته د هیلتھ انشورنس نه ملاویږی او زما په خیال په دے حالاتو کښ یو سړی ته شل پنځویش زره روپئ ملاؤ شی، دا د هغه سره لویه بنیګړه ده۔ د دغے د پاره خپله سترے او خپل کوششونه کول غواړو۔ ایجوکیشن او د هیلتھ په حواله سره زۀ تفصیلاً خبره نه کوم، نه په روډ سیکټر خبره کوم ځکه چه هغے باندے Already خبره شوے ده۔ په ایګریکلچر به زۀ Definitely خبره کول غواړم ځکه چه دلته دا خبره اوشوه چه ایګریکلچر ته Allocation کم دے۔ اوس به هم کم وی، زۀ دا نه وایم چه ایګریکلچر ته څومره Allocation پکار دے نو ټول په ټول مونږ په دے Coming financial year کښ هغوی له ورکړل، نه جی، اوس به هم کم وی خو که د تیر ځل Comparison تاسو اوکړئ د دے ځل سره چه څنګه دلته اووئیلے شو نو دے ځل له ایګریکلچر سیکټر کښ مونږه د 122% نه سیوا Increase تش ایګریکلچر

سیکٹر له ورکړے دے (تالیاں) او د دے د پاره مو ورکړے دے چه په جی ډی پی کښ Major contributor چه کوم دے، هغه ایګریکلچر دے، Contribution د ټولو نه لوئے هغه کوی په دیکښې او د دوئ چه کوم نوی سیکمز دی، په هغے کښ نوے ایریګیشن سسټم دے تقریباً په 75 sites او په هغے کښ پینځه سوه ډګ ویلز دی، په هغے کښ بلډوزرز دی په No loss no profit basisباندے، په هغے کښ د هزاره سره Related poultry sector د ډیویلپمنټ په حواله ډیر Major projects دی۔ په هغے کښ د ټولو نه Important شے چه Seeds industry چه دیکښې مونږه محتاج یو محترم سپیکر صاحب، Higher quality seeds ز مونږه سره نه وو، زمونږ زمیندارو ته Available نه وو، دے Allocation کښ مونږه دا Provision ایښے دے چه انشاءالله چه په ړومبنی ځل باندے به زمونږ د خپل صوبائی ګورنمنټ د دے خپلے صوبے په High standards باندے انشاءالله خپله Seeds Industry چه د کوم نه به مونږه له خیره Seeds provide کوؤ خپل کاشتکارانو ته (تالیاں) او بیا لړ In addition to this یو بل ریلیف چه کوم به انشاءالله زمونږه کاشتکارانو رونړو ته ملاویږی، هغه د آبیانے په Flat rates کښ دے۔ د دے نه وړاندے تقریباً اته Categories وو۔ د ګنیر نه به شروع کیدو څه د پاسه شپږ سوه روپئ او بیا دغه شانتے Vegetables fruitsراتلے به لاندے، دیکښې د هغه فصلونو نه علاوه چه کوم Food giving دی یعنی Wheat, maize, rice، که چرته شپږ سوه او که چرته پینځه سوه او که چرته څلور سوه او که چرته درے نیم سوه وو، زمونږه تجویز دا دے انشاءالله چه دا یو ریلیف مونږه ورکړو چه Flat شی، د ټولو په ځائے باندے دوه سوه روپئ Flat rates شی زمونږه د ټولو زمیندارو د پاره له خیره انشاءالله۔ (تالیاں) او د هغے سره سره که بیا مونږه د Food related سره امداد ورکوؤ نو بیا به په هغوی لږ Extra burden وو محترم سپیکر صاحب، ځکه چه هغوی تقریباً 187د Wheat د پاره ورکوؤ او مونږه ته دے وخت ضرورت دا دے چه مونږ Encourage کړو دغه سیکټرز ځکه چه څنګه دلته اوونیلے شو چه کمے دے مونږه ته، نو د هغے د پاره مونږه د دغے څو فصلونو د پاره Flat rate چه کوم دے، د 187نه هغه راغے انشاءالله ,Wheat growers

محترم 150 rupees هغوی بهRice growers، چه ثومره دی، Maize growers
سپیکر صاحب، Flat rates ورکوی له خیره۔ (تالیاں) د دے نه علاوه اکثر
چه به زمونږ خلق لاړل پټواریانو ته وئیل به ئے چه فرد راکړه نو هغه به ورته وئیل
چه پینځه زره راکړه، لس زره راکړه، دا د سرکار فیس دے، آمدن د سرکار وو
خو محترم سپیکر صاحب دے ته مونږ له کتل وو چه خلقو ته یو ثومره لوئے
تکلیف د هغے نه جوړ دے۔ لهذا مونږه وئیل چه د سره ئے سرخور کړو چه هډو دا
پټواری سبا وئیلے نه شی چه د سرکار فیس دے او خلقو ته هم مونږه دا یو واضحه
پیغام ورکول غواړو انشاءالله چه دا Approve شی چه د دے نه پس خلقو ته هم
دا پیغام Clear لاړ شی چه د سرکار کوم فیس وو چه خلقو به کوم ورکوؤ په فرد
باندے، هغه فیس مکمل طور سرکار حکومت ختم کړو، هغه فیس به نه وی۔
(تالیاں) بیا محترم سپیکر صاحب د انډسټریز په حواله خبره کول غواړم۔ ډیر
Important sector محترم سپیکر صاحب، زمونږ انډسټریز، هغه هم Neglect
شوی وو، هغے ته مونږه increase 112%په دے Coming financial year کښې
اوکړو او خپل کوشش به مو دا وی چه مزید دا Increase اوکړو۔ په هغے کښې
Industrial estates دی، مونږه ئے Develop کوؤ مونږه ئے جوړوو۔ په هغے
کښې څنګه چه اووئیلے شو چه ویمن کامرس کالج دے، په هغے کښې Export
Trade Centre دے په پیښور کښې محترم سپیکر صاحب، او په هغے کښې به مونږ
زیات تر هغه انډسټریز له اهمیت ورکوؤ او کوشش به کوؤ چه هغه Promote کړو
چه د کوم Rough material د دے صوبے سره تعلق ساتی ځکه چه د دغه مونږه ته
یو Clear cut advantage دے۔ د دے نه علاوه محترم سپیکر صاحب، یو بل
Important sector چه کوم دے چه په کوم به زهٔ خامخا خبره کول غواړم، هغه
واټر سیکټر دے او واټر سیکټر هغه سیکټر دے چه کوم زما په خیال زمونږ د دے
مرضونو علاج هم دے او زمونږ مستقبل هم دے۔ واټر سیکټر کښې چه څنګه بله
ورځ دے اسمبلئ قرارداد پاس کړو متفقه، زهٔ مشکور یم د ټول هاؤس، چه
کومے اوبه زمونږه نه روانے دی او نورے صوبے د خپلے حصے نه سیوا مونږ نه
اخلی نو مونږه له د هغے چارجز راکړی، خو چه هغه صوبو سره مونږه کښینو او
مونږه خبره کوؤ نو هغوی وائی تاسو چا منع کړی یئ، ستاسو اوبه دی، تاسو ئے

سنبهال کړئ او مونږه ته مه راپرېږدوئ نو مونږ به ئے نه استعمالوؤ نو ضرورت د دے خبرے دے چه مونږ دغه اوبه په خپل استعمال راولو چه دلته زمونږ په استعمال راشی، زمونږ په کنټرول کښې وی نو د دے معاوضو د غوښتو نه به هم مونږ خلاص شو او بل دا چه دلته به پرے زمونږه زمکے Irrigate شی۔ دیکښې چه کوم پراجیکټس دی، هغے کښې ټانک زام ډیم دے، کرک کښې پینځه ډیمز دی واړه، 100 tube wells and lift irrigation schemes دی، په هغے کښې په شیرنګل کښې ایریګیشن سکیم دے، په هغے کښې ډیر Important remodeling of Warsak canal دے چه کوم کښې Capacity به وی، د 300 cusics provision به وی د پیښور د پاره د اوبو ورکولو د ښځنکلو او بیا منډا ډیم چه کوم تقریباً Drop شوے وو خو ستاسو صوبے جنګ اوکړو او ستاسو صوبے کوشش اوکړو او په PSDP کښې منډا ډیم Approve دے، Allocation ورته له خیره شوے دے۔ (تالیاں) د هغے سره محترم سپیکر صاحب، زمونږه کرم تنګی او ګومل زام خو On going دی ډیر Important چه په کوم خبره خامخا کول غواړم، هغه چشمه رائټ بینک کینال دے، بالکل تاسو ډیر ښه هغه Identify کړو۔ دا زما خبره یاد ساتئ چه دا ټول پراجیکټس زمونږ د پاره ضروری دی خو زمونږ Life line چه کوم د Future دے، هغه به چشمه رائټ بینک کینال وی۔ (تالیاں) د دے صوبے مستقبل زمونږ د فوډ چه کوم کمے دے مونږ ته، د هغے بغیر د چشمه رائټ بینک کینال نه بل حل نشته۔

جناب سپیکر: لفٹ کینال۔

جناب وزیراعلیٰ: لفټ کینال او هغه انجنیئرنګ کونسل ته هم هغوی ریفر کړو، داسے چرته مخکښې نه وو شوی چه انجنیئرنګ کونسل ته ریفر شو خو شکر الحمدللّٰه چه انجنیئرنګ کونسل د هغه سخته سختئ نه هغه اووتو او انجنیئرنګ کونسل هغه کینال شکرالحمدللّٰه زمونږه Approve کړو۔ (تالیاں) اوس زما به دا خواست وی ټول پولیټیکل پارټیز ته او لیډر شپ ته، اے این پی، پیپلز پارټی، مسلم لیګ (ن)، دا خو له خیره دلته هم مونږه د یو Coalition حصه یو، که زمونږه جے۔یو۔آئی والا رونړه خیر دے، دے ځل دے ځائے کښې مونږه سره

Coalition کښې نه دی ناست خو چه کوم ځائے سره دا پراجیکټ تعلق ساتی نو هلته دوئ هم مونږه سره په Coalition کښې ناست دی، نو دوئ ته به هم مونږه دا خواست اوکړو چه مهربانی د دا اوکړی په دیکښې دے مونږه سره خپله سترے یوه کړی چه د دے د پاره له خیره مونږه دے خپلے صوبے له څه راوړو لکه چه څنګه ما ګزارش اوکړو چه دا زمونږه Life line دے۔ بیا محترم سپیکر صاحب، Hydel profits ډیر Important issue دے زمونږ د صوبے د پاره، دلته کښې په Hydel profits باندے خبره اوشوه او حقیقت دا دے چه یو ډیر عجیب وغریب صورتحال کښې مونږه هم ګهیر یو ځکه چه کوم د دے صوبے حق جوړیدو، هغه ډیر سیوا وو او چه کله بیا لاړو، صوبه او مرکز کښیناستل یو فیصلے ته نو هغے کښې چه کومه فیصله اوشوه نو هغه د هغے په حواله باندے ډیر کم Amount زمونږ راځي۔ اوس مونږ سره دوه لارے دی یا خو دا چه دا 110 بلین په ځائے پریږدو او هم هغه پسے اونخلو 300 plus او یا دویمه دا لار ده چه کم از کم څه Decide شوی دی او په کومے فیصله شوے ده چه مرکزی حکومت ته خواست او دا درخواست اوکړو چه کم از کم دا پیسے دے حکومت ته راکړی ځکه چه واپډے سراسر زیاتے کړے دے، واپډا د یو Federating unit خلاف تلے ده عدالت ته۔ واپډا اول ناسته ده، اول ئے اختیار ورکړے دے، اول ئے واک ورکړے دے، یوه فیصله شوے ده، یوه جرګه شوے ده او بیا د هغے فیصلے نه واپډا تختیدلے ده او عدالت ته تلے ده او نن هغه Amount که مونږ اوګورو چه کوم 110 بلین دی نو په هغے باندے چه کوم Interest جوړیږی، هغه Amount دے وخت کښې تقریباً 130 بلین ته رسیدلے دے خو د دے د پاره به زما خپل خواست دا وی چه دا چونکه ډیره زیاته Important issue ده او په دے ایشو باندے به مونږه وړاندے خبرے کوؤ نو زهٔ چه په دے ایشو باندے وړاندے خبره کومه، زهٔ یوائے په دے خبره باندے نه بلکه که اپوزیشن کښې وی او که په ټریژری کښې وی، چه څومره Parliamentary leaders دی، هغوی به په دے کمیټئ کښې ما سره یو ځائے کښینی او مرکزی حکومت سره به په شریکه باندے خبره کوؤ (تالیاں) ځکه چه دا د دے صوبے حق دے او نن دغه یو زمونږه سترګے دی دے ته، هغه زمیندار چه محترم سپیکر صاحب، څنګه ټول کال په دے

انتظار وی چه تماکو مے کرلے دی او گنے مے کرلے دے ، قرضے به پکښ هم خلاصوم، غم ښادی به هم پکښ کومه او نور ضروریات به هم خپل پورا کوم، دغه مثال زمونږه د دے Hydel profits دے چه هر سړے په دے طمع باندے دے چه Hydel profits به مونږه دے خپلے صوبے ته کله راوړو؟ او بیا د هغے راوړو کښ زمونږه دا فائده ده چه مونږه د Re-investment اوکړو۔ هائیډل سیکټر کښ محترم سپیکر صاحب، چه څومره گنجائش شکر الحمدلله دے صوبے کښ دے ، دومره په نور پاکستان کښ گنجائش نشته۔ اوس زۀ ډیر په فخر وئیلے شم چه د خلقو دا خیال وو چه ملاکنډ تهری چه کوم دے ، دا شیډو کوی، ملاکنډ تهری به اونکړے شی، زۀ د دے اسمبلئ د طرف نه ایریگیشن ډیپارټمنټ له او شیډو له مبارکی ورکول غواړم چه هغوی په ډیره ښه طریقه باندے ملاکنډ تهری سر ته اورسوؤ۔ (تالیاں) او هم په دغه Basis به مونږه دا Issue take up کوؤ فیډرل گورنمنټ سره چه مټلتان کښ چه کوم پراجیکټ راروان دے تقریباً د Equal capacity چه اوس د مونږ صوبائی حکومت او شیډو له دا موقع راکړی چه مټلتان هم انشاءالله مونږه په خپله اوکړو که خیر وی، دا پراونشل گورنمنټ ئے اوکړی۔ دغه شانتے چه هر ځائے کښ دا Potential دے ، د دے نه فائده اغستل پکار دی۔ آخر کښ سپیکر صاحب، Wheat subsidy باندے خبره ډیره شوے ده او په Wheat subsidy باندے به زۀ هم خبره اوکړم۔ بالکل دا ټهیک خبره ده چه په دے Financial year کښ Original allocation چه کوم Wheat subsidy ته وو، هغه 900 ملین وو، بیا دوباره 1100 ملین اوشو، 2 بلین شو، اوس چه حساب کتاب کیږی نو حساب کتاب دا راروان دے چه جی دا 5 بلین دے چه په هغے کښ د فاټا برخه هم ده۔ اوس د راروان کال د پاره محترم سپیکر صاحب، مونږه په دے بجټ کښ بالکل 2 بلین ایښودے دی او تاسو ته پته ده چه مرکزی حکومت دے ځل Wheat import کوی ځکه چه خدائے د ورسره ښه اوکړی چه د دے نه مخکښ کوم خلق په مرکزی حکومت کښ ناست وو، هغوی داسے ښکلے کار کړے وو چه اعلان ئے اوکړو چه په وړومبنی ځل باندے Wheat ډیر سرپلس دے نو راشئ دا Wheat چه کوم دے ، دا به پاکستان له خیره ایکسپورټ کوی نو څه له خیره سره Wheat وو، هغه ئے ایکسپورټ کړو او

اوس پته دا لگی چه د سره هغه Wheat surplus وو نه، الټا د Wheat کمے دے ، اوس بیا Wheat د بهر نه نور راغواړی۔ هغه Wheat دومره گران دے محترم سپیکر صاحب، چه که په موجوده ریټ باندے صوبائی حکومت په هغے باندے سبسډی ورکوی نو محترم سپیکر صاحب، تش د Imported wheat, wheat subsidy bill چه کوم دے ، هغه 11 بلین روپئ راځی، په دے 17 بلین کښ 11 بلین لویه برخه د دغے Imported wheat ده، دوه بلینه به مونږه ورکوؤ، فاټا والا به خپله برخه کوی، دا دولس بلینه به د مرکزی حکومت نه غواړو او مونږه دا توقع لرو چه راکوی به ئے راله۔ ځکه به ئے راکوی چه زما د تمباکو سنټرل ایکسائز ډیوټی کښ هغه دیرش، څلویښت اربه روپئی اوړی او هغه پرے خپل پاکستان نور آبادوی نو ما له د هم یو دولس اربه روپئ زما دے صوبے د پاره راکړی چه زما خلقو ته خیر ملاؤ شی۔ (تالیاں) او په هغے کښ به هم زما دا خواست وی چه ستاسو سپورټ به زما پکار وی او انشاءالله دا زما توقع ده، ما پرائم منسټر صاحب ته پخپله هم خواست کړے دے چه په دے حواله باندے دا Additional burden کوم زمونږ په صوبه باندے راروان دے ، دا مونږه له پورته کړی بلکه یو معمولی غوندے یو ورکوټے جنگ مونږ بل هم تاسو له گټلے دے۔ ستاسو علم کښ به وی چه په دے دوران کښ یو Proposal دا راغے چه په وړو صوبو باندے د ، په ټولو صوبو Across the board د یو Cut اولگی او په مونږه ئے هم Propose کړے وو د 10 billion cut، مونږه هغه کیس Meat کړو او شکر الحمدلله نن زه دا ډیر په اطمینان وئیلے شم چه هغه Cut به د 10 بلین زمونږ په صوبے باندے انشاءالله نه لگی، هغه لاړ ختم شو۔ (تالیاں) سپیکر صاحب، دلته کښ زما د جنوبی اضلاع ملگرو بار بار ذکر اوکړو د آئل او گیس او زمونږه چونکه Hydel profits cap شوی دی په 6 بلین، ستاسو په علم کښ ده، دا آئل او گیس محترم سپیکر صاحب، رو رو له خیره ډیر په تیزئ راروان دے ، څه د پاسه 4 بلین له خیره دے Financial year کښ مونږه ته ملاؤ شوی دی محترم سپیکر صاحب، په هغے کښ یو خو ستاسو دا خواهش وو چه مونږه ته د پیسے سیوا کړے شی Percentage، اوسه پورے د سره په اے ډی پی کښ Allocation نه کیدو تاسو ته، مونږ په اے ډی پی کښ Allocation کړے دے ،

په موجوده Percentage مو کړے دے ، هغه به کم وی، سیوا کول هم غواړی، د هغے هم ما سره احساس دے خو مونږ درته دا Allocation اوکړو چه کم از کم دا پیسے څوک او نه خوځوی۔ چه کوم ځائے کښې Tobacco growing areas دی، د هغے د پاره مونږه Allocations په اے ډی پی کښې نیغ په نیغه اوکړو د ټوبیکو سس د پاره۔ چه کوم ځائے کښې Hydel generation له حصه جوړیږی، د هغه ډسټرکټس د پاره مو اوکړو په هائیډل کښې او چه کوم ځائے کښې د ګیس رائلټی راځی، په هغے کښې مو نیغ په نیغه Allocation اوکړو په اے ډی پی کښې ستاسو د پاره چه په هغے کښې راشی، هغه له خیره انشاءالله (تالیاں) او په دیکښې زهٔ به دا هاؤس په اعتماد کښې واخلم چه یو بل Proposal هم دے ځکه چه څنګه ما تاسو ته اووئیل چه دا هم اوس زمونږ یو Future دے۔ راروان نسلونه به راځی او دا یاد ساتئ ہائیډل جنریشن، آئل اینډ ګیس او زمونږ Water reservoirs، دا زمونږ د صوبے مستقبل دے۔ دیکښې یو بل تجویز هم زمونږ دے چه ایریګیشن محکمه په خپل ځائے باندے خو د آئل اینډ ګیس دا سیکټر اوس ډیر لوئے شو، پروپوزل زمونږ دا دے چه د آئل اینډ ګیس د پاره د مونږ یو بیل انرجی ډیپارټمنټ جوړ کړو چه هغه تش د آئل اینډ ګیس د پاره Cater کوی او د دے معاملات هغه طے کوی له خیره انشاءالله۔ (تالیاں) ځکه چه په دیکښې ډیر Potential دے۔ بیا محترم سپیکر صاحب، آخر کښې به خبره کول غواړم د هغے چهتړئ چه ډیر ذکر ئے شوے دے (تالیاں) او زهٔ نه پوهیږم چه دا چهتړئ به څنګه نیسو؟------

جناب سپیکر: دا چهتړئ به دومره کوئ لکه د دے هال هومره نو هله به پکښې راځو۔

جناب وزیراعلیٰ: خو بار بار دا یوه خبره کیدله چه جی ګورے د دے چهتړئ لاندے مونږه یاد ساتئ۔ حقیقت دا دے چه په یو سسټم کښې څه خرابی نه وی، Implementation چه تاسو په کومه طریقه کوئ، خرابی په هغے کښې وی۔ Umbrella scheme as such څه بد شے نه دے خو هله که د هغه امبریلا سکیم لاندے تقسیم مساوی اوشی او په Need basis باندے اوشی۔ محترم سپیکر صاحب! ما دوه، دوه نیمے میاشتے وخت چه د دے چهتړئ لاندے تیر کړے دے ،

که په هغے کښ ما خدائے مه کړه، چا سره بے انصافی کړے وی نو زهٔ به ئے په راروان کال کښ اوکړم او چه په هغے کښ مے بے انصافی نه ده کړے نو تسلی ساتئ انشاءالله چه په راروان کال کښ به ئے هم نه کوم۔ (تالیاں)

یو گزارش به ضرور اوکړم محترم سپیکر صاحب، په دے امبریلا کښ بعضے سیکیمز داسے هم دی نوے لکه نوے پرائمری سکولز، بیا د پرائمری سکولز اپ گریډیشن، بیا د مډل سکولز اپ گریډیشنز دی، کالجز دی پکښ، ډسپنسریز دی، بی ایچ یوز دی، آر ایچ سیز دی، زهٔ به یو ریکویسټ کوم د دے نه بالاتر محترم سپیکر صاحب، چه څوک د حکومت سره تعلق ساتی او څوک د اپوزیشن سره تعلق ساتی، چه د دغے مخصوص سیکیمز مونږه تقسیم کوؤ، زما به دا یو خواست وی چه هغه تقسیم د مونږه په Need basis باندے اوکړو چه کومے علاقے کښ زیات ضرورت دے او کوم علاقے سره حق تلفی شوے ده، چه هغے علاقے ته ملاؤ شی۔ (تالیاں) ځکه چه په یو ځائے کښ به محترم سپیکر صاحب، په پینځه کلومیټره کښ لس سکولونه پکار وی، هلته به دیرش جوړ شوی وی۔ په بل ځائے کښ، په یو بله علاقه کښ به په پینځه کلومیټره کښ دننه دوه سکوله هم نه وی، نو زما په خیال د هغه علاقو هم لږ ډیر حق جوړیږی او دا زهٔ هله کولے شم، زما په سر کښ دومره خوروه نشته محترم سپیکر صاحب، دا ټول ډیر زورآور خلق چارچاپیره ما نه ناست دی، خو که دا ټول هاؤس په دے ما سپورټ کوی نو مونږ به Need basis باندے دا بعضے سکیمز کم از کم هغے علاقو له ورکولے شو چه کومو علاقو کښ د دے زیات ضرورت دے۔ دغه یو خواست به مے وی محترم سپیکر صاحب۔ او آخر کښ زما مشر نن نشته، ما وئیل چه زهٔ به ترے معذرت غواړم، زهٔ هغه ورځ نهووم، د محترم اکرم درانی صاحب سپیچ وو او هغوی وئیل چه ډیر د افسوس خبره دا ده چه نن چیف منسټر نشته، په هغه ورځ باندے د لاء اینډ آرډر سره Related meeting وو او فیډرل گورنمنټ والا راغلی وو، ټوله ورځ مونږه په هغے کښ تیره کړے وه، رحیم داد خان صاحب هم مونږه سره یوځائے وو نو ما خو وئیل نن به اکرم درانی صاحب موجود وی، زهٔ به د هغوی نه بخښنه اوغواړم چه دا گستاخی ما نه هغه ورځ شوے ده چه زهٔ نه ووم خو بهرحال هغوی د بنوں په حواله هم خبره کړے وه د On going

schemes پہ حوالہ نو تش دومرہ بہ اووایمہ چہ پہ موجودہ اے ډی پی کښې، 2008-09 کښې د بنوں پہ حوالہ باندے On going schemes هم دی، د هغوی څه بعضے نوے هم دی، 550 ملین روپئ د بنوں د پارہ دی چہ خپلہ اپوزیشن لیډر صاحب تہ اووایمہ۔ دا پہ دے وایم چہ هیڅ فرق مونږ کښې نشتہ محترم سپیکر صاحب، کہ زۀ نن چیف منسٹر یمہ، ما لہ هم د یو حلقے خلقو ووټ راکړے دے او زۀ منتخب کړے یم او کہ ما تہ مخامخ زما دا مشر ناست دے یا زما هغہ بل ورور ناست دے ، هغہ هم د یو حلقے خلقو منتخب کړے دے او دلتہ ئے رالیږلے دے۔ دا نہ دہ چہ چیف منسٹر لہ د لسو حلقو خلقو ووټ ورکړے دے او هغہ ئے منتخب کړے دے۔ دا احساس ما تہ دے چہ د هرے حلقے خپلے تقاضے وی او د هغے خپل ضروریات دی او پہ تاسو ټولو باندے پریشر دے د خپلو ووټرانو د طرفہ چہ تاسو څہ نہ څہ اوکړئ او کہ دا ټول امبریلا او دا ټول هر څہ تاسو راغونډ کړئ او حساب کتاب پرے کوئ نو حقیقت دا دے چہ دا څنګہ وایئ چہ پینځہ پینځہ کروړہ مونږہ لہ راکړئ نو کہ پہ دے تاسو حساب کتاب اوکړو نو دا د پینځو کروړو روپو نہ هم سیوا کیږی چہ سرہ د چهترئ ئے حساب کوئ محترم سپیکر صاحب، د هغے نہ بغیر نہ۔ البتہ زما دے خوئیندو یو ګلہ کړے وہ چہ جی فرق کیږی، نو زۀ بہ دومرہ خواست اوکړم چہ خپلے یو یو کروړ روپئ چہ کوم د تعمیر سرحد پروګرام دی، هغہ خو بہ انشاءاللہ زما دے خوئیندو تہ خامخا ملاویږی خو چہ کومو علاقو سرہ تاسو تعلق ساتئ نو خامخا د هغے علاقے یو Elected MPA هم شتہ او یو یقینی خبرہ دا دہ چہ پہ هغہ علاقو کښې بہ تاسو خپل Contribution کول غواړئ، زما بہ دے ټول هاؤس کښې Directly elected MPAs تہ، خپلو مشرانو تہ او خپلو رونړو تہ دا خواست وی چہ پہ خپلو خپلو علاقو کښې تاسو امبریلا سکیمز کښې Identification کوئ نو مهربانی دا اوکړئ دا خوئیندے ځان سرہ کښینوئ او د دوئ نہ صلاح او د دوئ نہ مشورہ واخلئ چہ د دوئ پہ صلاح او پہ مشورہ باندے ئے اوکړئ۔ (تالیاں) محترم سپیکر صاحب، دا راتہ احساس دے او ستاسو مشکور هم یم چہ ټلئ مو راپسے نہ دی وهلے څکہ چہ کہ پہ هغہ حساب مو راپسے ټلئ وهلے نو زما پہ خیال اوسہ پورے بہ مو راپسے پنځلس شل وهلے وے خو ستاسو مشکور یمہ چہ تاسو رالہ دومرہ

موقع را کړه۔ د ټول هاؤس مشکور یمه چه کوم Positive او Fruitful debate دلته له خیره اوشو او بیا به دا اووایم چه خامئ به هم وی، مشکلات به هم وی خو ستاسو اصلاح او ستاسو رہنمائی زمونږه د پاره لازم ده۔ ستاسو د ټولو ډیره مهربانی، ډیره مننه۔ (تالیاں)

جناب سپیکر:اوس یوه خبره زما واورئ۔ یو ممبر صاحب، شاه حسین او یو بی بی درپسے ډیر زبردست ډیسکونه اودرزول نو د دوئ پکښ خصوصی خیال اوساتئ۔ میں اپنے ان ممبران صاحبان سے معذرت کرونگا جن کو آج وقت کی کمی کی وجہ سے اس اوپن ڈسکشن میں تقریر کا موقع نہ مل سکا۔ میں ان کو یقین دلاتا ہوں کہ ہاؤس آپ کا ہے، Next time آپ کو سب سے پہلے اور سب سے زیادہ ٹائم دونگا۔ Thank you very much. The sitting is adjourned till 9.30 a. m.of tomorrow morning. Thank you.

---

(اسمبلی کا جلاس بروز منگل مورخہ 24 جون 2008 صبح ساڑھے نو بجے تک کیلئے ملتوی ہو گیا)